راشي پس د دې نه اووه کاله سخت چه او به خوري هغه غله چه تاسو مخکښې سپال کړې وه د

لَهُنَّ اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ۝ ثُمَّ یَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

دوه لوه مګر لږه چه تاسو به ئې بچ کوئ - بیا به راشي روستو د دې نه

عَامٌ فِیْهِ یُغَاثُ النَّاسُ وَ فِیْهِ یَعْصِرُوْنَ ۝ وَ قَالَ الْمَلِكُ

کال چه په هغه کښې به باران اوشي په خلقو او په هغه کښې به شیره نچوړ کړي - او ووې بادشاه چه

ائْتُوْنِیْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰی رَبِّكَ

راولئ ما ته - نو کله چه راغی هغه ته استازی نو هغه او وې چه واپس شه مالک خپل ته

فَسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِیْ قَطَّعْنَ اَیْدِیَهُنَّ ؕ اِنَّ

نو تپوس ترینه او کړه چه څه حال دی د هغو ښځو چه پرې کړي وو لاسونه خپل - یقینًا چه

رَبِّیْ بِكَیْدِهِنَّ عَلِیْمٌ ۝ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ یُوْسُفَ

رب زما په فریب د دوی باندې پوهه دې - او وې هغه چه څه حقیقت دی تاسو سره چه کله تاسو طلب او کړو د

عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ

یوسف نه د نفس د ده - او وې دوی سبحان الله مونږ نه یو خبر په هغه کښې د بدۍ -

قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ؗ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ

او وې ښځې د عزیز اوس ظاهر شو حق - ما طالبه کړې وه د ده نه

عَنْ نَّفْسِهٖ وَ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ۝ ذٰلِكَ لِیَعْلَمَ اَنِّیْ

د نفس د ده او یقینًا دې د رشتونو نه دې (او وې یوسف ع چه) دا د دې دپاره چه پوهه شي (عزیز) چه ما

لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَیْبِ وَ اَنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِیْ كَیْدَ الْخَآئِنِیْنَ ۝

عزیز چه ما خیانت نه دې کړې په پټه او یقینًا الله نه کامیابوي فریب د خیانت کوونکو -

کار به پېښ شي خلق به وائي چه
دا خو هغه دې چه په دې غلط
کار کښې قید شوې وه نو د هٔ
د خپله صفائي د پاره بادشاه
ته او وې چه اول خو صفائي او کړه
او زهٔ خپله صفائي الله تعالیٰ ته
نه کووم هغهٔ ته حقیقت د
حال معلوم دې خو زهٔ غواړم چه
خلقو ته او دوم چه د دعوت
کار خراب نهٔ شي - بادشاه
ښځې راجمع کړې او تپوس ئې
ترینه او کړو نو هغو اقرار
او کړو چه د یوسف علیه السلام
هیڅ قصور نیشته د راعیل
عشق او س کمال ته رسیدلې وه
نو خپل خاوند ئې تهمت برداشت
کولې شوه او مخکښې چونکه د د
عشق کامل نه وه نو ځکه
ئې تهمت په یوسف علیه السلام
لګولې وه نو اوس ئې اقرار
او کړو چه غلطي زما وه او
یوسف علیه السلام رشتونې
دې یوسف علیه السلام
او فرمائیل چه دا تحقیق ما
ځکه او کړو چه عزیز ته
پته او ګلي چه ما خیانت د
هغهٔ نه دې کړې او کړې به
ما کښې غلطي وې نو خیانت
کړو د و که نه کامیابه یوې
او زهٔ د خپل ځان صفائي نه
کووم ځکه چه د نفس غوښتنه
یم او نفس خو بد حکم کوي
البته په چا رحم الله تعالیٰ
او کړي نو هغه بچ شي نبي کریم
صلی الله علیه وسلم فرمائي چه ما سره هم شیطان شته خو الله تعالیٰ زما سره امداد کړې دې نو هغه مسلمان شوې دې
او زهٔ ترینه بچ شوې یم نو هغه ما ته ښهٔ خبره کوي دغه دې عصمت د انبیا ؑ چه د مسلمانانو اتفاق مسئله ده ۱۲

ع ۶ ۱۶

[illegible]

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِیْ ۚ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ

او پاک نه وایم نفس خپل ته. یقینا نفس حکم کوی په بدۍ. مګر کوم چې رحم اوکړی

رَبِّیْ ؕ اِنَّ رَبِّیْ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۵۳﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِیْ بِهٖۤ اَسْتَخْلِصْهُ

رب زما. یقینا رب زما بخښونکی او مهربان دے. او اوویل بادشاه چې راولئ ما ته دے خاص به ئې کړم

لِنَفْسِیْ ۚ فَلَمَّا كَلَّمَهٗ قَالَ اِنَّكَ الْیَوْمَ لَدَیْنَا مَكِیْنٌ اَمِیْنٌ ﴿۵۴﴾ قَالَ

لپاره د ځان خپل. نو هر کله چې خبرې اوکړې ورسره نو اوویل یقینا ته نن زمونږ سره مرتبه والا امین ئې. اوویل

اجْعَلْنِیْ عَلٰی خَزَآئِنِ الْاَرْضِ ۚ اِنِّیْ حَفِیْظٌ عَلِیْمٌ ﴿۵۵﴾ وَكَذٰلِكَ

اوګرځوه ما په خزانو د زمکې. یقینا زه حفاظت کوونکی پوهه یم. او دغه شان

مَكَّنَّا لِیُوْسُفَ فِی الْاَرْضِ ۚ یَتَبَوَّاُ مِنْهَا حَیْثُ یَشَآءُ ؕ نُصِیْبُ

قدرت ورکړو یوسف ته په زمکه کښې. استوګنه به ئې کوله په هغې کښې چې هر چرته به ئې خوښه شوه. رسوو

بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَآءُ وَلَا نُضِیْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۵۶﴾ وَلَاَجْرُ

مهربانی خپله چا ته چې مونږ ئې خوښه کړو او نه ضائع کوو مونږ ثواب د نیکانو. او ثواب د

الْاٰخِرَةِ خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا یَتَّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَجَآءَ اِخْوَةُ

آخرت ډېر غوره دے هغو لره چې ایمان ئې راوړی او وو چې ځانونه ئې ساتل. او راغلل وروڼه د

یُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَیْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَلَمَّا

یوسف نو داخل شول هغه ته نو وې پېژندل هغه دوی او دوی نه پېژندلو. او هر کله چې

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِیْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِیْكُمْ ۚ اَلَا

تیار کړو دوی لره سامان د دوی نو اوویل راولئ ما ته ورور خپل د پلار ستاسو نه. آیا تاسو

تَرَوْنَ اَنِّیْۤ اُوْفِی الْكَیْلَ وَاَنَا خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۵۹﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِیْ

نه وینئ چې زه پوره ورکوم پیمانه او زه غوره میلمه پال یم. نو که رانه وړلو تاسو هغه ما ته

[illegible]

[illegible]

له حركله چه د يوسف عليه السلام رونړه واپس د پلار خدمت ته راغلل نو او ئې ووئيل چه پلاره زمونږ نه به بار غله منع شوه
ځکه چه زمونږ سره ورور نه وو ... زمونږ سره اوليږه نو ... غله به راوړو او مونږ به د ده ساتنه کوو

فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ ۝ قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ

نو نشته به وی غله تاسو له زما په نزد او مه به راځئ نزدې ما ته. ووئيل هغوی چه طلب به اوکړو د

أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ۝ وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي

پلار د هغه نه او مونږ به ضرور دا کار کوو. او اووئيل خادمانو خپلو ته چه کيږدئ نقدي د دوی په

رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ

بارونو د دوی کښې چه پيژني دوی به دا کله چه واپس شي کور خپل ته اميد دے چه دوی به

يَرْجِعُونَ ۝ فَلَمَّا رَجَعُوا إِلَىٰ أَبِيهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ

واپس راشي. نو کله چه واپس لاړل دوی پلار خپل ته ووئيل اے پلاره منع شوه زمونږ نه بار

فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ۝ قَالَ هَلْ

غله نو اوليږه زمونږ سره ورور زمونږ د چه غله راوړو او مونږ به د ده ساتونکي يو. ووئيل ايا

آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا أَمِنْتُكُمْ عَلَىٰ أَخِيهِ مِنْ قَبْلُ فَاللَّهُ

اعتبار اوکړم په تاسو په ده مګر لکه څنګه چه اعتبار کړی وو ما په تاسو په ورور د ده مخکښې نو الله

خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ۝ وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ

ښه ساتونکې دے او هغه ډير زيات مهربان دے. او کله چه اوسپړلو دوی سامان خپل

وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي هَٰذِهِ

نو بيا ئې موند نقد خپل چه واپس شوې ده دوی ته. نو اووئيل دوی اے بابا نور څه غواړو مونږ دا زمونږ

بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ

نقد دے چه واپس شوے دے مونږ ته. او غله به راوړو اهل خپل ته او ساتنه به کوو د ورور خپل او زيات به راوړو

بَعِيرٍ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ۝ قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ

يو بار اوښ. دا غله ده آسانه. او ووئيل هغه چه هيڅکله هم نه ليږم دا تاسو سره ترڅو چه راکړئ ما ته

زمونږ سره لاړ نشي نو به مونږ ته غله نشي راکولی خو يعقوب عليه السلام ورته اوويل چه ما مخکښې هم په تاسو اعتماد کړی وو او د يوسف عليه السلام په باره کښې مو تاسو خيانت اوکړلو البته حفاظت ساتل د ورور د خدای تعالی دے هغه ټولو نه زيات مهربان دے. نو چه دوی سامان اوسپړلو نو خپل خپل نقدي پکښې واپس بيا موندو نو پلار ته ئې اوويل نور څه غواړو مونږ دوی هم ښه دے زمونږ نقد ئې هم راته واپس کړے دے او پلار ته ئې اوويل هغه ډير مهربان او مهربان دے ... بابا زمونږ سره ورور را اوليږه غله به راوړو او د ورور حفاظت به هم کوو او يو بار غله به زيات راوړو يعقوب عليه السلام اووئيل چه هيڅ کله ئې نه ليږم ستاسو سره ترڅو چه تاسو ما سره وعده نه وي کړي چه تاسو به ما ته دے ضرور راولئ البته که تول ګير شوئ نو بيا خو به تاسو ته ګناه نه وی نو دوی د خپل پلار سره وعده اوکړه او قسمونه ئې ورته اوکړل چه مونږ به ضرور درته راولو

١٣ نو يعقوب عليه السلام او وئيل چه الله تعالی زمونږ په ... [illegible] ... ١٤

١٢،١٣ (ما نبغي) ... کيل معنی پيمانه يعنی ... غله يا جو ... مناسب معنی مراد وی

چه ورسره ئے یو بار اوښ نور هم زیات شي . دا بار لږ دے اسان دے په پاچا باندے. دغه شان يوسف عليه السلام هم د خپل پلار او د وروڼو عزت اوکړو او د يوسف عليه السلام د ورور ملاتړ ئے اوکړو او يعقوب عليه السلام

مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِیْ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ یُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ

وعده د الله چه خامخا به راولئ تاسو دے ما ته مګر دا چه ګیر شئ تاسو . پس هرکله چه ورکړه دوئ ورته

مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰی مَا نَقُوْلُ وَكِیْلٌ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ یٰبَنِیَّ

دا وعده د خپله او وئیل هغه چه الله په هغه خبره چه وایو مونږ ګواه دے . او اووئیل هغه اے بچو !

لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ

مه ننوځئ تاسو ټول په یوه دروازه او داخل شئ په جدا جدا دروازو باندے .

وَمَآ اُغْنِیْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَیْهِ

او نه شم بچ کولے تاسو د الله تعالیٰ د څه حکم نه . نه دے حکم مګر د الله په هغه مے

تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَیْهِ فَلْیَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَیْثُ

توکل کړے دے او خاص په هغه دے توکل اوکړي توکل کونکي . او هرکله چه داخل شو دوئ له هغه طرف چه حکم

اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ یُغْنِیْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ اِلَّا حَاجَةً

ورته کړے وو پلار د دوئ نه شو بچ کولے دوئ لره د الله تعالیٰ د څه حکم نه مګر دا یو خواهش وو

فِیْ نَفْسِ یَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ

په زړه د یعقوب علیه السلام کښے چه پوره ئے کړو . او یقیناً دے خاوند د علم وو په هغه چه مونږ ورته ښودلي وو خو لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰی یُوْسُفَ اٰوٰۤی اِلَیْهِ

زیات خلق نه پوهیږي . او هرکله چه داخل شو دوئ په یوسف علیه السلام نو ځان سره ئے کښینولو

اَخَاهُ قَالَ اِنِّیْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا

ورور خپل او وئیل هغه یقیناً زه ستا ورور یم نو مه خفه کیږه په هغه کار چه دوئ کوي . نو هرکله چه

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَایَةَ فِیْ رَحْلِ اَخِیْهِ ثُمَّ اَذَّنَ

تیار ئے کړو دوئ لره سامان د دوئ نو کیښودو هغه کاسه په بار د ورور خپل کښے بیا اعلان اوکړو

د بد نظر نه وېرېدو لو څو خپلو ځامنو ته ئے اووے چه په یوه دروازه مه ننوځئ ... خدائے عذاب دے ... تاسو نه شم ... او هر چا لره دا کار په ځانګړي ... صرف په الله تعالیٰ اوکړي ... یعقوب علیه السلام ... د الله تعالیٰ تقدیر ... توکل ... صلی الله علیه وسلم ... یعقوب علیه السلام چه ... بد نظر ... حق دے ... د الله تعالیٰ ... برکت ...

او چه نظر ... مشغول ... سره توحید ... یوسف علیه السلام ...

دیانه د (۳۵ نه) حضور ته او رسید ل خوره ئې ورو له ئې کرے ورکړے او خپل رور ئې خپل ځائے ته بوتلو او خپل تعارف ئې ورکړو
او ورته ئې اووئیل چې زۀ ستا رور یم نو دوی چې څه ظلم تا سره کړے دے مه غمیږه ۱۲ ۔ ستله خوره رور یوسف علیه السلام ته

مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِم مَّاذَا

اعلان کوونکې چې اے قافلے والو یقیناً تاسو خو غلا یئ۔ حفوا دوئ او مخ ئے کړو دوئ ته چې څه شئ

تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَن جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ

ورک شوے ستاسو؟ دوی اوویل چې ورک مونږ او دے د بادشاه او که چا را وړي دا نو هغه لره بار د اوښ

وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ

او زه ئے ذمه وار یم۔ حفوا اوئے قسم دے چې تاسو ته معلومه ده چې نه یو راغلي چې وران او کړو

وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِن كُنتُمْ كَاذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا

په زمکه کښے او نه یو غلا کوونکي۔ او ئے ووئیل نو څه ده جزا د هغه که تاسو دروغ ژن یئ۔ او ئے ووئیل

جَزَاؤُهُ مَن وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ كَذَٰلِكَ نَجْزِي

جزا د هغه چې د چا په بار کښے پیدا شو نو هغه به جزا وي د دغه غلا۔ او دغسے بدله ورکوو مونږ

الظَّالِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا

ظالمانو ته۔ نو شروع اوکړه هغه په بارو لو د دوی نه مخکښ د بار د رور د خپل نه بیائے راویستو هغه

مِن وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ

او که د بار د رور د خپل نه۔ دغسے تدبیر جوړ کړو یوسف له۔ نه شو اخستے دۀ رور د خپل لره

فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاءُ وَ

په قانون د بادشاه کښے مګر که رضا شوی الله۔ پورته کوو مونږ درجے د هغه چا چې خوښه مونږ او

فَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾ قَالُوا إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ

د پاسه د هر یو عالم نه بل پوه عالم دے۔ حفوا دوئ که غلا کړې وی دۀ نو د ده رور هم غلا کړے وه

لَّهُ مِن قَبْلُ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ قَالَ

پخوا۔ نو پټه کړه دا خبره یوسف په زړه خپل کښے او ښکاره ئې نه کړه دوی ته۔ هغه اووے

او ورته چه زۀ خوره اپس او دغم نه د یوسف په حکم ورته دلته او کړے د هغه په بار کښے کیخوده خو ورته ګران خبر دے او نو هغوی تلاش شروع کړو (ګوره دے ګوره) ستله یعني قول دے د مالک د غلا سرو کوونکي په موقع د غلا کښے ۱۲

سله یعني د یوسف دا د رور د پاتے کیدو تدبیر خدائے تعالیٰ راپه ګوته کړو یوسف علیه السلام هم دا ګوښته او خدائے تعالیٰ عالم و د دربادشاه حکم نه او کړه خدائے تعالیٰ د خپلو دوستانو حاجت پوره کوی ۱۲

د غائب د یوسف او مخ د دے خو د خدائے تعالیٰ نه ګو او غواړي چې انصمولی ما مومن کړه وائے سوال غلط دے چې اے الله د دے لاری کړه حکم چې زما ورکړے او مومن بنده نے خدائے تعالیٰ بغیر د زړه همت مزل کوے شی ۱۲

سله د بادشاه د قانون په حق او کړ غلا د چند تاوان وی ۱۲

سله دا سلسله د ترقی د علم تر الله پورے ده ۱۲

سله د یوسف علیه السلام لوئی او ورے کړ د غلا کړے وی خو دا نا اشنا خبره نه ده مخکښے د دۀ یو رور هم غلا کړے وه دا یو غلط تهمت ووئی د یوسف علیه السلام په ځوړ

په وړو کښې او لګاؤ نو یوسف علیه السلام ور ته او وئے دا تاسو څه کښے وړے وائی کله وائی چې موږ غلا کړے یو او کله وائی چې وړے او ګڼ ده رور دوا په غلا کړے ۱۲

أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ

چه تاسو نا كاره يئ په مرتبه كښې. او الله ښه پوهيږي په هغې چه بيانوئ تاسو. او وئيل هغوئ اے عزيزه! ده لره

لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ ۖ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾

دے پلار زوړ بوډا. نو واخله يو زمونږ نه په ځائے د ده. يقيناً مونږ وينو تا د نيكانو نه.

قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِندَهُ إِنَّا

او وئيل هغه پناه غواړم د الله نه چه ونيسو يو څوك مګر هغه څوك چه موندلے مو سامان خپل د هغه سره نو

إِذًا لَّظَالِمُونَ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا ۖ قَالَ كَبِيرُهُمْ

نو مونږ به ظالم شو. نو چه كله نا اميده شول هغوئ د هغه نه نو جدا شول مشوره كوونكي. ووئيل مشر د هغوئ

أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ اللَّهِ وَمِن

آيا پوهه نه يئ چه پلار ستاسو اخستے ده وعده د الله نه او پخوا

قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِي يُوسُفَ ۖ فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِي

د دې نه څه قصور كړے دے تاسو په حق د يوسف كښې. نو هيڅكله به جدا نه شم د دې زمكې نه تر دې چه اجازت راكړي ما ته

أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللَّهُ لِي ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ

پلار زما يا حكم اوكړي الله ما ته. او هغه ښه حكم كوونكے دے. واپس شئ پلار خپل ته نو

فَقُولُوا يَا أَبَانَا إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا

ورته اووايئ چه اے پلاره يقيناً ستا ځوئ غلا كړې ده. او مونږ خبره نه ده كړې مګر موافق د علم خپل او نه

كُنَّا لِلْغَيْبِ حَافِظِينَ ﴿٨١﴾ وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا وَالْعِيرَ

يو مونږ د غيب ساتونكي. او تپوس اوكړه د هغه كلي نه چه مونږ پكښې وو او د هغه قافلې نه

الَّتِي أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

چه راغلي يو په هغې كښې. او يقيناً مونږ رشتيني يو. هغه ووئيل بلكه ښائسته كړې ده تاسو

[illegible]

أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ

نفسو ستاسو يو خبره ـ نو صبر ښه دی ـ اميد دی چه الله به راولي ماته دوی

جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿۸۳﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا أَسَفَىٰ

ټول ـ يقيناً صرف الله په حقيقه پوهيدونکی حکمت والا دی ـ او مخ ئې واړه ولو ترې نه او وئې ويل چه ارمان

عَلَىٰ يُوسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿۸۴﴾

په يوسف باندې او سپينې شوې سترګې د هغه د غم نه نو دی د غم نه ډک وه ـ

قَالُوا تَاللَّهِ تَفْتَأُ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ

هغوی ووې قسم دی همیشه به یادوې ته يوسف لره تر دې چه وشې ډېر بوډا او يا

تَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ ﴿۸۵﴾ قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي

به مړ شې ـ هغه ووې يقيناً بنکاره کووم بې قرارئ خپله او غم خپل

إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۸۶﴾ يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا

الله ته او پوهيږم زه د طرفه د الله نه په هغه چه تاسو پرې نه پوهيږئ ـ اے ځامنو لاړ شئ نو تلاش وکړئ

مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ

د يوسف او د ورور د هغه او مه نا اميده کيږئ د مهربانئ د الله تعالى نه ـ يقيناً نه نا اميده کيږي

مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا

د رحمت د الله نه منکر قوم کافر ـ نو چې کله چه لاړل ورته د هغه مخکې او ئې ووې

يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ

اے سردار رسيدلې دے مونږ ته او اهل زمونږ ته تکليف او راوړې دی مونږ سامان کم ته

فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿۸۸﴾

نو پوره راکړه مونږ ته غله او خيرات اوکړه په مونږ ـ يقيناً الله بدله ورکوي خيرات کوونکو ته ـ

ك کمزورې شو نظر د هغه او کړ روند والى مراد دی نو بيا به وخت د د موت د صفت ختم وی ۱۲ (قاسمی) په پيغمبرانو باندې الله تعالى په وخت د د موت کښې دا سې مرض نه راولی چه د د موت سره منافی وی ۱۲

ك د اطلاق د هلاک د خدايے تعالى په دوستانو باندې سپورادب دے ۱۲

ك چه د يوسفى حاجت وی نو هغه به دا دعا کوی (إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ) بې شک و شيکيږی سخت تکليف ته ۱۲

ك د خدا ے تعالى د رحمت اميد او د هغه د غضب نه ويره ايمان دے ۱۲

ك دا خبره ئې ځکه او کړه چه د يوسف عليه السلام په دوی ترس راشی ۱۲

له او وحي نقل پوره ته کړي د نور حقيقته او نيږي نه وو ۲ — ۳ — پوه کړه چه ځان ساتل او صبرکوي په ځان ساته کړه د نور نه و نقصان د شيطان دے حقه زمونږ ۴ — ۵ چه تاسو هغه ملامتيا نوشيته چه او دور کوي ۱۲

قَالَ هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ ﴿٨٩﴾

وئيل او ويے آيا معلوم دے تاسو ته هغه کار چه کړے تاسو د يوسف او د ورور د هغه سره کله چه تاسو جاهلان وئ

قَالُوا أَإِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَٰذَا أَخِي ۖ قَدْ

هغوی او وئيل آيا يقيناً ته خو يوسف يې . هغه او ويے زه يوسف يم او دا ځما ورور دے . يقيناً

مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا ۖ إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ

احسان کړے دے الله په مونږ باندے ځکه چه هغه څوک چه ځان ساتي او صبر او کړي نو بے شکه الله نه ضايع کوي ثواب

الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِن كُنَّا

د نيکانو . هغوی او وئيل قسم دے په الله يقيناً غوره کړے يې ته الله په مونږ او يقيناً مونږ يو

لَخَاطِئِينَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ

گناهگار . هغه او ويے نشته ملامتيا په تاسو باندے نن . بخښنه به او کړي الله تاسو ته . او هغه

أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٩٢﴾ اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ

ډير مهربان د ټولو مهربانانو . يوسئ دا قميص ځما نو واچوئ دا په مخ د

أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ

بابا ځما نو شي به ليدونکے . او راولئ ما ته کورونه خپل ټول . او چه کله جدا شوه دا

الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾

قافله د مصر نه او ويے پلار د دوی يقيناً زه مومم خوشبوئي د يوسف که تاسو ما نا پوهه نه وائئ

قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ

هغوی او وئيل قسم دے په الله يقيناً ته په هغه زوړ غلطئ کښے يې . نو چه کله چه راغے زيرے راوړونکے

أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا ۖ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي

نو واچوله دا په مخ د هغه نو شو ليدونکے . هغه او ويے آيا تاسو ته نه وو وئيلي ما چه زه

له او وحي نقل پوره ته کړي د نور حقيقته لره بنيئ به . او دور کوي ۱۲

۲ دښمن دے ۲ حقيقته کښے

کله چه تاسو اقرار او کړو نو الله تعالیٰ به تاسو او بښي او کري څوک چه اقرار او کړي او به عذاب شي نو الله تعالیٰ ورته بښنه کوي ۱۲

سے ته پلار مور او کوم مهربان نه دے الله تعالیٰ مهرباني زياته ده ۱۲

سے دا خبره ورته په وحئ سره معلومه شوي وه ۱۲

لے دا عجائب د قدرت د باري تعالیٰ دي چه د کنعان په کوهي کښے ورته هغه الله تعالیٰ نه خودو او د مصر نه ورته خوشبوئي د قميص رسوي ۱۲

سے يعني دا ستا ځوانئ وهم دے ۱۲

۸ دا هغه خلک دي چه د ورونو سره قميص پلار له وړے وه او دوی ورله خوشبوئي په قميص وړے ۱۲

۹ يعني په وحئ سره راته دا معلومه وه چه يوسف مړ نه دے ۱۲

گہے بر طارم اعلیٰ نشينم
گہے بر پشت پائے خود نه بينم
(سعدی) يعني معجزه د پيغمبر او کرامت د ولي په اختيار کښے نه وي ۱۲

ع ۱۰

ربع

له بخښنه به درستو کړم ځکه حق دی یوسف علیه السلام وه او بدلې ژ قبلیږي وخت ته بخښنه درستو کړم سے

أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝ قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا

پوهیږم زه د الله د طرف نه په هغه شي چه تاسو پرې نه پوهیږئ. ۔ وویل دوی اے پلاره بخښنه وغواړه موږ له د ګناهونو

إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ ۝ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي ۖ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ

زمونږ یقیناً موږ وو ګناهګار. ۔ هغه ووې زه به بخښنه وغواړم تاسو له د رب خپله ۔ یقیناً هغه بخښونکے او

الرَّحِيمُ ۝ فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ

مهربان دے. ۔ نو هرکله چه لاړل د یوسف خواته نو ځائے ئے ورکړو خپل ځنګ کښے مور او پلار خپل ته او

ادْخُلُوا مِصْرَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ ۝ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى

اوئے وئیل چه داخل شئ مصر که رضا شي د الله په تسلۍ سره ۔ او پورته ئے کړل مور او پلار خپل تخت

الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَا أَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ

ته او ټول پرېوتل هغه ته په سجده. ۔ او ووې ئے اے پلاره دا د خوب زما اول نے تعبیر

مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي

دے ۔ یقیناً کړو دغه خوب لره رب زما رښتونے ۔ او یقیناً احسان ئے او کړو زما سره چه را وئے ویستم

مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزَغَ الشَّيْطَانُ

د قید نه او راوې وستل تاسو د کلي نه پس د هغې نه چه فساد غورځولے وه شیطان

بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي ۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ

په مینځ زما او د ورونو زما کښې ۔ یقیناً رب زما تدبیر کوونکے دے د هغه شي چه رضا ئے شي یقیناً هغه پوهه

الْحَكِيمُ ۝ رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ

او حکمت والا دے. ۔ اے ربه زما یقیناً تا راکړې ماته بادشاهي او وښودلے دے تا ماته څه علم د تعبیر

الْأَحَادِيثِ ۚ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا

د خبرو ۔ اے پیدا کوونکیه د آسمانونو او د زمکے ۔ ته ولي زما ئے په دنیا

سے وا سجده د تعظیم وه لکه سلام د تعظیم شو حالا سجده اوس په دین د نبي کریم صلے الله علیه وسلم کښې منسوخ ده او ځکه جائز نه ده سجده تعظیمي دے ته وائي چه چا ته سجده وکړي نو هغه حاجت روا او غیب دان ګڼي دا شرک دے ۔ دنیا ته د مسئلے د توحید نشر کیږي ۔ ۱۲ سے د ورونو ظلم په ما باندې وو او شیطان پلمه وه ځان له وي ګناه دې د شیطان ګناه ده لکه یوسف په یو قاصد باندې او لیږي چه هغه ته وائي په بدے روزې او وایه نو هغه قاتل شي او وائي چه دا قاصد ګناه ګار نه دے ځکه په خوا د هغه را لیږونکي دے قاصد دے خلق خپل اصلي دشمن نه پیژني اصلي دشمن زمونږ شیطان دے ځکه مسلمانان مسلمان خپل په مونږ چه دغه ابلیس را لیږلے دے

سله یعنې کله چه ما وفات کوې نو مسلمان یم وفات کړه ... دا د حضرت د مرګ سوال نه دے چه وړاندې حدیث د منع نه دے ... نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي ... خو اوس که څوک چه تکلیف کې مسلمان د یاره رحمت ...

وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ۝ ذٰلِكَ مِنْ

او په اخرت کښې ، وفات کړه ما مسلمان او ملګرې کړه ما د نيکانو سره ۔ دا خبر دے د

اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْۤا

د غيب وحي را ليږو تا ته ۔ او نه وې ته د دوی سره کله چه اتفاق اوکړو دوی

اَمْرَهُمْ وَهُمْ یَمْكُرُوْنَ ۝ وَمَاۤ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ

په کار خپل کښې او دوی فريب کاوه ۔ او نه دی زيات خلق مؤمنان اګر که ته حرص کوې

بِمُؤْمِنِیْنَ ۝ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

د ايمان د دوی او نه غواړې ته د دوی نه په دې باندې څه ثواب ۔ نه دے دا قرآن مګر نصيحت د

لِّلْعٰلَمِیْنَ ۝ وَكَاَیِّنْ مِّنْ اٰیَةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ یَمُرُّوْنَ

عالم لره ۔ او ډیرې نښې دی د توحید په آسمانونو او په زمکه کښې چه تیریږي دوی

عَلَیْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ۝ وَمَا یُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ

په هغو او دوی د هغو نه مخ اړوي ۔ او ايمان نه راوړي زيات د دوی په الله

اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ۝ اَفَاَمِنُوْۤا اَنْ تَاْتِیَهُمْ غَاشِیَةٌ مِّنْ

مګر دوی مشرک وي ۔ آيا پس بې ويرې دي دوی د دې نه چه راشي دوی ته آفت د

عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِیَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ۝

عذاب د الله يا راشي دوی ته قيامت ناڅاپه او دوی به خبر نه وي ۔

قُلْ هٰذِهٖ سَبِیْلِیْۤ اَدْعُوْۤا اِلَى اللّٰهِ ؔ عَلٰى بَصِیْرَةٍ اَنَا وَمَنِ

او وايه چه دا لاره ده چه بلم خلق الله ته ۔ ما قائم يم او ملګري

اتَّبَعَنِیْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ۝ وَمَاۤ

زما ۔ او پاک دے الله او نه يم زه د مشرکانو نه ۔ او ما نه دی

البته د وېش خطره د وينې سوال د مرګ ما لره ده او که تردد وي نو بيا دا سوال پکار دے چه اے ربه تر څو چه ما له ژوند بهتر وي ما ژوندے ساتې او که ما له مرګ بهتر وي نو ما له د ايمان سره مرګ راکړې ۔

سله یعنې څنګه چه په خير کړے دے يوسف عليه السلام قصه ختم شوه په خوب شروع شوه او په تعبير د خوب ختم شوه نو دا قصه ده چه مشتمله ده په توحيد باندې چه غيب دان او کارساز يو الله تعالی دے نو دومره لوئے پيغمبر په ټولو دومره لويه زمانه بې خبره ژړل ۱۲

سله د قصې د يوسف عليه السلام نه معلوم شو توحيد د باري تعالی چه غيب دان او کارساز صرف الله تعالی دے ۔ او د دې آيت نه معلوميږي رسالت چه ته صادق پيغمبر يې چه دا غيبي خبرونه وحي سره تا ته معلوميږي دا دے خبر د انباء الغيب والی ۱۲

سکه یعنې سره د ايمان د شرک هم کوي چه غير الله غيب دان والی يا کارساز او فرياد رس ورته والی او غائبانه څيزونو ته غواړي روح المعانی والا وائي چه دا سے خلق نن د هيچو تداريات وائي ۱۲

سٰه عاقل څوک څوک وے چه مخلوق د خالق طرف ته بلي ۱۲ سٰه دے مسئله ته خلق بلم چه باری تعالی د شرک نه پاک دے هم په ذات او هم په صفاتو کښې ۱۲

ع ۱۱

له د دغو آيتونو ځواب دا دے چه مونږ هم ستا نه مخکښې رسولان هم سړى وو ... الله تعالىٰ فرمائى چه مخکښې رسولان هم سړى وو
خو ما ورته وحى کړے وه ... له پيغمبر عليه السلام ته پاتې کيږي ... له روستو شوامد او د پيغمبرانو تر دے

چه نا امیده شو او د کفارو نه او خيال اوکړو نو خلقو چه د پيغمبرانو تردروغ وئيلى شوى دى په وعده د نصرت کښې. داحکم او مقصد د سورت دے يعنې په رسولو د توحيد او د سنت کښې په مصيبتونو برداشت کوى لکه چه نورو پيغمبرانو برداشت کړى کړى و د دوا مصائب. نو تمام سورت حاصل دا دے چه غيب او کار ساز صرف الله تعالىٰ دے او يوسف عليه الصلوٰة والسلام رشتونے پيغمبر دے د توحيد او رسالت په اشاعت کښې تکليف برداشت کوه لکه نورو پيغمبرانو چه برداشت کړے دے. له دا تمهيد دے په دے کښې ترغيب دے مثلو د سورت ته چه دا حکم حق دے خلقو ته ... (فائده) نازل شوے دے پس د سورت محمد نه او قبل د سورت رحمٰن نه زمانه د نزول دور آخر د مکے مکرمے. په ترتيب قرآن کښې (۱۳) دے او په نزول کښې (۹۶) دے. په دے سورت کښې دلائل د توحيد او رجعت بنکاره دى چه دا مسئله د توحيد بنه بنکاره شى چه متصرف يواځې الله دے لوئے علم والا او لوئے قدرت والا دے په دغه شوک او ژاوړ نيشته چه په زور په الله باندے خپل کار اوکړى ۱۲

أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِيٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ

يعنې مونږ استولى نه مخکښې ستا مګر سړى چه وحى مونږ کوله دوى ته ... د کلو او سيمو ... د

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ

آيا پس نه دى ګرځيدلى دوى په زمکه کښې چه اوګوري چه څنګه شو آخر د هغو خلقو چه

مِن قَبْلِهِمْ ۗ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَوْا ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ

مخکښې وو د دوى نه. او دار د آخرت غوره دے د هغه چا د پاره چه ځان ساتى د نافرمانۍ. آيا تاسو نه پوهيږئ

حَتَّىٰٓ إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا

تر دے پورے چه نا اميده شو رسولان او ګمان اوکړو خلقو چه دروغ وئيلى شوى دى هغوى ته

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ

راغله دوى ته امداد زمونږ پس خلاص شو هغه څوک چه مونږ اوغوښتل. او نه واپس کيږي عذاب زمونږ د قوم

الْمُجْرِمِينَ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ۗ

مجرم نه. يقيناً شته په بيان د دوى کښې عبرت عاقلانو لره.

مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ

نه دے قرآن خبره جوړه کړے شوې ليکن تصديق د هغه کتاب چه مخکښې وو د دهٔ نه

وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ

او تفصيل د هر څيز دے او هدايت دے او مهربانى ده د هغو د پاره چه ايمان راوړى.

سُورَةُ الرَّعْدِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ ثَلَاثٌ وَأَرْبَعُونَ آيَةً وَسِتُّ رُكُوعَاتٍ

رکوع ګانے (۶)	خاص په نوم د الله ايسروم چه ډير مهربان او رحم کونکے دے.	آيتونه (۴۳)

الٓمٓر ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ۗ وَالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ

الله عالم دے. دا آيتونه د کتاب دى. او هغه کتاب چه نازل شوے تا ته د رب ستا نه حق دے.

وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۱ اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ

لیکن زیات خلق ایمان نهٔ راوړی - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه اوچت ئے جوړ کړی دی اسمانونه

بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

بے ستنونو تاسو ګورئ ئې بیا قائم شو په عرش باندے او په کار ئې لګولے دے نمر او

وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ

سپوږمئ هر یو روان دے تر یو وخت مقرر دے پورے - تدبیر کوی د ټولو کارونو بیا نوی

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَاۗءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝۲ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ الْاَرْضَ

دلیلونه امید دے چه تاسو په ملاقات د رب خپل یقین اوکړئ - او الله هغه دے چه غوړولے ئې ده زمکه

وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهٰرًا ۭ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ

او پیدا کړی ئې دی په هغے کښے غرونه او ولې - او په هر قسم میوو کښے پیدا کړی ئې دی هغه

فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

جوړے دوه دوه (نر ښځه) پټوی په شپه ورځ - یقیناً په دے کښے دلیلونه دی د

لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۳ وَفِي الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ

هغه قوم د پاره چه فکر کوی - او په زمکه کښے ټکړے دی ګاونډی او باغونه دی د

اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَاۗءٍ

انګورو او فصل دے او کجورے دی جوړے او غیر جوړے دے او به کیږی په اوبو

وَّاحِدٍ ۣ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْاُكُلِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

یو سره - او غوره کوو ځینے په ځینو نورو باندے په خوند کښے - یقیناً په دے کښے

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝۴ وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَاِذَا

دلیلونه دی د هغه قوم د پاره چه عقل لری - او که تعجب کوے ته نو عجیبه دے خبره د دوی چه کله

له واوول دلیل دے د کوم
د پاره چه هر څوک پوهه شی چه الله تعالیٰ
کوی نه بل څوک او نه په
دے څوک غالب شی چه په
دے کار ونه کوی شکه چه
و الله تعالیٰ دوه سره لوئے
دے چه دا ګران کارونه
ئے کړی دی دا کارونه بے
د باری تعالیٰ نه بل څوک
نشی کولے ۱۳
۲ یعنی تاسو خو ورته
ګورئ چه ستنے ورته نشته
صرف په اراده د الله تعالیٰ
ولاړ دے ۱۳
۳ یعنی لاندے زمکے ته
اوکوره ۱۳
۴ کم نه کم دوه دوه قسمه
دی په هره میوه کښے ۱۳
۵ چه د یو بیخ نه دوه
څانګے وتلی وی او
غیر صنوان چه یو څانګ
لغیر څانګو وی ۱۳
۶ که ته د دوی د شرک
نه تعجب کوے نو په ځای
نه دے د دوی دا بله خبره
چه انکار د دوباره ژوندون
دے هغه هم د تعجب
ده ۱۳
عه اقرأ بانه شیرو سوا
نکورة نا ذكر بلقرأ حتى
كان د غلو ره (روح) یعنی ثمرونه
په حلق کښے که هغه اے تعالیٰ
په حکم سره خلکته کیږی ۱۳

۱ د دوی په حقیقت کښې انکار کوی د قرآن خبرو نه دی بلکه ... هغه کښې همیشه وی او دا حقیقت کومسئلې د توحید د ... ده او دوی لویه مسئله ده چه منکر د ... همیشه په دوزخ کښې دی ... یعنی کافران وائی چه په مونږ بیا عذاب راولی دا

كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ

شو مونږ خاوره نو آیا بیا به پیدا شو ... دوی هغه دی چه انکار یې کړے د رب خپل نه

وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِیْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ

او دوی هغه دی چه کلبې به وی په څټو د دوی کښې، او دوی دی د دوزخیان، دوی به

فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَیَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّیِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ

په هغه کښې همیشه وی۔ او زر غواړی ستا نه عذاب مخکښې د نیکئ نه او تیر شوی

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ

دی مخکښې د دوی نه عذابونه۔ او یقینًا رب ستا بخښنه کوونکے دے خلقو ته

عَلٰی ظُلْمِهِمْ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِیْدُ الْعِقَابِ ۝ وَیَقُوْلُ الَّذِیْنَ

سره د ظلم د دوی نه۔ او یقینًا رب ستا سخت عذاب دے۔ او وائی کافران

كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ اٰیَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّ

چه ولې نه شی رالیږلی دغه ته معجزه کومه لیدلے د رب د ده نه۔ یقینًا ته ویرَوونکے یې او

لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ۝ اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰی وَمَا تَغِیْضُ

د هر قوم د پاره لار ښودونکے دے۔ الله پوهیږی په هغه چه اخلی هره ښځه او په هغه چه لږوی

الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝ عٰلِمُ

رحمونه او زیاتوی رحمونه۔ او هر شے په نزد د هغه په اندازه دے۔ پوهیږی په

الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِیْرُ الْمُتَعَالِ ۝ سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ

غیب او په ښکاره لوی دے اوچت دے برابر دے ستاسو هغه څوک چه پټوی

الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِالَّیْلِ وَسَارِبٌۢ

خبره او هغه څوک چه په ښکاره کوی خبره او هغه څوک چه پټیږی د شپے او په ورځ ګرځی

۲ دوه عذابونه دی دوی له ... عذاب تر الله تعالیٰ د زمان ... هغه دے چه الله تعالیٰ د عذاب ورکولو ... هغه عذاب ډیر سخت وی۔

۳ دا زجر دے کافرانو ته چه وائی معجزه راوړه چه مونږ په ایمان مجبور کړی مقصود د کافرانو ... دا جواب ورکړو چه ته د معجزې پیش کولو ذمه دار نه یې بلکه ستا کار دے لار ښودل چه هر قوم ته لار ښودونکے راغلے دے معلومه شوه چه معجزه د پیغمبر په لاس ښکاره کیږی خو دا هغه قدرت کښې نه وی۔

۴ دا دویم دلیل دے چه په غیب باندے عالم صرف الله تعالیٰ دے او حاجت هغه څوک پوره کولے شی چه حاجت ورته معلوم وی او قدرت یې هم وی دا صرف الله تعالیٰ دے او په حاجت پوره کولو کښې په دې څوک زور آور هم نیشته۔

لے د او مخکښې بیان شوي وو ... شدید المحال. یعني الله تعالی داسې عجیبه کارونه کوي او د ... نوموړي حال کیږي ... د الله تعالی ... قدرت والا دے ... د انسان حفاظت کوي په حکم د الله تعالی ۱۲

بِالنَّهَارِ ۝ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ

د ورځې - د الله لپاره پرله پسې راتلونکي دي چه مخکښې د انسان او وروستو د هغه ساتي د هغه

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا

په حکم د الله سره - یقینًا الله نه بدلوي حالت د یو قوم ترڅو چه بدل کړي هغوی هغه چه

بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

ذاتونو د هغوی کښې دي - او کله چه اراده وکړي الله په یو قوم د آفت نو نشته واپس کول هغه لره - او نشته دوی لره

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ۝ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ

سوا د الله نه مدد گار - الله هغه دے چه ښائي تاسو ته برېښنا د پاره د یرې او د

طَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ۚ ۝ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ

طمع او پیدا کوي وریځې درنې د اوبو باران نه - او وائي رعد ثنا د الله

وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا

او ملائک د ویرې د الله نه - او رالیږي تندر او رسوي دا هغه

مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ۝ لَهٗ

چا ته چه رضا ئې وي او دوی جګړه کوي په خبره د الله کښې - او الله سخت طاقتور دے - د الله

دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ

بلنه رښتیا ده - او هغه خلق چه دوی ئې رابولي بې د الله نه - نه منلي قبلولي هیڅ دعا

بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَ

د دوی مګر لکه اوږدول د لاسونو خپلو د پاره د اوبو تر خپله خوله ورسي ... او نشي رسیدې هغه ته او د

مَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

نه ده بلنه د کافرانو مګر بې کاره - او صرف الله لره سجده کوي هغه څوک چه په آسمانونو کښې دي

ځ یعني الله تعالی چیل امت
و خلقو ته حفاظت په ...
نیت خراب شي ۱۲ سه کله
چه سبب د رعد آواز واورئ
نو دا دعا په کوئ: سُبْحَانَ مَنْ
يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَ
الْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ اَللّٰهُمَّ
لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلَا تُهْلِكْنَا
بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ
شه یعني الله تعالی داسې
عجیبه کارونه کوي لکه د
هغه حکمونه منل په کار دي
لیکن دوی له مخې او جګړې
کوي ځکه چه ایا په شي
ځکه چه د الله تعالی لوئے
طاقت دے ۱۲
لا یعني هر کله چه هر څه
صرف الله تعالی کولے شي
او په هر څه هم صرف هغه
پوهه دے نو د هغه بلنه
د قبلیدو ده او د الله بغیر
الله بلنه داسې بې فائده
ده لکه یو کس چه اوبو ته
آواز کوي چه ما خولې ته
راشئ نو ځکه په نو اوبه نه
د دې بلنې نه خبرې او
نه ئې د راتګ طاقت شته همدغسې
کل ماسوی الله بې طاقته
او بې علمه دي عاجز او بې
علمه مخلوق سره لاژمه ده
لکه قدرت کامله او علم محیط
چه صرف د الله تعالی صفت دے
نو صرف هغه حاجت روا دے
په دا څوک رو آوریشتي ۱۲
ځ دا سجده لیل دے د الله تعالی د بادشاهئ چه هر څه د هغه تابع دي او سوري هم د الله تعالی تابع دي یعني
اعراض او جواهر قبول د هغه تابع دي نو صرف هغه حاجت روا دے نه بل څوک ۱۲

له واضحوم دلیل دے د ... دوی ... رب د آسمانونو او د زمکې صرف الله تعالی دے نو حاجت روا هم صرف الله تعالی دے نو وادے الله په حق دی او د هغه نه علاوه حاجت خواهی په حقوی د نفع او د ضرر مالکان نه دی - موحد بینا دے او مشرک روند دے توحید رڼا ده او شرک تیاره ده ۱۲

ﮯ دا پنځم دلیل دے د الله تعالی د کامل قدرت چه باران ورولے صرف الله تعالی دے نو حاجت پوره کول هم صرف الله تعالی دے او په دے دلیل کښې مثال دے د باطل معبود او د حق معبود چه معبود باطل د ځګ په شان دے او بے کاره دے لکه ځګ د اوبو یا د زرو او معبود حق دا سے د فائده دے لکه اوبه او زر ۱۲

وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿١٥﴾ قُلْ ع ۲

او په زمکه کښې دی په رضا او په ناچارۍ سره او سورې د دوی صبا او بیګا هم - او وایه چه

مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قُلِ اللّٰهُ ۭ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ

څوک دے رب د آسمانونو او د زمکې - او وایه چه الله دے - او وایه نو آیا جوړ کړی دی تاسو سیوا

دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَاۗءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۭ قُلْ هَلْ

د هغه نه مددګار داسې چه مالکان نه دی د ځان دپاره د نفع او نه د ضرر - او وایه آیا چه

يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ڏ اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ڬ

برابر دے روند او لیدونکے - یا برابر دی تیارې او رڼا ؟

اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَاۗءَ خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۭ

آیا جوړ کړی دی دوی د الله سره حصه داران چه پیدا کړی یې دی په شان د پیدا کولو د الله نو ګډوډ شو پیدائش

قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾ اَنْزَلَ مِنَ

پیدا کوونکے دے - او وایه چه الله پیدا کوونکے د هر شی دے او هغه یو غالب دے - ورولی دی د

السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا

آسمانه باران نو بهیدې کندې په اندازه خپله سره نو پورته کړو سیلاب ځګ لره

رَّابِيًا ۭ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاۗءَ حِلْيَةٍ اَوْ مَتَاعٍ

پاسه او د هغه څیز چه ګرموی دوی هغه په اور کښې د پاره د طلب د کالی یا د سامان

زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ۭ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ڛ فَاَمَّا الزَّبَدُ

ځګ د هغه په شان دے دغه شان بیانوی الله حق او باطل لره - نو هر چه ځګ دے

فَيَذْهَبُ جُفَاۗءً ۚ وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ۭ

نو ځی اوچ - او هغه څیز چه نفع رسوی خلقو ته نو پاتې شی په زمکه کښې -

ــه وابشارت دے دمنونکو ته چه دحقو دپاره حکم ... او هغوی ته د ... عذاب دے

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ۝ لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى

دا رنگه بیانوی الله مثالونه ـ د هغو خلقو دپاره چه فرمان قبول کړو د رب خپل ...

وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ

او کوم خلق چه حکم نه منی د الله نو که وی دوی لره هغه چه په زمکه کښې دی ټول او

مِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ

مثل د هغه د همره نو فدیه به ورکړی دوی ... دوی د پاره بد حساب دے ـ او ځای د دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

دوزخ دے او ډیر بد ځائے دے ـ آیا هغه څوک چه پوهیږی چه هغه کتاب چه نازل شوے ستا ته د

رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ الَّذِيْنَ

رب ستا نه حق دے ... هغه چا په شان دے چه ړوند دے یقیناً سوچ کوی عاقلان ـ کوم چه

يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ۝ وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ

پوره کوی لوظ د الله او نه ماتوی وعده ـ او هغه خلق چه پیوند کوی هغه کار

مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ

چه الله حکم کړیدے په هغه سره چه او پیوند کړے شی او ویریږی د رب خپل نه او ویریږی د بد

الْحِسَابِ ۝ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

حساب نه ـ او کوم خلق چه صبر کوی د پاره د رضا د رب خپل او قائم کوی مونځ

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

او خرچ کوی د هغه مال نه چه مونږ ورکړیدے دوی ته په پټه او په ښکاره او لرې کوی په نیکئ سره بدئ لره

السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ۝ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

دغه خلق دی د دوی د پاره ښه انجام د آخرت دے ـ چه باغونه د همیشه اوسیدو دی داخل به شی دوی

حساب نه ویریږی او صبر کوی د پاره د رضا د الله تعالیٰ او مونځ کوی او خیرات کوی په پټه او په ښکاره ... په مقابله کښې نیکی کوی دوی جنتیان دی ...

ـ وابشارت دے دمنونکو ته ... په دنیا کښې هم ... عذاب دے او د هغه د پاره به حساب دے یعنی ... او آسان حساب ... او انکار کوی ... او دا دے چه ... د ټولو انسانانو د پاره ... چا ته چه ... دوی ته ... او الله تعالیٰ ... یعنی ... او مونږ ... لوظ پوره کوی ... دوی ... پیوند کوی ... الله تعالیٰ ... حکم کړے ... پوره کوی ... د هغه نه ویریږی ...

ے واڅ لیکلو په مقابله کښې کړنه دی بیان د حق ستی واڅ بارۍ تعالیٰ د وحدانیت په دلیل کښې د حق دی دلیل کښې د

وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

او هغه څوک چه نیک وي د دوی پلارانو او ښځو او اولادو نه او ملائک به

يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

ننوځي دوی ته د هر دروازې نه سلام دې وي په تاسو په هغه چه تاسو صبر کړی وو

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۝ وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْ

نو ښه ده د تاسو دپاره د کور آخرت۔ او هغه خلق چه ماتوي لوظ د الله پس د

بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَ

مضبوط کولو نه او پریکوي هغه شی چه الله د هغه حکم کړی چه او ساتل شي او

يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ۝

فساد کوي په زمکه کښې۔ د دوی دپاره لعنت دے او د دوی دپاره بد کور آخرت دے

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ

الله زیاتوي رزق د هغه چا دپاره چه وغواړي او تنګوي۔ او خوشحاله دي دوی په ژوند د دنیا

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او نه دے ژوند د دنیا په مقابله د آخرت کښې مګر لږ سامان دے۔ او وائي کافران چه

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ

ولې نه دے رالیږلے شوے په ده نښانه د رب د ده نه۔ او وایه یقیناً الله غلطوي هغه څوک چه

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ۝ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ

خوښ ئې شي او لار ښائي خپل طرف ته هغه چا ته چه رجوع کوي هغه ته۔ هغه خلق چه ایمان ئې راوړے او تسلي لري

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ۝ الَّذِيْنَ

زړونه د دوی په یاد د الله سره۔ خبردار صرف په یاد د الله کښې تسلي د زړونو ده۔ هغه خلق چه

الله تعالیٰ د لوئي قدرت نښې

۲ هغه چه رزق زیات شي نو ګڼي کوي صرف الله تعالیٰ ورکړے دے نه بلکه روزي رسان شیخ او ناپه رزق زیاتولو او کمولو کښې هم خدائے تعالیٰ څوک نه دے برابر شیخ ۱۲

۳ ستي دا زور نه وه چه حق څکه نه منی چه دنیا ئې واخستے غلطئ ئې او کړه دنیا هیڅ شے نه دے په بدله د آخرت کښې ۱۲

۴ ستي منی نه حق لره او اعتراض نه کوي چه خلق به نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې بندګانو شي یعني هغه معجزه چه دوی غوښتې وه خو ایې وي چه هغه سره به ایمان باندې مجبوره کوي دا معجزه ورلے نه شوه تر څو ددې داعي نه نو باري تعالیٰ جواب کوي چه معجزې خو ډیرې دي۔ خو تاسو ضد یا ئي نو تاو هدایت نه محروم ئي هدایت الله هغه چا ته کوي چه ضد نه کوي هغه وا خلق دي چه د هغوی تسلي او غلطي وي د الله تعالیٰ په یاد او وا الله اوتسلي هم صرف د الله تعالیٰ په یاد وکښې ده چه کوم سړی وا یقین وي چه څه کوي نو صرف الله تعالیٰ کوي مخلوق څه نه شي کولے ۱۲

لے دا دوھم دلیل دے چہ ذکر عقلیہ اتوا او ہر چہ حاجت روا صرف اللہ تعالیٰ دے خو خپے تاتہ وعلم شو بیدہ مقدم و
وحدانیت د اللہ تعالیٰ خوا ہی ۱۲ ؎ یعنی ما خپل کمان صرف باری تعالیٰ تہ سپارلے دے او خاص اللہ تعالیٰ تہ رجوع دہ

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ۝ كَذٰلِكَ

ایمان ئے راوړے او کړی ئے نیکی خوشحالی دہ دوی لرہ او ښہ ځائے دے۔ دغسے

اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا۟ عَلَيْهِمُ

رالیږلے ئے مونږ تا یو امت کښے چہ تیر شوی دی مخکښے د دوی نہ ډیر امتونہ چہ او لولے تہ په دوی

الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ۭ قُلْ هُوَ رَبِّيْ

هغه کتاب چہ را لیږلے مونږ تاتہ او دوی انکار کوی د رحمان نہ۔ او وایہ هغه رب زما دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ مَتَابِ ۝ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا

نشتہ بل معبود مګر هغه دے هغه تہ مے کړے سپارلے او هغه تہ واپس دہ۔ او که چرے یقیناً دے قرآن

سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ۭ بَلْ

(نازل شی) چہ روان کړے شی په هغه سره غرونه او یا کړے شی ټکړے ټکړے په هغه سره زمکه یا خبرے او کړے شی مړو سره

لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا ۭ اَفَلَمْ يَايْــــَٔسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَاۗءُ اللّٰهُ

(نو ایمان نہ راوړی) بلکہ صرف اللہ لرہ دی ټول کارونہ۔ آیا تسلی نہ دہ شوے مومنانو ته په دے که رضا شی اللہ تعالیٰ

لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ۭ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ

نو خو نہ به او کړی ټولو خلقو ته۔ او همیشه به کافرانو ته رسی په

بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ

سبب د بد عمل د دوی آفت یا به نازل شی نزدے کورونو د دوی ته۔ ترڅو چه راشی

وَعْدُ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

وعده د اللہ۔ یقیناً اللہ خلاف نہ کوی د وعدے خپلے نہ۔ او یقیناً ټوقے شوی دی د رسولانو سره

مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۣ فَكَيْفَ

چہ تا نہ مخکښے وو ډیل مے اوکړہ کافرانو ته بیا مے اونیول دوی لرہ۔ نو څنګه وو

۳؎ دا ذکر دے اعتراض جواب دے چہ ولے نہ شی راتلے نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم تہ معجزہ حاصلہ جواب دا دے چہ که چرے داسے قرآن را اولیږو چه غرونہ پرے الوزی او زمکه پرے ټکړے ټکړے کیږی او مړی پرے گویا نہ کیږی خو بیا هم دوی ایمان نہ راوړی دوی ضد یان دی اللہ تعالیٰ جبراً ټولو خلقو ته هدایت کولے شی خو جبری ایمان اللہ تعالیٰ ته منظور نہ دے ۱۲

۴؎ دا ذکر د عذاب د شیوی بیان دے چہ دوی خبرہ نہ منی نو عذاب به ورته رسی ترڅو چه راشی وعدہ د فتح د مسلمانانو ۱۲

۵؎ دا تسلی دہ نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته چه ته حق بیانوے او کافران ټوقے کوی دا نا آشنا خبرہ نہ دہ په مخکښے رسولانو پورے هم ټوقے شوی دی او ما کافرانو ته صبر کړے وہ۔ بیا مے هغوی په عذاب سره اونیول ځکه ته په ډړہ دے کافرانو سره کیږی ۱۲

ده توحید د پاره اتم دلیل دے چه د الله تعالیٰ پشان څوک نشته حضور د هر چا د عمل نه خبر دے په دے دلیل کښے
واسطه تعالیٰ اوله لوئے علم مظاهر دے ۱۲ ‏ سه وا کفار و ته زور نه دے چه د دومره لوئے قدرت او لوئے علم والا په مقابل

كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ

عذاب زما - آیا لعفه ذات چه قائم دے په هر نفس باندے عمله چه کړی دی (پشان د لعفه باطلو)

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَآءَ ۗ قُلْ سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي

او مقرر کړی دی الله لره حصه واران - او وایه چه نوم واخلئ د دوی - آیا خبروئ تاسو الله لره

الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

حقه څه چه معلوم ورته نه دے په زمکه کښے - یا کوئ تاسو خبره - بلکه خائسته شوے دے کافرانو ته

مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ

چل د دوی او منع شوی دی د لارے نه - او چا لره چه گمراه کړی الله نو نشته د ده لره

مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ لَّهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ

لارښوونکے - د دوی د پاره عذاب دے په ژوند د دنیا کښے او عذاب د آخرت ډیر

أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾ ۞ مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ

سخت دے - او نشته د دوی لره د الله نه بچ کوونکے - حال د لعفه جنت چه وعده ورکړے شوی ده

الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ

متقیانو سره - روان دی چه بهیږی د لاندے د هغو ویالے - میوے د هغو همیشه دی او سوری د هغو - دا

عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِينَ

بدله د متقیانو ده - او بدله د کافرانو اور دے - او لعفه خلق چه

آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ الْأَحْزَابِ

ورکړی دی هغو ته کتاب خوشحالیږی په هغه کتاب چه رالیږلے شو تا ته او بعضے ډلے دی چه هغو نه هغه

مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ ۚ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ

چه انکار کوی د بعضے د دغه نه - او وایه ورته یقینا ما ته حکم شوے دے چه بندگی اوکړم د الله او شریک جوړ نه کړم

کښے دوی د الله تعالیٰ سره حصه واران مقرر وی نو ورته اووایه چه ما ته د هغو نوم واخلئ الله تعالیٰ ته خو هیڅ شریک یا د الله تعالیٰ باندے زور آور په زمکه کښے شته دے معلوم ورته دے سوچ خبره کوئ بلکه دے کافرانو ته چل فریب خائسته شوے دے نو دوی د الله تعالیٰ د لارے نه منع شوی دی او دوی لره الله تعالیٰ گمراه کړی دی نو دوی ته به څوک هدایت اوکړی ۱۲

۳ سه وا د نه منونکو د پاره عذاب د دنیا او آخرت دے

۴ سه وا د منونکو د پاره مزے دی ۱۲

۵ سه وا د توحید د ثبوت د پاره نهم دلیل دے نقلی چه مخکښے انبیاء او علما نی استو نه په دے توحید باندے خوشحالیږو دا توحید مسئله نه ده او بعضے منه یان د قرآن او د توحید مسئله نه منی ۱۲

۶ سه وا د توحید د ثبوت د پاره لسم دلیل دے وحی چه ما ته حکم شوے دے چه زه به صرف د الله تعالیٰ بندگی کووم او شرک به نه کووم او دے توحید ته به خلق بللم ۱۲

سله د الزورنه وه چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم تعالى آو زور دي او دوه ... پوهه کوي چه ... او ليکونه ... کوي يا سرے شرک کوي او د ... قرآن خواهش قبلوي نو ... د پاره ... عذاب د الله تعالى ...

بِهٖ ۚ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَ اِلَيْهِ مَاٰبِ ۝ وَ كَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا

ووه سره شريک ... د الله نه بلم خلق او د الله ته واپس تلل دي ... او په شان مونږ نازل کړے دا کتاب حکم

عَرَبِيًّا ؕ وَ لَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

عربي ژبه ... او که تا اوماني خواهش د دوي پس د هغه نه چه راغلے تا ته علم

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّ لَا وَاقٍ ۠ ۝ وَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا

نو به وي تا لره د الله نه امداد او نه بچ کوونکے ... او يقيناً مونږ ليږلي دي رسولان

مِّنْ قَبْلِكَ وَ جَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّ ذُرِّيَّةً ؕ وَ مَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

مخکې ستا نه او ورکړي دي مونږ هغوي له بيبيانے او بچي ... او نه دے کار د هيڅ رسول

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ۝ يَمْحُوا اللّٰهُ

چه پيش کړي يو معجزه مګر په حکم د الله سره ... هر وعده ليکلے ده ... ورانوي الله

مَا يَشَآءُ وَ يُثْبِتُ ۚ ۖ وَ عِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ۝ وَ اِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ

هغه چه ... او باقي ساتي ... او هغه سره اصل کتاب دے ... او که او ښايو تا ته لږ

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ

هغه عذاب چه وعده کړې کوو مونږ دوي سره يا وفات کړو تا لره نو په تا باندے د رسول وي

وَ عَلَيْنَا الْحِسَابُ ۝ اَوَ لَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا

او په مونږ حساب دے ... آيا نه ګوري دوي چه زه راځم زمکے ته کمو وم هغه

مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ وَ اللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ؕ وَ هُوَ سَرِيْعُ

د اطراف نه ... او الله حکم کوي نشته بدلوونکے د حکم د هغه ... او هغه زر حساب

الْحِسَابِ ۝ وَ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ؕ

کوونکے دے ... او يقيناً فريب کړے وو هغو خلقو چه مخکې وو ددوي نه ... نو الله لره دي تدبيرونه ټول

سله دا د اول اعتراض جواب دے چه دا څنګه پيغمبر دے او ده ښځے دي او بچي دي. حاصل د جواب دا دے چه مخکښې پيغمبرانو هم ښځے او بچي وو ۱۲

سله دا د دويم اعتراض جواب دے چه مونږ ته معجزه پيش کړه. حاصل د جواب: د پيغمبر طاقت نشته چه معجزه پيش کړي مګر په حکم د الله سره ۱۲

سله دا د دريم اعتراض جواب دے چه مونږ وايو منو ته عذاب راولے. حاصل د جواب: چه عذاب د پاره وخت مقرر دے ۱۲

شه دا د څلورم اعتراض جواب دے چه عذاب مونږ له مقرر وي نو که منو او که نه منو عذاب به راځي نو منلو ته څه فرق دے. حاصل د جواب دا دے چه عذاب په تقدير د نه منلو کښے او د تا سو حکم د الله تعالى او منلو سره هغه مقرر عذاب به واپس شي په قضا معلق کښے تغير راځي نه په قضا محکم کښے

شه دا د عذاب د ډيوي بيان دے ۱۲

شه په نبي کريم صلى الله عليه وسلم صرف رسول د حکم دي په خلقو باندے منل نه دي ۱۲

شه د مکه کوه يعني د کفارو اقتدار کم او ختم چه اسلام زورور خور زيات په ده غوت سره جهاد مراد نه دے څنګه راځي وو په دا سورت مکي دے او په مکي سورتونو کښے د جهاد حکم نه وو بلکه د جهاد حکم په مدني سورتونو کښے راغلے دے ۱۲

له د کفارو ته زور نه وه چه د ... او خلق به ګمان کوی ... وا جواب د کفارو ته چه الله تعالیٰ
په پیغمبر شاهد دے او حق ملا رحم ... عنه ... قیل الانبیاء ... زمانه نزول دور آخر د مکے مکرمه ترتیب

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى

پوهیږی په هغه شی چه کوی هر نفس، او زر به معلوم کړی کافران چه چا لره ده ښه انجام د

الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ

آخرت۔ او وائی کافران چه نه یې ته رسول۔ او وایه بس دے الله

شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴿٤٣﴾

شاهد په مینځ زما او ستاسو کښے او هغه څوک چه هغه لره علم د کتاب دے

سورة ابراهيم مكية وهي اثنتان وخمسون آية وسبع ركوعات — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

آیتونه (۵۲)	شروع په نوم د الله سره چه ډیر مهربان او رحم کوونکے دے	رکوع کانی (۷)

الٓرٰ ۚ كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى

الٓرٰ ۔ دا کتاب دے نازل کړے مونږ تا ته چه راوباسے خلق د تیارو نه رڼا

النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿١﴾ اللَّهِ الَّذِي

ته، په حکم د رب د دوی سره لارے د زبردست او ستائیلی شوی الله کوم چه

لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ مِنْ

هغه لره دی هغه څیزونه چه په آسمانونو کښے دی او هغه چه په زمکه کښے دی۔ او مصیبت دے کافرانو لره

عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ

د عذاب سخت نه۔ کوم چه غوره کوی ژوند د دنیا په آخرت باندے

وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ أُولَٰئِكَ فِي

او منع کوی خلق د لارے د الله نه او لټوی په هغے کښے کوږوالے۔ دوی په

ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿٣﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ

غلطئ لرے کښے دی (تحقیق) نه دے لیږلے مونږ هیڅ رسول مګر په ژبه د قوم د دوی

ربع ۱۲

قرآنی (۱۴)، ترتیب نزولی (۷۲) د تنبیهات د پس وقائع دنیوی واخروی۔ خلاصه: دلائل عقلیه (۳)، دلیل نقلی اجمالی، دلیل نقلی تفصیلی د ابراهیم علیه السلام نه، مجموع عدد دلائلو (۷)، امور دفعیه (۴)۔ په ابتداء کښے ارشاد دے وقائع بیان کړے چه خلق د ظلمت نه رڼا ته راوباسی لکه چه مخکښے انبیاؤ واقعے بیان کړے په درمیان کښے وقائع دنیوی واخروی او په آخر کښے دلائل د توحید ۔ ۱۲

ئه د ترغیب دے منکرو د سورت ته چه دا سورت یو لوئے کتاب دے او مونږ ته رالیږلے دے چه خلق د تیارو نه د شرک او د بدعت راوباسی رڼا د توحید او د سنت ته حاصل دا چه دا کتاب یو لوئے دے او د لوئے بادشاه د طرفه رالیږلے دے او په لوئے پیغمبر د لوئے مقصد د پاره رالیږلے شوے دے ۱۲

مقصد د سورت: بیان د وقائع دنیوی واخروی یعنی څوک چه د الله تعالیٰ فرمان منی او په هغه غالب منی نو په هغو په دنیا او آخرت کښے عذاب راځی یعنی د وقائعو بیان کړو مخکښے پیغمبرانو د پیا ... ئه واحد باری تعالیٰ د وحدانیت اول دلیل دے چه د زمکے او د

آسمانونو قبول څیزونه صرف د الله تعالیٰ دی په دے دلیل کښے د الله تعالیٰ د لوئے قدرت او طاقت بیان دے چه د دے لوئے بادشاه په مقابله کښے بل حکمران نیشته او نه په ده څوک زور آور شته ۱۲ ئه دا د کافرانو د پاره (پاتے په ص ۳۶۹)

ورپاتې د دنیا والسته او دوینا د عذاب اخروي بیان دے چه دوي ته سخت عذاب دے که لاتق دی چه دوي دنیا والسته او دوینا
پرېږدي او د نورو خلقو هم بے دینه کوي او په دین کښې غلطي د نقصانونو نه خالي دے. ساله نورو پېغمبرانو هم خپل قوم ته د

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ

چه بیان ورکړي دوي ته - نو ګمراه کوي الله جل شانه څوک چه رضا لري او لار ښيي څوک چه رضا لري.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۴﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا أَنْ

او دے زبردست دے او حکمت والا دے - او یقیناً لیږلے وو موسیٰ په خپلو دلائلو سره چه

أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ

راوباسه قوم خپل د تیرو نه رڼا ته - او یاد کړه دوي ته عذابونه د

اللَّهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿۵﴾ وَإِذْ قَالَ

الله. یقیناً په دے کښې دلیلونه دي د هر صابر او قدردان د پاره - او کله چه اووے

مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنْجَاكُمْ مِنْ

موسیٰ خپل قوم ته چه یاد کړئ نعمت د الله په تاسو باندے کله چه بچ یے کړئ تاسو د

آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ

قوم د فرعون نه چه رسول یے تاسو ته بد عذاب او حلالول یے ځامن ستاسو

وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿۶﴾ ع ۱۴

او ژوندۍ به یے پرېښودې جینکۍ ستاسو - او په دے کښې لوے امتحان وو د رب ستاسو نه.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ

او کله چه اعلان اوکړو رب ستاسو که تاسو احسان اومنلو نو زیات به کړم نعمت تاسو ته او که تاسو بے قدري

إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿۷﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ إِنْ تَكْفُرُوا أَنْتُمْ وَمَنْ

اوکړه نو عذاب زما سخت دے - او اووے موسیٰ که ناشکري کوئ تاسو او هغه څوک چه

فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿۸﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ

په زمکه کښې دي ټول، نو یقیناً الله بے پرواه دے او صفتونو والا دے - آیا نه دے راغلے تاسو ته خبر د

د آیتونو بیان کړو. نو ضد یې اوکړو او الله تعالیٰ ګمراه کړه او نابات والا خلقو ته الله تعالیٰ لار ورکړه ۱۲

۱؎ دے نه واخله د موسیٰ علیه السلام قصه الله تعالیٰ ذکر کړي چه موسیٰ علیه السلام هم خپل قوم ته د الله تعالیٰ عذابونه بیان کړي وو ۱۲

۲؎ یعنی موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته د باری تعالیٰ د عذابونو نه ویره ورکړه او نورو ته هم خپل قوم ویره ورکړه د الله تعالیٰ د عذابونو نه ۱۲

۳؎ دا د عذاب دنیوي بیان دے یعنی دے قومونو د باری تعالیٰ حکم نه ومنلو نو هلاک شو نو دغه حال موجوده کافرو باندے شي ۱۲

له یعنی لاسونه ئې په خولو خپلو باندې کیښودل یعنی پیغمبرانو ته ئې اشاره اوکړه چه خوله ونیسئ په مسئله کوئ او مونږ ته
ستاسو مسئله نه منو او زمونږ ستاسو په مسئله تسلی نیشته ۱۲ ۲ له پیغمبرانو ورلره جواب ورکړو چه تاسو

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛ وَالَّذِيْنَ مِنْۢ
هغو خلقو چه تیر شوی دی مخکښې ستاسو نه د قوم د نوح او د عادیانو او د ثمودیانو او د هغو خلقو چه
بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ۭ جَاۗءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ
وروستو د دوی نه - نه پیژنی هغوی لره مګر الله - راغلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلیلو نه
فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ
نو واپس ئې کړل لاسونه خپل خولو خپلو کښې او اوئې ویل هغوی یقینًا مونږ انکار کوو د هغې مسئلې نه چه
بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝ قَالَتْ رُسُلُهُمْ
تاسو لیږلی شوی ئې د هغې د پاره او یقینًا مونږ په شک کښې یو د هغې مسئلې نه چه تاسو رابلئ مونږ هغې ته په زړه کښې اچوونکی دی شک - اوئې ویل رسولانو د دوی
اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ
رسولانو د دوی آیا په الله کښې شک دی چه پیدا کوونکی د آسمانونو او د زمکې دی - بلی تاسو لره چه او بښی تاسو لره
مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ
ځینې ګناهونه ستاسو او وروستو کوی تاسو لره نیټې مقررې ته - اوئې ویل هغو نه یئ تاسو
اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۭ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ
مګر بشریې زمونږ پشان - غواړئ چه منع کړئ مونږ د هغه نه چه بندګی ئې کوله
اٰبَاۗؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝١٠ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ
پلار نیکه زمونږ نو پیش کړئ مونږ ته دلیل ښکاره - اوئې ویل دوی ته رسولانو د دوی نه یو
نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰي مَنْ يَّشَاۗءُ مِنْ
مونږ مګر بشر یو پشان ستاسو لیکن الله احسان کوی په هغه چا چه رضا ئې شی د بندګانو
عِبَادِهٖ ۭ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ
خپلو نه - او نیشته مونږ لره طاقت چه پیش کړو تاسو ته دلیل مګر په حکم د الله سره -

د الله تعالی په وحدانیت کښې شک کوئ آسمانونه او زمکه ئې هغه پیدا کړي دي تاسو لره هغه دعوت ته بلی چه خپل حق ورته معاف کړي کمسلمان شوئ البته د انسان حق هغه معاف کیږي چه د هغه نه معافی اوغواړي البته که په دارحرب کښې سو چه مسلمان شو نو د هغه قتل ګناه هم نه معاف دي ځکه چه دارحرب وارکړا هغه مونږ دی نو دا هم چه مسلمان شو نو دے معاف ورد دے ۱۲
۳ له یعنی کرتاسو ایمان راوړو په خپل وعا فیت سره به خپله نیټه د مرګ ته اورسئ ۱۲
۴ له کافرو ورته اووے چه تاسو خو زمونږ پشان بشریئ نو ځکه مانه پیغمبران وانیئ د دوی خیال وو چه پیغمبر به نوری وی خاکی به نه وی ۱۲
۵ له پیغمبرانو ورلره جواب ورکړو چه مونږ خو خاکی یو لیکن واقعۃً لازمه ده چه خاکی به پیغمبر نه وی او په خاکی کښې الله احسان اوکړی نو د هغه پیغمبر جوړیږی کافرو اووئیل چه مونږ ته د خپلې پیغمبری دلیل پیش کړئ نو پیغمبرانو ورته اووے چه دلیل پیش کول زمونږ

کار نه دے مونږ خو خلقو ته احکام رسوو د الله تعالی مونږه ځان خپل مولا ته سپارلے دے او هر مؤمن د ځان خپل
مولا ته او سپارۍ او کړتا سو تکلیف رسوئ مونږ ته نو مونږ به صبر کوو ۱۲ عه جمارات الفهم ۱۲

ف۱ کافرانو پیغمبرانو ته اووے چه مونږ تاسو لره د ځمکے نه باسو او یا به تاسو زمونږ دین قبول کړئ چه څه زمونږ او ورسیدو نو الله تعالیٰ پیغمبرانو ته حکم اوکړو چه ظالمان هلاکوو او په ځمکه کښے تاسو لره آبادوو او دا وعده

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى

او الله ته دے خپل کار اوسپاری مؤمنان - او څه عذر دے زمونږ چه کار نه سپارو الله

اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَ

ته او حقه خودلی دی مونږ ته زمونږ لارے او صبر به کوو په تکلیف رسولی تاسو مونږ ته، او

عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

الله ته دے خپل کار اوسپاری توکل کوونکی - او اووے کافرانو

لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ

خپلو رسولانو ته چه اوباسو به تاسو له ځمکے خپلے نه یا به واپس شئ تاسو دین زمونږ ته -

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

نو حکم اوکړو ورته رب د دوی چه هلاک به کړو ظالمان - او آباد به کړو تاسو لره په

الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ

ځمکه کښے روستو د دوی نه - دا ملاویږی هغه چاته چه ویریږی د ودریدو د مخے زما او ویریږی

وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾ مِّنْ وَّرَآئِهٖ

د ویرے زما نه - او فیصله اوغوښته پیغمبرانو او ذلیل شو هر ظالم ضدی - روستو د هغه نه

جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ

جهنم دے او ورکولے به شی ورته اوبه د زوو - غوټ غوټ به ئی څکی او تیر دلے به ئی نه شی

وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهٖ

او ورځی به هغه ته مرګ د هر طرف نه او نه به وی مړ کیدونکے - او روستو د هغه نه به وی

عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ

عذاب سخت - حال د هغو خلقو چه انکار کوی د رب خپل نه عملونه د دوی په شان د ایرو دی

هغه چاله دپاره دے چه ځما د حضور نه ویریږی او ځما د وعید نه لرزیږی په مقابل باندے برے ورکوو ۱۲

ف۲ پیغمبرانو د الله تعالیٰ نه فیصله اوغوښته چه اے الله زمونږ فیصله اوکړے د دے کافرو سره نو ظالمان برباد شو په دنیا کښے او په آخرت کښے ورله هم سخت عذاب دے ۱۲ ع ۱۴

ف۳ دا جواب دے د سوال چه کافران خو هم نیک عمل کوی حاصل د جواب چه د کافر عملونه سبب د کفر سره ختم شوے دے (فائده) یو دهریه دے نو هغه وجود د الله تعالیٰ نه منی (نعوذ بالله منها) او بل مشرک دے هغه وجود د باری تعالیٰ منی او تصرفات د الله تعالیٰ منی خو د غیر الله نه امید او خوف لری او د هغوی په نوم نذر ورکوی او وائی چه دوی ته الله تعالیٰ تصرفات ورکړی دی نو دوی د الله تعالیٰ په اذن سره دا کارونه کوی او دا علم نه لری چه په کار کښے سبب د الله نه دے نو په حقیقت کښے د انسان اراده شته او خالق الله پاک دے نو که خیر کوی او بل کار بلا سببه دے نو دا صرف الله تعالیٰ کوی نو چه یو ولی ژوندے وی نو نسبت د کار ورته صحیح دے په اعتبار د اراده سره او پس د وفات نه خو اسباب ختم شو نو نسبت د کار ورته شرک دے ځکه بلا سببه کار صرف الله تعالیٰ کولے شی ۱۲

اِشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ۭ لَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا

چې سخته حوا بوځي دا لوزګار په ورځ د ځپاړ کښې - قادر به نه وي د کسب خپل نه

عَلٰي شَيْءٍ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ

په هيڅ شي باندې - هم دغه ګمراهي ده لرې د حق نه - آيا نه ګوري چې الله تعالى پيدا کړي دي

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ

آسمانونه او زمکه د حق سره. که وغواړي نو ختم به کړي تاسو لره او پيدا به کړي

جَدِيْدٍ ۝ وَّمَا ذٰلِكَ عَلَي اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ۝ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِيْعًا

مخلوق نوې - او نه دے دا کار په الله باندې ګران - او ښکاره به شي الله ته ټول .

فَقَالَ الضُّعَفٰۗؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ

نو وبه وائي عاجزان غټانو ته يقيناً موږ وو ستاسو تابع آيا تاسو

اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۭ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا

لرې کوونکي شئ زمونږ نه څه د عذاب د الله نه - او به وائي دوي که هدايت کړې وي موږ ته

اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ ۭ سَوَاۗءٌ عَلَيْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ

الله نو موږ به هم تاسو ته هدايت کړې وي. برابره ده په موږ که فرياد کوو يا صبر کوو نشته موږ لره خلاصي

مَّحِيْصٍ ۝ وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ

د عذاب نه - او به وائي شيطان هر کله چې فيصله شي کار يقيناً الله وعده کړې وه تاسو سره

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ۭ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ

سره رښتيا او وعده کړې وه ما تاسو سره نو ما دروغ وويل تاسو ته - او نه وو ما لره په تاسو باندې

سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا

زور مګر ما تاسو لره بلل وو نو تاسو زما خبره او منله - نو مه ملامته کوئ ما لره او ملامت کړئ

سلے دا د توحيد د پاره دويم دليل دے چې خالق د زمکې او آسمان صرف الله تعالى دے ۱۲

سلے دا د عذاب اخروي بيان دے چې عاجزان کفار به غټو کافرانو ته فرياد کوي چې موږ د عذاب نه بچ کړئ نو هغوي به ورته او وائي چې موږ ځانله په عذاب کښې يو اوس صبر او فرياد بې فائده دے په دنيا کښې به صبر او فرياد فائده کوله دا اوس هغه وخت نه دے ۱۲

اِنْ يَّشَاْ : د عذاب دنيوي بيان دے ۱۲

سَوَاۗءٌ عَلَيْنَآ : تائيد قصص ۱۲

ع ۱۵

اوصلته به خوشحاله وی ملائک به ورته سلام کوی او د الله تعالیٰ د طرفه به سلام وی او په خپله مؤمنان به یو بل ته سلام کوی ۱۲ ۷ وا دلیل نقلی د حصه کیا و

انفسکم ما انا بمصرخکم وما انتم بمصرخی انی کفرت

نفسونه خپل - نه یم زه ستاسو امداد ادی او نه تاسو زما امداد یان یئ - یقیناً زه منکر یم

بما اشرکتمون من قبل ان الظلمین لهم عذاب

د هغه چه تاسو ما لره شریک کړی وه د الله سره مخکښ - یقیناً ظالمانو لره دے عذاب

الیم ﴿۲۲﴾ وادخل الذین امنوا وعملوا الصلحت جنت تجری

سخت - او داخل به کړے شی هغه خلق چه ایمان ئے راوړے او کړی نیکی باغونو ته چه بهیږی په

من تحتها الانهر خلدین فیها باذن ربهم تحیتهم فیها

لاندے د هغو نه ولے همیشه به وی په هغو کښے په حکم د رب د دوی سره ملاقات د دوی به په جنت

سلم ﴿۲۳﴾ الم تر کیف ضرب الله مثلا کلمة طیبة کشجرة

په سلام سره - ایا نه گوری ته څنګه بیان کړے دے الله مثال د کلمے پاکے لکه اونه

طیبة اصلها ثابت وفرعها فی السماء ﴿۲۴﴾ تؤتی اکلها کل

پاکه وی وینخ ئے ثابت وی او څانګے د هغے ختلے وی آسمان ته - ورکوی میوے خپلے هر

حین باذن ربها ویضرب الله الامثال للناس لعلهم

وخت په حکم د رب سره - او بیانوی الله تعالیٰ مثالونه د خلقو د پاره امید دے چه دوی

یتذکرون ﴿۲۵﴾ ومثل کلمة خبیثة کشجرة خبیثة اجتثت

سوچ او کړی - او مثال د کلمے پلیتے لکه اونه ده پلیته چه راختلے وی

من فوق الارض ما لها من قرار ﴿۲۶﴾ یثبت الله الذین امنوا

په سر د زمکے نه وی هغے لره قرار او دریداو - مضبوطوی الله مؤمنانو لره

بالقول الثابت فی الحیوة الدنیا وفی الاخرة ویضل الله

په خبره مضبوطه سره په ژوند د دنیا کښے او په آخرت کښے د په قبر ورکړو او ګمراه کوی الله

شجرة طیبة	(۱) زمکه (۲) ونه (۳) ویخ (۴) څانګے (۵) میوه	مثالونه په قرآن کښے
	زړه ، تصدیق ، اقرار ، عملونه ، ثواب	خلور خلور بیت (۱۳م) ده

۱ وا د مؤمنانو د پاره زیرے دے چه جنت ته به الله تعالیٰ دوی بوځی او د الله تعالیٰ د طرفه به سلام وی او نه چه توحید ولوبیا د توحید مضبوط بیان کړے دے او د شرک زیان ئے بیان کړو دی ایمان پشان کا او نے دے زیلے ئے تصدیق دے او د ویخ ئے اقرار دے او څانګے ئے اعمال دی او میوے ئے ثواب دی په دواړو جهانونو کښے مثال باری تعالیٰ بیانوی چه خلق پرے پوهه شی مثال د مسئلے د پاره دے لکه اوبه ته چه سپاړوا چولے شی ۱۲ ۲ دا کلمه مثال دا دے لکه لند کیمه او نه چه د هغے زیلے نه وی نو چه دا بیان او کړی نو د ونه شرک ختم شی لکه ګیه او نه چه زر ورسته وینستلے شی په خلاف د ایمان نه چه د هغه زیلے په زړه کښے مضبوط شوی وی یعنی ایمان د عاقل زړه ته وریبوځی او شرک د عاقل زړه ته نه وریبوځی ۱۲ ۳ یعنی په دنیا کښے صحیح خبره کوی د الله تعالیٰ د وحدانیت او د رسالت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یعنی عقیده ئے اسلام وی او د هغے نشر کوی او په آخرت کښے به ورله الله تعالیٰ ثواب ورکوی هغے خبرے ته ورکړی دی ۱۲

الظّٰلِمِیْنَ ۙۛ وَیَفْعَلُ اللّٰهُ مَا یَشَآءُ ﴿۲۷﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَی الَّذِیْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ

ظالمانو لره - او کوی الله هغه کار چه رضا ئے شی - آیا نه گوری ته هغوته چه بدل ئے کړو نعمت د الله

اللّٰهِ کُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ ۚ یَصْلَوْنَهَا ؕ وَبِئْسَ

تعالیٰ په ناشکرئ سره او بوتلو قوم خپل کور د هلاکت ته - چه جهنم دے. داخل به شی هغه ته او بد ځاے د

الْقَرَارُ ﴿۲۹﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّیُضِلُّوْا عَنْ سَبِیْلِهٖ ؕ قُلْ تَمَتَّعُوْا

ځائے دے. او جوړ کړی الله لره مقابل چه گمراه شی د لارے د الله نه - او وایه فائده حاصله کړئ

فَاِنَّ مَصِیْرَکُمْ اِلَی النَّارِ ﴿۳۰﴾ قُلْ لِّعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا یُقِیْمُوا

یقیناً ځائے ستاسو اور دے - او وایه ته هغه بندګانو ته چه ایمان ئے راوړے دے چه ټینګه کوی

الصَّلٰوةَ وَیُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِیَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ

مونځ او خرچ کوی د هغه مال نه چه ما ورکړے هغوته پټ او ښکاره مخکښ د هغې نه چه

یَّاْتِیَ یَوْمٌ لَّا بَیْعٌ فِیْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴿۳۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

راشی یوه ورځ چه نه به پکښ خرڅول وی او نه دوستی - الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے اسمانونه

وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّکُمْ ۚ

او زمکه او وروی ئے د آسمان نه باران پس راوباسی په هغه سره میوے ستاسو د رزق د پاره ،

وَسَخَّرَ لَکُمُ الْفُلْکَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَکُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَ

ستاسو په خدمت کښ ئے لګولی دی جهازونه چه روان شی په دریاب کښ په حکم د هغه او ستاسو په خدمت کښ ئے لګولی دی ویالے

سَخَّرَ لَکُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَیْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَکُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾

او ستاسو په خدمت کښ ئے لګولی دی نمر او سپوږمی چه په دستور سره - او ستاسو په خدمت کښ ئے لګولی دی شپه او ورځ

وَاٰتٰکُمْ مِّنْ کُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۚ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۚ

او ورکړے ئے شی هر هغه چه غواړئ - او که شمار کړئ نعمت د الله تعالیٰ نو نه شئ شمار کولے -

۱؎ دا منکرانو ته د عذاب اخروی بیان دے چه دوی د الله تعالیٰ د نعمت په مقابله کښے کفر اوکړو او قوم چه د ئے هم کافر کړو او جهنم ته ئے بوتلل ۱۲

۲؎ دا د منکرانو د پاره زورزنه ده ۱۲

۳؎ دا د عذاب نه د بچ کیدو د پاره نسخه ده چه اوس وخت دے مونځ اوکړئ او خیرات اوکړئ بیا به داسے وخت راشی چه په هغه کښے به حیلو نه تبلیغ نه کیږی

۴؎ دا د الله تعالیٰ د وحدانیت دریم ښکاره ثبوت دے چه آسمانونه او زمکه هغه پیدا کړی دی او باران هغه ورولی او میوے په هغه ستاسو د خوراک د پاره پیدا کړی جهازونه هغه تاسو لره تیار کړی یعنی او د لے هم د هغه دی نمر او سپوږمی هم هغه ستاسو په خدمت کښے لګولی دی او شپه او ورځ هم هغه پیدا کړی ستاسو د پاره او چه څه غواړئ نو د رکولے شی بیا د هغه اختیار دے چه ستاسو د پوره کوی یا نه د الله تعالیٰ نعمتونه شمار نه شی شکر د هغه خو د رکښار انسان ظالم دے چه دا سے محسن پیژنی هم ۱۲

۵؎ ولوکان الغرا الحم قوم سیشهد یوم القی ...

له د عقلی دلیلو نو ذریعه او دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه کفارو سره نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه ١٢
توحید بیان شو ... نو ... مسئله ده ... آو ورید لے نو الله تعالی فرمائی چه ابراهیم علیه السلام ...

إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا

یقیناً انسان ډیر ظالم او ناشکره دے - او کله چه او وے ابراهیم اے ربه کړه دا

الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ

ښار لره د امن او ځان کړه ما او ځامن زما د عبادت د بتانو نه اے ربه دوی

أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ

ګمراه کړیدی ډیر خلق - نو چا چه تابعداری او کړه زما نو هغه زما دے - او چا

عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي

نافرمانی او کړه زما نو یقیناً ته بخښونکے مهربان یے - اے ربه ما آباد کړی دی اولاد ځینې

بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ

په یو میدان کښې چه په فصله ... خواوې ... ستا حرمت والا کور ته اے ربه د دې دپاره چه قائم کړی دوی لمونځ

فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ

نو کړه زړونه د ځینو خلقو مائل دوی ته او روزی ورکړه دوی ته

الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ

میوو نه امید دے چه دوی احسان او منی - اے ربه یقیناً ته پوهیږے په هغه چه پټوو او په هغه چه

وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٣٨﴾

ښکاره کوو او پټ نه دے په الله هیڅ شے په زمکه کښے او نه په آسمان کښے -

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ

ټول صفتونه هغه الله لره دی چه اوبخښل ماته په بوډا والی کښے اسمعیل او اسحاق - یقیناً

رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي

ربه زما اوری دعا لره - اے ربه کړه ما لره او لره کوونکے د لمانځه او د اولاد زما -

صفت شکله دعا ګانے غوښتے چه اے ربه ما او زما اولاد د عبادت د بتانو نه بچ کړه او ښام هغه غیرتمند والا چه د هغه عبادت شوے وی بے د الله نه ١٢

له دوی سبب او ګمراهی شو ١٢

له دا د ابراهیم علیه السلام د یرو ... دے او د عوت په ...

له دا مکه معظمه ده چه اسمٰعیل علیه السلام لره او اسحاق علیه السلام ئے په شام کښے آباد کړو ١٢

له ابراهیم علیه السلام ته معلومه ده چه دا ځائے د بیت الله شریف د آدم علیه السلام په وخت کښے آباد شوے وه بیا د وستو ابراهیم علیه السلام آباد کړو ١٢

له دا اسم اعظم د الله تعالی دے یعنی غیب او حاضر ... صرف الله تعالی دے ١٢

له یعنی ځکه چه الله تعالی په هر شی پوهیږی نو دغه کارساز هم الله تعالی دے او حاجت پوره کوونکے هغه ځکه وی چه هغه غیب دان او کارساز وی او دا صفت صرف د الله تعالی دے ١٢

رقا لله ٥) حضرت ابراهیم علیه السلام په ارض علاق د عراق کښے پیدا شوے وه ... ابراهیم علیه السلام ترے په ... رئیس وه هغه خپله ... ساره ده ... ورکړه ... د تله ... ابراهیم ... هغه د خپل کور ... او د ... ١٢

کے د اوغفد اب اخروی بیان وشہ د پارہ د منکرانو چہ داسے سختہ ورځ دہ چہ سترګے د خلقو بہ پکښے باقے وتلی وی سترګے بہ ئے ورشی او زړونہ بہ ئے خالی وی ۔ اوہ ورتہ بہ ګوری چہ عذاب بہ کلہ راځی او زړونہ بہ ئے الوزی د ویرے نہ او غاښونہ بہ ئے ورشی کلکہ ۱۲ سکے

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ

زمونږ ربہ قبول کړہ دعا زما ۔ اے ربہ معاف کړہ ما لرہ او مور و پلار زما لرہ او مؤمنانو لرہ پہ ورځ د

الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ إِنَّمَا

قیامت ۔ او ګمان مہ کوہ پہ اللہ چہ نا خبرہ دے د کار د ظالمانو نہ ۔ یقیناً

يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي

روستو کوی دوی لرہ هغے ورځے تہ چہ باقے بہ شی پکښے سترګے ۔ منډے بہ وهی او پورتہ کوونکی بہ وی

رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ

سرونو خپلو او نہ بہ واپس کیږی دوی تہ نظر د دوی ۔ او زړونہ د دوی بہ الوتلی وی ۔ او او ویرہ ورہ

النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا

خلق د هغہ ورځے نہ چہ رابہ شی دوی تہ عذاب نو بہ وائی ظالمان اے ربہ روستو کړہ

إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا

مونږہ نیږدے نیټے تہ چہ او منو بلنہ ستا او تابعداری او کړو د رسولانو او بہ وائی اللہ آیا قسمونہ

أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ

نہ وو کړی تاسو مخکښے چہ نشتے تاسو لرہ زوال ۔ او آباد وئی تاسو پہ کورو د هغہ

الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا

چا کښے چہ ظلم ئے کړے وو پہ ځان خپل او ښکارہ شوہ تاسو تہ چہ څنګہ کار مو اوکړو د دوی سرہ

لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن

او بیان کړی مو وو تاسو تہ مثالونہ ۔ او کړے وو دوی فریب خپل او د اللہ پہ مخکښے دے فریب د دوی ۔ او ندوہ

كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ

مکر د دوی چہ روان شی د هغے نہ غرونہ ۔ ګمان مہ کوہ پہ اللہ چہ خلاف بہ او کړی د وعدے خپلے نہ

داسے سختہ ورځ دہ چہ کلہ راشی نو ظالمان بہ او وائی چہ مونږ تہ موقع راکړہ چہ ستا د رسولانو حکم او منو نو اللہ تعالیٰ بہ ورلرہ جواب ورکړی چہ تاسو خو قسمونہ کول چہ زمونږ ۔ خپید نیشتے چہ دنیوی عذاب نیشتے یا بہ پہ مونږ ختم نہ شو څکہ د مرګ نہ خو کافرانکار نشی کولے ۱۲

سکے تاسو د ظالمانو پہ کورو کښے اوسیدلی وئی نو ما دوی سرہ څہ کار کړے وے او تاسو تہ ما مثالونہ بیان کړی وو نو ولے ترینہ تاسو عبرت نہ اخستو ۱۲

سکے د پیغمبرانو مثال داسے دے لکہ غرونہ نو غرونہ څوک روانولے شی یعنی د کافرانو د مکرونو نہ پیغمبرانو خپل دعوت کلہ پریخودو اللہ تعالیٰ د پیغمبرانو سرہ وعدہ کړے دہ د کامیابئ نو د هغے نہ خلاف نہ کوی اللہ زبردست دے او بدلہ ورکوونکے دے پہ هغہ ورځ چہ دا زمکہ بہ بدلہ شی پہ بلہ زمکہ سرہ او آسمانونہ بہ هم بدل شی او د اللہ تعالیٰ دربار تہ بہ خلق لاړ شی مجرمان بہ پہ زنځیرونو کښے بند وی او د ګوګړو بہ ئے قمیص وی څکہ چہ ګوګړ اور تیز وی ۱۲

ع ۶

ﻟﻪ دا قول سورت سره ﻟﮕﻲ يعنې دا رسول له وعدې چا پر زور منل نه دي او ټولو خلقو ته دعوت دے څو بندګان توره
تګ مکنېږي پيغمبران په چه خاص خاص قوم ته را ليږلے کيده او نبي کريم صلى الله عليه وسلم ټولو دنيا ته راليږلے شوے دے

رُسُلَهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝٤٧ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ

د رسولانو سره - يقيناً الله زبردست دے بدله اخستونکے دے - په هغه ورځ چه بدله به شي دا زمکه په بله زمکه

وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۝٤٨ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ

او آسمانونه او ښکاره به شي ټول الله ته چه يو دے او غالب دے - او ته به ويني مجرمان

يَوْمَىِٕذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ۝٤٩ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى

په هغه ورځ تړلي شوي په زنځيرونو کښے - قميصونه به د دوي وي د ګوګړو او پټوي به

وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ۝٥٠ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

مخونه د دوي اور - چه بدله ورکړي الله هر يو نفس ته د کسب د هغه - يقيناً الله زر حساب

الْحِسَابِ ۝٥١ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا

کونکے دے - دا رسول دي خلقو ته او چه او ويرولے شي دوي په دے سره او چه پوهه شي دوي چه

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٥٢

يقيناً هغه الٰه يو دے او چه سوچ او کړي عاقلان -

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

آيتونه (٩٩)	شروع په نوم د الله چه بے حده مهربان رحم کونکے دے	ركوع ګانې (٦)

الٓرٰ ۣ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝١

الله ښه پوهيږي - دا آيتونه د کتاب دي او د قرآن بيانونکي دي -

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۝٢ ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا

په يو وخت کښے به آرزو کوي کافران چه ارمان مسلمانان وے - پريږده دوي چه خوري

وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝٣ وَمَآ اَهْلَكْنَا

او مزے کوي او غافل کوي دوي لره اميدونه زر به پوهه شي - او نه دے هلاک کړي

ﻟﻪ دا قول بيانونه څخه په دے مسئلے د پاره دي يعنې دا اے لويه مسئله ده چه هيڅوک دا اونه منلو دا په علايمو ئې دا اے سوچ وي ما قلان کوي کم مقلوته دا مسئله دوهمه لويه نه ښکاري ١٢ عنه ربط: که د دوهمه بيانا تو نه بعد هم نه مني نو بيا ورته خطاب زاروان دے چه دوي پکښے ځنیانه شي - خلاصه: دلائل عقليه رن نمونے کتاب شو کو مونږ دے کړنکښو تو مونږ او د دوي د عقل د دے آمت ديته اشاره په الکتٰب او قرآن مبين: سره - په ابتداء د تمهيد سره ترغيب دے په درميان کښے اعلان دے چه کار ابليس خبره منه منو او کو پيغمبر خبره او منی په آخر کښے تسل دے نبي ته پيوے باقي ټول مضامين نازل شوے قبل الانعام وبعد يوسف زمانه د نزول دوراخر مکه، په ترتيب قرآني کښے (١٥) او په نزول کښے (٥٤) دے دا تمهيد بيان دے چه دا سورت دا تمهيد دا قرآن والمعرفت رتبه نزول دے قانون دے چه په سوره د سورت کښے قرآن او کتاب دواړه ذکر شي نو په دغه سورت کښے به د مکذبينو ذکر وي

ﻟﻪ يعنې په هغه وخت دواړه دوي او هم په خپله خوښه نو دا آرمان په او کړي دا دوي ته دا د آمت بيان وه ١٢ ﻟﻪ دا زوره دا نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائي چه او په الله تعالى يقيناً او په ربنتيا کوه دنيا سره او د نياته په مثل

(بیا ۴ د صـ ۳۲۹ نه) هلاکت بخلل او امید کول ونډا مرسته. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی څلور خبرې دې د بد بختۍ دی. اوچ والی د سترګو او سختوالے د زړه حرص د دنیا او اوږده امید ده وحسن بصري فرمائي چه د سړي امید او ږده وي نو عمل به ګټه وي او چه امید ئې کم وي نو عمل به ښه کوي۔ تاک ۲ دا د عذاب وخت بیان دے (قرطبي) لک ۳ دا هم زورنه ده چه دوی حق نه منی او دا ئې غلطه خبره کوی او تعلق به ګی کوی ۱۲

من قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ ۝ مَّا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ

هیڅ کلے مګر حتمی فیصله وه مقرر د هغې. نه مخکښې کیږي هیڅ امت د

أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ۝ وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ

نیټې خپلې نه او نه روستو کیږي. او وائی دوی اے هغه سړیه چه رالیږلے شو تا ته

الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ۝ لَّوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ

قرآن ته خو لیونے یې. ولے نه راوړې مونږ ته ملائک که یې ته د

الصَّادِقِينَ ۝ مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوا إِذًا

رښتونو. نه رالیږو ملائک مګر د حق خبرې دپاره او نه به وي دوی به دغه وخت

مُّنظَرِينَ ۝ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ۝ وَ

مهلت والا. یقیناً مونږ رالیږلے دے قرآن او مونږ د دے ساتونکي یو. او

لَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ۝ وَمَا يَأْتِيهِم

یقیناً لیږلي دي رسولان مونږ ستا نه مخکښې په ډلو د مخکنو کښې. او نه راتلو دوی ته

مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ۝ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ فِي

هیڅ رسول مګر دوی به په هغه پورې ټوقې کولې. دغسې ننباسو مونږ دا په

قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ۝ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ۝

زړونو د مجرمانو کښې. ایمان نه راوړي په هغې او تیر شوی دے قانون د مخکنو. نو

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ۝

او که پرانیزو مونږ دوی ته دروازه د آسمان نه نو تول ورځ به په هغې کښې ختیږي

لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ۝

نو وبه وائي یقیناً بند شوي نظرونه زمونږ بلکه مونږ سحر شوي خلق یو.

کوی ۱۲ تک ۴ د اعتراض جواب دے چه ملائک د دنیا ته د عذاب د پاره راځي بیا مهلت نه وي. تک ۵ دا هم دعوت دے بیان دے چه قرآن مونږ رالیږلے دے او زمونږ به ئې حفاظت کوو. مخکښې ما هم ښیان لیږلي وو په هغوی پورې هم دوی ټوقې کړې دی د غسې دا ټوقې به کوی او په زړه نو کښې کیکوو، مطلب چه دوی د ټوقو اراده کړې ده نو د مخکښې قومونو شان به هلاک شي. تک ۶ په سورتونو کښې دی چه د مخکښې کتابونو حفاظت علماؤ ته حواله شوے وه نو څکه پکښې تحریف اوشو. په خلاف د قرآن نه چه د دې حفاظت باری تعالیٰ په خپله کوی ۱۲ تک ۷ دا هم د دوی جواب دے چه او وئې چه مونږ ته ولے ملائک نه راځي نو الله تعالیٰ جواب کوی چه که ملائکو په ځائے که د کافران آسمان ته هم خیژي نو بیا به هم دوی نه منی. سحر دیته وائی چه په څه شي منترا وشي او د هغه په وجه ئې نو خلقو په سترګو کښې مثلاً مار ښکاره شي او نظر بند د دیته وائی چه هر څه حاضر نه وي خو مار ښکاري خو ورته لګي ۱۲ عه یعنی دا د ځه په خیال کښې ۱۲

لے د الله تعالیٰ د وحدانیت د پاره بیشمار برهان دي اول چه په آسمان کښې ستوري ما پیدا کړي دي زمکه ما غوړولې ده او غر ونه ما پیدا کړي دي او ګیا او ونې ما پیدا کړي دي او اسباب د ګذران ستاسو ما پیدا کړي دي

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِينَ ۝ وَحَفِظْنٰهَا

او یقیناً مونږ جوړ کړي دي په آسمان کښې برجونه او ښائسته کړي مونږ دغه آسمان کتونکو ته - او ساتلي مونږ

مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيمٍ ۝ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ

دا د هر شیطان مردود نه - لیکن هغه څوک چه پټ غلا سره واوري نو ورپسې شي

شِهَابٌ مُّبِينٌ ۝ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ

لمبه ښکاره - او زمکه مونږ غوړولې ده او غورزولي دي په هغې کښې غرونه

وَاَنْۢبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ۝ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا

او راټوکولي مونږ په هغې کښې هر شے په اندازه سره - او پیدا کړي مونږ په هغې کښې تاسو ته

مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِينَ ۝ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا

اسباب د ګذران - او هغه څوک چه تاسو ورله رزق نه ورکوئ - او نشته هیڅ څیز مګر

عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ۝ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ

زمونږ سره د هغه خزانې دي او نه راکوو مونږ هغه مګر په اندازه معلومه سره - او رالیږو مونږ بادونه

لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ وَمَا اَنْتُمْ لَهٗ

د اوبو نه ډک نو راوروو مونږ د آسمان نه باران نو څکوو مونږ هغه په تاسو باندې او نه یئ تاسو د هغې

بِخٰزِنِينَ ۝ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُونَ ۝ وَلَقَدْ

جمع کوونکي - او یقیناً مونږ ژوندي کوو او مړه کوو او مونږ وارثان یو - او یقیناً

عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِينَ ۝ وَاِنَّ

معلوم دي مونږ ته وړاندې خلق ستاسو او یقیناً پیژنو مونږ روستني خلق او یقیناً

رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ اِنَّهٗ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ۝ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ

رب ستا به جمع کړي دوي لره - یقیناً الله حکمت والا پوهه دي - او یقیناً پیدا کړے مونږ انسان

خلق ما پیدا کړي دي چه خدمت ستاسو کوي او رزق ورلره زه ورکووم هر څوک او ښکاروي وغیره د هر څیز خزانې ما سره دي په اندازه هر شے زه پیدا کووم ورته زه پیدا کووم او باران هم زه ورووم ژوندی کول زه کووم او مړه کول زه کووم او د هر څیز وارث زه یم په دے کښې د الله تعالیٰ د قدرت مظاهر دي ۱۲

لے په دے مقطع کښې د باري تعالیٰ لوے علم بیان دے چه ټول خلق ما ته معلوم دي او روستني خلق هم ما ته معلوم دي نو حاصل دا شو چه لوئے قدرت والا صرف الله تعالیٰ دے او د لوئے علم والا هم صرف الله تعالیٰ دے او حاجت پوره کوونکے هغه څوک دے چه حاجت ورته معلوم وي او په حاجت پوره کولو باندے قادر وي او قدرت کامله او علم محیط خو صرف د الله تعالیٰ صفت دے نو حاجت پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے نو حاجت صرف د هغه نه غواړئ نه د بل ما سوی الله نه ځکه چه بل ما سوی الله لره نه علم محیط شته او نه ورلره قدرت کامله شته لبر غوندے عارضي علم لے وے په اسبابو سره او د غیبے لبر غوندے قدرت عارضي دے په اسبابو سره په حکم د عدم کښې دوا لره دي ۱۲

ف د ولته الله تعالیٰ د خپل قدرت بیان وایی کوم چه انسان خپل ځان ته وګوري چه هم د دغه ګنده بیدا کړي شوی او بیا هم ګا ور
ته پیدا کړي شوي نو د ومره لوئي قدرت والا بادشاه نه حاجتونه غوښتل پکار دي او د غه عاجز نه - او مخلوق سره عجز او

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ۝٢٦ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ

د آواز کوونکي خټې خمبیره شوي نه - او پیریان مو پیدا کړي وو مخکې

مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ۝٢٧ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا

د اور د ګرمې هوا نه - او کله چه او وې رب ستا ملائکو ته چه زه پیدا کوونکی یم بشر لره

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ۝٢٨ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ

د آواز کوونکي خټې خمبیره شوي نه - نو کله چه برابر کړم هغه او پو کړم په هغه کښې

مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ۝٢٩ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۝٣٠

د خپل طرف نه روح نو شئ هغه ته سجده کوونکي - نو سجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع -

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ۝٣١ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ

مګر ابلیس - منع اوکړه د دې نه چه شي د سجده کوونکو نه - او وې الله اے ابلیسه

مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ۝٣٢ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ

څه او شو تا لره چه نه کیږې د سجده کوونکو سره - او وې هغه زه هغه نه یم چه سجده اوکړم بشر ته

خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ۝٣٣ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

چه تا پیدا کړي دې د آواز کوونکي خټې خمبیره نه - او وې الله نو اووځه د دې ځائې نه

فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ۝٣٤ وَّاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ۝٣٥ قَالَ

نو یقیناً ته مردود وې - او یقیناً په تا باندې لعنت دې تر ورځې د انصاف پورې - او وې ابلیس

رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝٣٦ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۝٣٧

اے ربه نو مهلت راکړه ماته تر هغه ورځې پورې چه مړي به پکښې پورته کولې شي - او وې الله یقیناً تاته مهلت دې

اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ۝٣٨ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاُزَيِّنَنَّ

تر ورځې د وخت مقرر پورې - او وې ابلیس اے ربه په سبب د دې چه ما لره دې ګمراه کړو نو زه به ښائسته

ف به علمی لازمه ده ځکه قدرت کامل او علم مو هم د الله صفت دې نو ځکه الله تعالیٰ په قرآن کښې ځائې ته بار بار دوا د عزیز او حکیم د عزیز نه معلومیږي لوئې قدرت او د حکیم نه معلومیږي لوئې علم د باري تعالیٰ ۱۲

ف د ابلیس لعین قصه باري تعالیٰ کوي د دې دپاره چه ابلیس ستاسو ټولو دشمن دې د ده خبره مه منئ دې په تاسو شرک کوي بلکه د غیر خدائې خبره چه چیغیږي او منئ ۱۲

ف یعنی تر قیامته پورې خو صرف لعنت دې یعنی د الله د رحمت نه محرومي د وجه د ایمان دې او بیا به په قیامت کښې سره د لعنت نه نور عذاب زیات شي داخلي ۱۲

ف یعنی ماله مهلت راکړه تر هغه وخته پورې چه بیا خلک نیشتې مطلب دا چه ماله هیڅ مرګ نه راکړه ۱۲

ف الله تعالیٰ ورله جواب ورکړو چه تا ته مهلت تر اولې شپېلۍ پورې دې یعنی کوم وخت چه ټول خلق سره بمع مړه کیږي دا هم تر هغه پورې ورله ورکړو نیشتې - د شیطان اولنۍ حمله ده د شرک وجه د بدعت او د ریم رسمونو خلق ورله ټګ هم دوه دا غه دا چه دا ټولې حملې ئې ټوبیا ځمه اخري حمله د وسوسه ده په زړه د خلقو ګنده ګنده خطرې غور کړی وي نو ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه دا بې اختیاره خطرې د ایمان علامه ده ۱۲

ك شو مره لوریه اوی وه د ابلیس چه مولٰی ته وائی چه تا گمراه کړم وا اووو د وزخونه د حسب او پاکو دے او آدم علیه السلام خپله مولٰی ته عذر پیش کړو چه اے الله خطا مے غلطی شوے ده نو ځکه الله جنتونه ورکړے ادب نتیجه ده . شامر والی خووبو

لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

کړم دوی ته به زمکه کښے او گمراه به کړم دوی ټول . مگر بندگان ستا د دوی نه

الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ

غوره . اووے الله دا لاره ماته (د توحید) برابره ده . چه یقینا

عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ

بندگان خما چه دی نشته ستا په دوی باندے زور . مگر هغه څوک چه تابعداری کوی ستا

الْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ

گمراهانو نه . او یقینا جهنم وعده د دوی ده د ټولو . د هغه ا وو

أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ﴿٤٤﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي

دروازے دی . د هر دروازے د پاره د دوی نه حصه ده مقرر . یقینا متقیان به په

جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِي

جنتونو او چینو کښے وی . ننوزئ دے ته په امن سره . او لرے به کړو هغه څه چه

صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمْ

زړونو د دوی کښے کینه وه رورولی سره به وی په تختونو به وی مخامخ . نه به رسی دوی ته

فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي

په جنت کښے تکلیف او نه به دوی د جنت نه ویستلے شی . خبر کړه بندگان خما چه زه

أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

بخښونکے مهربان یم . او یقینا عذاب خما هم هغه عذاب دے سخت

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا

او خبر کړه دوی ته د میلمنو د ابراهیم نه . کله چه لاړل هغه له نو او وے هغوی سلام

ښپانه غرور داشت چه بنگه درجه آفاق ته رسیده یعنی په ادبه سره ځوانځے ځکه تکلیف نه رسوی بلکه غرور خلق هم گمراه کړو لکه ابلیس علیه اللعنة ۱۲

ك دا د صراط مستقیم بیان دے ۱۲

ك دا دوزخ ته اووه دروازے دی جنت اوچه په جنت کښے بیا څه تکلیف او حسد به هم نه وی او دوی به پکښے همیشه وی ۱۲

ك د دے نه د الله تعالٰی رجا او امید معلومیږی ۱۲

ك د دے نه خوف معلومیږی او ایمان هم د ویرے او د امید نوم دے چه خما ته الهوری لو ویریږی او چه د باری تعالٰی رحمت گوری نو امید به لری د الله تعالٰی د رحم نه . شیخ سعدی وائی سه بضاعت نیاوردم الا امید خدایا ز عفوم مکن ناامید یعنی د عمل وسیله مے نشته البته ستا د رحم وسیله لرم حضرت عمر فرمائی که په قیامت کښے کومه ورځ د جهنم فیصله اوشی نو زه وایم چه هغه زه یم د ویره ویریږم د الله تعالٰی نه او که د ټولو د جنت فیصله اوشی نو زه وایم چه هغه زه یم د ویره هم طمع ده ۱۲

ك دا تمهید دے اوله لوطی ته د تباه قوم تذکره چه قوم د لوط علیه السلام وو دے ۱۲ ك یعنی د هغوی ملائکو سلام او کړو چه په انسانی شکل کښے راغلی وو هغه او وے چه دا نا آشنا قوم دے ځکه چه خپیدا ان نه وو ۱۲

لـه واتهوهلـﷺ ادکړه سره د يقين نه په خبره د ملائکو د پاره د دوباره کولو د زيرغايو. ۳ـه د خدائے تعالىٰ د رحم نه نا اميده ګمراه وي ځکه رحم د الله تعالىٰ په عملونو بانده نه موقوف نه دے ۱۲ ۴ـه د دغو ملائکو نه حيثيت معلوميدو و منو

قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ

ابراهيم په مونږ ستاسو ويريږو - اووے هغوئ چه مه ويريږه مونږ زيرے درکوو تاته په هلک

عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ

پوهه سره اووے هغه آيا زيرے راکوئ ماته سره د دے چه رسيدلے دے ماته بوډاوالے نو د څه

تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ الْقَانِطِينَ ﴿٥٥﴾

زيرے راکوئ ماته - اووے هغوئ چه زيرے کوو تاته رشتونے نو مه کيږه د نا اميدو نه -

قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا

اووے هغه او څوک نا اميد کيږي د مهربانئ د رب خپل نه مګر ګمراهان - اووے هغه نو څه

خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾

مقصد ستاسو دے اے استازو (د الله) اووے هغوئ مونږ راليږلے شوي يو يو قوم مجرم ته -

إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا

مګر خاندان د لوط ، مونږ بچ کوو دوی ټول - مګر ښځه د هغه مقرر کړے دے مونږ چه

إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ

دا پاتے کيدونکو نه ده - پس کله چه راغلل خاندان د لوط ته استازي د الله اووے هغه

إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾

يقيناً تاسو قوم يئ نا اشنا - اووے هغوئ بلکه راوړے دے مونږ تاته هغه عذاب چه دوئ په کښے شک کولو

وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٦٤﴾ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ

او راوړے ده مونږ تاته رښتيا خبره او مونږ ه رښتوني يو - نو بوځه کور والا خپله په يوه حصه د

اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَامْضُوا حَيْثُ

شپے کښے او روان شه په روی پسے او نه د ګوري پيرته ستاسو يو کس او لاړ شئ هغه ځاے ته د کوم چه

ابراهيم عليه السلام ته ويره نه چوس اوکړو ۱۲

۴ـه واوتباه قوم او له څو نه ده چه څوک غير الله ته متصرف او واک يا دے په الله تعالىٰ زور راوړ کړنيږي نو هغه هلاکيږي لکه د لوط عليه السلام قوم چه هلاک شو ۱۲

۵ـه يعني ستا د ښځے د پاره نه يو راغلي بلکه هغه عذاب مونږه راوړے دے چه دوے ګفار په کښے شک کولو

۶ـه په دے تباه قوم پسے وے افسوس نه کوي ۱۲

۷ـه د لوط عليه السلام ښځه منافقه وه نو غرقه شوه لوط عليه السلام د ښځے د کفر نه نه وه خبر او نه د هغه مسلمانے شو معلومه دا شوه چه په غيب پوهيدونکے او کارساز متصرف او صرف الله تعالىٰ دے او دا هم ښکاره شوه چه وسيله اتباع د خو خلقو ده او بے د اتباع نه نه شي وسيله کيدے لکه د مثال په طور سړک وسيله ده د رسيدو منزل مقصود ته ولے چه سړک پسے روان شي نو بيا په د تللو نه په سړک باندے سړک وسيله نه شي کيدے نو ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم او وے اے ناطق ګمان بچ کړه د او رنه د په

اتباع سره زه تاته شم پچ کولے د بے د اتباع نه يا الله زمونږ اتباع د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نصيب کړے ۱۲

ـله واوا قعه محکښې وه او په ذکر کښې وه ستو ۱۲ ـله یعنې دا ستاسو نیمځ شرمی او نړه وی دی وو دېره خیل قوم لوط پیوه کړل ۱۲ ـله وا قسم د پاره کړه ما ته ځیږه ده یعنی الله تعالیٰ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وائی چه الله تعالیٰ قسم

تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ

تاسو ته حکم شوے دے - او مونږ کړه مونږ ده ته دا خبره چه بنیاد د دغو ختو کړے شی

مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ

په سحر کښې - او راغلل د کلی خلق خوشحاله له - او وئیل لوط یقینًا

هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾

دا میلمانه زما دی نو ما ته شرمنده مه کوئ - او ویریږئ د الله نه او ما له بے عزتی مه کوئ -

قَالُوٓا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيٓ إِنْ

او وے وئیل آیا نه ؤ منع کړے مونږ تا له د عالم (د حمایت) نه - او وئیل دا لونړه زما ستاسو دی که

كُنتُمْ فٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ

کړئ تاسو څه کوئ (خواهش خپل) الله قسم ستا په ژوند دے یقینًا دوی په مستئ خپله کښے وو ګمراه

الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

دوی له سخت آواز د نمر په ختو کښے - نو کړه مونږ د کلی بره طرف د دغو کلو لاندے او اوورول په دوی باندے

حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾

کانړی د پخو خاورو - یقینًا په دے کښے نښے دی فکر کوونکو لره -

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او دغه کلی په سوا لارے باندے دی - یقینًا په دے کښے نښه ده مؤمنانو لره -

وَإِن كَانَ أَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ لَظٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَ

او وو اوسیدونکی د ځنګل ظالمان - نو بدله واخسته د دوی نه او

إِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾

او دا دواړه کلی په صاف لارے باندے دی - او درواغجن کړل د حجر خلقو پیغمبرانو لره -

تالره ژوند ستا قسم چه د غه قوم په مستئ کښے ګمراه وو ۱۲ ـله شروع د عذاب وه په سبا ختو کښے نو هلاک الله تعالیٰ کړل او وے ګرځولو او ختم د عذاب وه په نمر ختو کښے ۱۲ ـله او قوم خلق چه پوه وو د ګلونه په حقوق دے کښے او ورپسے ۱۲ ـله دا ے سوچ کوئ چه ښکلو د خپل مونږ نه خلاف کوئ نو دا ے په هلاکیږی ۱۲ ـله یعنی دا خلق کله چه شام ته ځی نو دغه کلی د لوط علیه السلام د قوم چه کښے راځی او آثار د دغو کلو لا باقی دی ۱۲ ـله دا دویمه قوم ده د تباه قوم دا د شعیب علیه السلام قوم وه ایکه د مدین ښار د متعلقاتو نه وه مدین او ایکه د واړو ته شعیب علیه السلام رالیږلی شوے وو د ایکه معنی ده ځنګل دا ښار د ځنګل په ځنګل کښې آباد وه ۱۲ ـله دا دریم قوم ده د تباه قوم حجر یو میدان دے مونږ یاد کښے اوسیدل صالح علیه السلام دوی ته رالیږلی شوے وه دوی ثمود قوم

نبه دے دا ته ظاهر جوړ ولی د صالح علیه السلام دعوت ونه منلو نو په سخت آواز سره هلاک شو - د یو پیغمبر دروغ ژن کول د ټولو پیغمبرانو دروغ ژن کول ګڼل کیږی چه عقائد د ټولو پیغمبرانو یو دے فرق په فروعی مسائلو کښے دے ۱۲ ف

لـه د الله تعالى د وحدانيت دوېم دليل دې چه آسمانونه او زمکه باري تعالى د حق د پاره پيدا کړي دي نو د دې نه مسئله د توحيد ثابته شي او کوم د ا مسئله چه او مسئله د رسالت او د قيامت او د دې نه مسئله نبوت د داړي او قرآن د فيصلې د پاره ...

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ

او ورکړي ؤ مونږ دوی ته دليلونه نو دوی د هغو نه مخ اړونکي وو - او کښتل دوی

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾

د غرونو نه کورونه په آرام سره - نو اونيوه دوی لره سخت آواز په سحر کښې -

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

نو فائده ونه کړه دوی لره هغه څيز چه دوی ګټلي وو - او مونږ نه دي پيدا کړي آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ

او زمکه او هغه څه چه په مينځ د دواړو کښې دي مګر د فائدې د پاره - او يقيناً قيامت راتلونکي دې نو ته ځان واړوه

الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ

په ښه طريقه سره - يقيناً رب ستا پيدا کوونکي د هر څه پوهه د هر څه - او يقيناً

اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ

مونږ درکړي دي اووه آيتونه وظيفه او قرآن لوئ - مه اوږدوه دواړه سترګي

عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

سترګي خپلي هغه څه ته چه مونږ فائده ورکړې ده په هغې سره ډلو ډلو ته د دوی نه او مه غم کوه په دوی باندې

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ اِنِّيْٓ اَنَا النَّذِيْرُ

او ټيټ کړه وزره خپله مؤمنانو ته - او وايه چه زه يم ويروونکی ښکاره په ښکاره

الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ

د داسی عذاب لکه چه مونږ نازل کړي دي په تقسيم کوونکو باندې - هغوی چه جوړ کړې دې دوی قرآن لره

عِضِيْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

ټکړې ټکړې - قسم دې په رب ستا چه تپوس به اوکړو مونږ د دوی ټولو - د هغه څه چه دوی کول -

لـه داروان ونه کړه مخالفين ستا او حقه مسئله د منلو الټه به دې والي نو ته ترڅه واړوه په ښه طريقه سره نه چه زړه د جوش د انتقام نه ډک وي. باري تعالى هر څه کولے شي عاجز نه هم پيدا کولے شي او قيامت هم قائمولے شي او ستا مخالفين هم ذليل کولے شي ۱۲

۲ لـه داتسلي ده چه تا سره خدائے تعالى دومره لوئے فضل کړے دے نو د مخالفينو د مخالفت پرواه مه ساته او خلقو ته مه ګوره او د خپلو ملګرو خيال کوه ۱۲

لـه دا د تباه قوم خلقو نه د دې نه ويرے ګرځي د هغه قومونو تير شوي او دوه ګوري امت دې يعني په دې موجود وکا فرو به عذاب راولېږم لکه چه عذاب راليګلي وُه په هغو ولسو کسانو باندے چه هغوئ لاړے د مکے معظمے تقسيم کړے وے او په هر لاره په يو کس ناست وُه او راتلونکو خلقو ته يې وئيل چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ليونے يا شاعر يا دروغژن وغيره دے نو په هغوئ باندے عذاب راغلے وُه ۱۲

[illegible]

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيْنَاكَ

صاف بیان کړه هغه شی چه تا ته پرې حکم کیږي او مخ وګرځوه د مشرکانو نه - یقیناً مونږ کافي یو تا ته

الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿٩٥﴾ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ

د ټوقو کوونکو نه - کوم چه جوړوي د الله سره اِله بل نو زر به پوهه

يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾

شي دوي - او یقیناً پوهیږو مونږ چه تنګیږي سینه ستا په هغې چه وائي دوي -

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ

نو پاکي بیانوه صفتونو د رب خپل او شه د سجده کوونکو نه - او بندګي کوه د رب خپل

حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿٩٩﴾

تر دې چه راشي تا ته یقیني خبره (مرګ)

سُورَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ثَمَانٌ وَعِشْرُونَ وَمِائَةُ آيَةٍ وَسِتَّ عَشْرَةَ رُكُوعًا

آیتونه (۱۲۸)	شروع په نوم د الله سره چه ډیر مهربان رحم کوونکے دے	رکوع (۱۶)

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١﴾

راورسیده حکم د الله نو تلوار مه کوئ د هغې - پاک دے الله او اوچت دے د شریک جوړولو نه -

يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

رالیږي ملائک د روح (وحی) په حکم خپل سره په هغه چا چه رضا شي د بندګانو خپلو نه

أَنْ أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

چه او یروئ دوي چه نشته اِله مګر زه یم نو او یریږئ زما نه - هغه پیدا کړي دي آسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ تَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن

او زمکه د حق سره - اوچت دے د هغوي د شریک جوړولو نه - هغه پیدا کړے دے انسان د

[illegible]

(وړاندې ... ته) پیدا کوي کله لا زیات موثر دلیل حوالې پیدا زړونو ته. چه دا کاروه نطفے کړي یې نو تا سو بیا وه باره هم پیدا کړی شئ. دغه سورت نحل نازل شو. ... پس ... زمانه د نزول د وړ آخر ... مه ... چه ترتیب قرآني کښې (۱۶) او په ترتیب نزول کښې (۷۰) دے ۱۲

نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾ وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ

نو ناګاه دغه جګړه کوونکے ښکاره دے. او څاروي ئې هغه پیدا کړي دي تاسو لپاره

فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ

په هغو کښې د ګرمۍ سامان او ډير فائدے دي او د هغو ځینے خورئ. او تاسو لره په هغو کښې ښائست دے کله چه

تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ

بیګاه ئې کورته راولئ او کله چه ئې څر لره بوځئ. او درنې پیټي ستاسو هغه کلي ته چه تاسو

تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾

ورته نه شوئ رسیدے مګر ځانان ستړي کولو سره. یقیناً رب ستاسو مهربان او رحم والا دے.

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا

او پیدا کړي ئې دي آسونه او قچرې او خرونه چه تاسو پرې سواره شئ او د ښائست دپاره. او پیدا به کړي هغه

لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۚ وَلَوْ شَاءَ

چه تاسو ئې نه پیژنئ. او د الله تعالی ذمه سمه لاره ده او ځینې ئې کږې هم دي. او که رضا ئې وے

لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩﴾ هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ

هغه به نو تاسو ټول لاره ته برابر کړي وے. الله هغه ذات دے چه ورولې د آسمان نه باران ستاسو دپاره د هغې نه

شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ

ربك لواقع ده ۔ یعنی که تاسو حکمت د الله تعالیٰ نه منئ نو تاسو به تړوند وکړے شی او بیا به حساب او شی تاسو سره او بیا به عذاب راشی په تاسو بیا نه شے ۱۲ ۔ ۱ ۔ دا دلیل نقلی دے د موسیٰ علیه السلام نه په طور غر کښې په موسیٰ علیه السلام باندے وحی راغلے وه ۱۲ ۔ ۲ ۔ دا دوهم دلیل نقلی دے د لیکلے کتابونو نه ۱۲ ۔ ۳ ۔ دا دلیل وحی دے د بیت المعمور نه او بیت الله شریف دے ۱۲ ۔ ۴ ۔ دا دلیل عقلی دے اول ۱۲ ۔ ۵ ۔ دا دلیل عقلی دے دوهم ۱۲ ۔ ۶ ۔ دا جواب د قسم او دعوه د سورت یعنی موسیٰ علیه السلام او په محکمو کتابونو کښې او په نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا حکم راغلے دے چه مخالفین د الله تعالیٰ د عذاب نه نه شی بچ کیدے ۔ ۷ ۔ چه کله د آسمان تړاو د دریاب نه شی وتلے آسمان او دریاب د ځمکے نه چا پیره دی ۱۲ ۔ ۸ ۔ دا د عذاب د آخرت بیان دے ۱۲ ۔ ۹ ۔ حضرت عمرؓ دا آیت اولوستو نو حقه اسویلے او کړو نو مرض راوریدونه ناجوړه شو ۔ د حضرت عمرؓ نه ډیره وجه نه شی ورکړی

تا جوړه شو دا د صلحو کو ویرے وجه وه کاملیاب حقه خلق وی چه د ځینو مولانو نه ویریدی نو ځکه په احمد بن حنبلؒ به دا دعا کوله : اللّٰهُمَّ أَلْقِ فِي قَلْبِي خَوْفًا وَلَكِن بِهَا قَبِيحًا ۱۲

تُكَذِّبُونَ ﴿١٤﴾ أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥﴾ اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا

دروغ ګڼلو۔ آیا سحر دے دا یا تاسو نه وینئ؟ ننوځئ دوزخ ته نو صبر کوئ او

أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

که صبر نه کوئ برابر دے په تاسو باندے۔ یقیناً بدله درکولے کیږي تاسو ته د هغه عمل چې تاسو کولو۔

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَ

بے شکه متقیان به په باغونو او نعمت کښے وي۔ خوشحاله به وي په هغه نعمت سره چې ورکړے دے ورته رب د هغوي او

وَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ

او بچ کړي دي هغوي لره رب د هغوي د عذاب د دوزخ نه۔ خورئ او څکئ په خوشحالۍ سره په بدله د هغه

تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾

نیک عمل چې تاسو کولو۔ په تکیه سره به ناست وي په تختو باندے په قطار سره او واده به کړو مونږ د دوي د غټو سترګو

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

او کوم مومنان چې ایمان ئې راوړے او تابعداري ئې کړې ده د هغوي بچو په ایمان سره نو یو ځاے به کړو مونږ د دوي سره اولاد د دوي

وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

او کم به نه کړو مونږ د عمل د دوي نه هیڅ شے۔ هر سړے به ګرفتار وي په عمل خپل سره۔

وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا

او امداد به او کړو مونږ د دوي په میوو سره او په غوښو د هغه شي چې د دوي زړه غواړي۔ اخلي به جنت کښے د جام پیالے

لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ

چې به په هغې کښے نه بیهوده خبرے وي او نه به په کښے ګناه وي۔ او ګرځي به په دوي باندے هلکان د دوي لکه چې دوي مرغلرے

مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا

دي پټې شوي۔ او مخ به کړي ځنے خپلو نورو ته د یو بل نه به سوال کوي۔ وائي به چې مونږ

له د اور يوړے دے ۱۲
که يعني د دا عمل او اولاد چې د
هغوي خيره او مثل نو د هغوي
سره به يو ځاے شي اګر چې
د هغوي عمل د دا ځاے د ښکته وي
وامتحنا د رحم ۱۲
ته دا مقتضا د عدل ده ۱۲
که په خوشحالۍ سره به به ځے
د يو بل نه څکوي ۱۲
له په بيهوده خبرے به نه
وي د دغو شرابو په څکلو
کښے په خلاف د شرابو د
دنيا نه چې په هغو کښے دا
بے فائده خبرے وي ۱۲
له په دغه شرابو د جنت
کښے ګناه نشته په خلاف
د شرابو د دنيا نه چې په
دے کښے ګناه ده ۱۲
له د وصول د جنت دوه
علته به بيان او کړل وېره
د الله تعالیٰ نه او عاجزي
او نه منل د ډېر مولانه لوښتل
نو معلومه شوه چې څوک
د ډېر مولا نه نه وېريږي
او حاجات د غير الله نه
غواړي نو هغوي به د
جنت نه محروم وي ۱۲

قَبْلُ فِيٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

مخوا (کښې) په خپلو اهلو کښې ویریدونکي وو - نو احسان او کړو الله په مونږ او وې ساتلو مونږ له عذابه د ګرمې هوا نه

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ أَنتَ بِنِعْمَتِ

بې شکه مونږ چې وو مخکښې الله له دعا ګانې کولې - بې شکه هغه ښه سلوک والا مهربان دی - نو وعظ کوه نو ته

رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ

د خپل رب په مهربانۍ سره کاهن او نه لیونی - آیا وائي دوی چې شاعر دی انتظار کوو مونږ ده ته د حادثې

ٱلْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوا۟ فَإِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ

د مرګ - او وایه انتظار کوئ بې شکه زه هم ستاسو سره د انتظار کوونکو نه یم - آیا حکم کوي دوی ته

أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥ بَل

عقلونه د دوی په دې انکار سره بلکه دوی سرکش قوم دی - آیا دوی وائي چې دا قرآن ده جوړ کړی دی بلکه

لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا۟ بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ

دوی ایمان نه راوړي - نو دوی دې پیش کړي یوه خبره په شان د دې قرآن که دوی رښتونی دي - آیا پیدا

خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

شوي دي دوی بغیر د څه شي نه یا دوی پیدا کوونکي دي - یا پیدا کړي دي دوی آسمانونه

وَٱلْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ

او زمکه - بلکه دوی یقین نه کوي - (په حق) یا د دوی سره خزانې د رب ستا دي - یا دوی

ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم

متصرف دي د کارونو - یا دوی لره اندر پائي ده چې آوري په هغې سره - نو پیش دې کړي آوریدونکی د دوی

بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا

دوی دلیل واضح - یا الله لره لونړه دي او تاسو لره ځامن دي - یا ته غواړې د دوی نه مزدوري

له واتسل وه او د قوم د بخښش مو نو د تسلیم دعم شته وې د د اشنده ز ماته حال خائي چه مثلا ستا به و د سره مخامخ کیږي یا به ستا د وه منع وې یا به د حال وي - د عرب د تیرې زمونږ حال په د مثلا چه د چا خه شې ورک شوې وي نو وے ورته مالیخا د یا چه فلانکي په کړي وے د حکم د د وا په ویوے چه د دا په وخت کې ته تعل نارو وي او د دوی ته غیر یقین کول هم ناروا دي - نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي څوک چه را شي عراف ته په را او د هغه د خبرې تصدیق (ی وکړي) نو قبول به نه کړي الله تعالی د د ده مونځ خلویښت ورځې (مسلم)

[illegible]

فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿۴۰﴾ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿۴۱﴾

نو دوی د تاوان نه دروند بار کړی دی - یا دوی سره غیب دے نو دوی لیکی

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿۴۲﴾ أَمْ لَهُمْ

یا اراده کوی دوی د فریب - نو کافران په فریب کښے ګیر دی - یا دوی لره

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۴۳﴾ وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ

الٰه دے سوا د الله نه - پاک دے الله د هغې نه چه دوی ئې ورسره شریک جوړوی - او که اووینی دوی یو ټوټه

السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿۴۴﴾ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ

[illegible]

الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿۴۵﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ

[illegible]

يُنصَرُونَ ﴿۴۶﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

[illegible]

لَا يَعْلَمُونَ ﴿۴۷﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ۖ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

[illegible]

حِينَ تَقُومُ ﴿۴۸﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿۴۹﴾

[illegible]

سُورَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَسِتُّونَ آيَةً وَثَلَاثُ رُكُوعَاتٍ

آیتونه (۶۲) [illegible] رکوعګانے (۳)

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿۱﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ﴿۲﴾ وَمَا يَنطِقُ عَنِ

[illegible]

[illegible]

نے دا احتمال نیشته چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دې غلطی شوې وي. تشریح: نو دا احتمال نیشته چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته جبرئیل علیه السلام لره نه پیژندل بلکه هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خلیلی ته راتلونکی و او په هغې کښې د

الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ ۝ ذُو مِرَّةٍ

تو هغې نه، وا لمو طور حکم د الله شو - هغه ته ور ښودلي دي هغه سخت طاقت والا - زور والا -

فَاسْتَوَىٰ ۝ وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ۝ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝ فَكَانَ قَابَ

نو برابر شو - او هغه وه په کناره د لکه - بیا نزدې شو نو ور نزدې شو - نو شه په مقدار د دوو

قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝ فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ ۝ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ

لینده و بلکه زیات نزدې - نو حکم را ولیږو الله خپل بنده ته څه چه هغه را ولیږو - دروغ ندي ګڼلي زړه د هغه

مَا رَأَىٰ ۝ أَفَتُمَارُونَهُ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ۝ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ۝

څه چه هغه لیده - نو آیا جګړه کوئ تاسو د هغه سره په هغه څه چه لیدلي يي - او یقیناً لیدلې ئې دی دوباره هغه لره

عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَىٰ ۝ عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ۝ إِذْ يَغْشَى

په نزدې د سدرة المنتهی کښې - په نزدې د هغه کښې جنت د آرام دے - کله چه پټه کړه

السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ۝ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ۝ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ

سدره لره هغه شی چه پټه یې کړه - نه کږه شوه سترګه د هغه او نه اوښته د مقصود نه - یقیناً هغه اولیده د ولویو

آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَىٰ ۝ أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ ۝ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ

د رب خپل لويې - آيا تاسو وليده لات او عزى - او مناة دريم

الْأُخْرَىٰ ۝ أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ۝ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ۝

بل ته - آیا تاسو لره نارینه دي او هغه لره زنانه - دا خو قسمت دے د تاوان -

إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ

دا خو صرف نومونه دي چه ایښودي دي تاسو او پلار نیکه ستاسو - نه دے رالیږلے الله تعالی

بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنفُسُ

په دې هیڅ دلیل - دوی نه تابعداري کوي د ګمان او د هغه شي چه خواهش ئې نفسونه کوي -

هغه لره نه لیدلي وو او هغه سپینه سره لګی کوره د نه نو سیاني ښکلي نه پیژندل. قاب قوسین عبارت دے د ډیر قرب نه د عربو دستور وو چه د دوو ښو په مینځ لکولو نو هغه لینده به یې یو ځائ کړے چه دوه دښمن یو شوو. شنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه جبرئیل علیه السلام لیده و نو د هغه د زړه تسلی وه چه دا ضرور جبرئیل علیه السلام دے. شنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوه ځله جبرئیل علیه السلام په خپل اصلی صورت کښې لیدلے دے یو ځل په معراج کښې او بل ځل کله چه د وحی وقفه واپس شو په وحیه وه په غار حرا کښې د اولنی دستور د نزول د اقرأ باسم ربك نه کله چه وحی بنده شوے وه. په دې لیدو کښې باري تعالی لیده لي پټ دے ١٢ شنه آرام کوي په کښې ملائک او ارواح د شهیدانو ١٢ شنه لیدلے وه جبرئیل علیه السلام لره په معراج کښې کله چه په ټیټې کی ووسیدو لره پټو پر کوي سرو زرو او ډیر ملائکو ١٢ شنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سترګې د مقصود نه کږې نه شوې او نه اوښتې ١٢ شنه لوئي لوئي

ملائکو د باري تعالی د قدرت او د جلال نبی کریم صلی الله علیه وسلم اولیده لي په معراج کښې چه خلق په هغې نوهیږي چه په الله تعالی څه کول تیریږي او د حاجتونو نو د غوښتو وا یوځاي دے ١٢ شنه د تمهید نه بعد او د عزی او ته په مکه کې

[illegible]

وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ۝ أَمْ لِلْإِنسَانِ مَا تَمَنّٰى ۝

[illegible]

فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْأُولٰى ۝ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي

[illegible]

شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللّٰهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرْضٰى ۝

[illegible]

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنثٰى ۝

[illegible]

وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ ۖ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي

[illegible]

مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ۝ فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلّٰى عَن ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا

[illegible]

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ الْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن

[illegible]

ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ۝ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

[illegible]

وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسٰٓـُٔوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ

[illegible]

أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى ۝ الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبٰٓئِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوٰحِشَ إِلَّا

[illegible]

[illegible]

ے او دغه قريشو ته دی چه صحف کې بيان د حق دی او ګمراه ته حق بس ګڼي. ۳۳ او بيان د صحف ابراهيم عليه السلام

ترجزا وانه دی پوری دے

نومستو ته او المؤتفکة بيان د

څو ته قوم د لوط عليه السلام

دے. ۳۳ او وما سعی:

صرف د ايمان دے ثواب د

ايمان نه وي نو هيڅ نه شي

نه رسي. او دی سره د

مغفرت د ايصال ثواب

حال او به دی د دی پوره منع

او احناف وايی په صدقه

او شو فه صرف د محتاج

ورکوي په ايصال ثواب

کې محتاج حقيقي شی ګ د

چا ته چه دے ثواب بخش

کړی شي او د په دی ذ

وی او سر ته ورپسی خيرات

کوی او چه تکو په ګنڊ وا

سره يو فکر محتاج دے

ګکه يو ډیر ګ بنده. ته

ثواب یعنی محتاج جوا سره

ګمان ګنو شي د دی دا دی

مثال دے يکه يو غريب

ته خيرات ورکول محتاج

صفه غريب وي او که يو

رئيس ته د اوي يا رشوت

ورکوی نو محتاج دے

پڅپله وي ۱۲ ۱۲

الْمَحَارِمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ۚ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ مِنَ

او خو نه د ګناه کوي. يقيناً ستا رب ډير بخښونکی دی. هغه ښه پوهيږي په تاسو کله چه پيدا کړي

الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ۖ فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ ۖ

يې تاسو د زمکې نه او کله چه تاسو وئ ماشومان په ګيډو د ميندو ستاسو کې. نو مه پاکوئ ځانونه خپل.

هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ۞ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ۞ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَ

هغه ښه پوهيږي په هغه چا چه تقوی کړه. آيا وليدو تا هغه چه واپس شو او ورکړې يې لږ څه او ټينګ

أَكْدَىٰ ۞ أَعِنْدَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ۞ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي

ودريده شو. آيا هغه سره علم د غيبو دی نو ويني. او آيا ده ته خبر نه دی هغه شی چه په

صُحُفِ مُوسَىٰ ۞ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ۞ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ

پاڼو د موسی کې دے. او د ابراهيم چه هغه پوره کړے وو حکم. چه نه شي پورته کولی يو پورته

أُخْرَىٰ ۞ وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ۞ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ

کوونکی بوج د بل چا. او دا چه نشته د انسان لپاره مګر هغه چه کوشش يې کړی. او کوشش د ده به وليدے شي او

يُرَىٰ ۞ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ۞ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنْتَهَىٰ ۞ وَ

بيا به ورته ورکړے شي بدله پوره. او يقيناً رب ستا ته واپسي ده. او

أَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ۞ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ۞ وَأَنَّهُ خَلَقَ

هغه خندول کوي او ژړول کوي. او هغه مړه کول او ژوندي کول کوي. او هغه پيدا کړي دي

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ ۞ مِنْ نُطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ۞ وَأَنَّ عَلَيْهِ

جوړې دوه نر او ماده. د نطفې نه کله چه او څڅولی شي په رحم کې. او په هغه دی پيدا کول

النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ۞ وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ۞ وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ

د دوباره. او هغه غني کول او خزانې ورکوي. او هغه رب د

ربع

سله د ارم وه وه ... او د عاد ... او د عاد اولي ... او د عاد ثانيه يا ثموديان ... ته د زورنه وه ...
د سورة حاصل ... سبح بعد الطارق وقيل حق ... په ترتيب قرآن کښې (...)

الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾ وَاَنَّهٗٓ اَهْلَكَ عَادَا۟ لِۨالْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾ وَثَمُوْدَا۟ فَمَآ اَبْقٰى ﴿۵۱﴾ وَقَوْمَ

شعری دے۔ او دا چې هغه هلاک کړیدي عادیان ولني۔ او ثمودیان نو پاتې ئې نه کړل۔ او قوم د

نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿۵۲﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ

نوح لره مخکې۔ یقینا دوی ظالمان او سرکښه ډیر وو۔ او اړولي شوي کلي هغه

اَهْوٰى ﴿۵۳﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿۵۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَاۗءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿۵۵﴾ هٰذَا

راپاو ګوزار کړل۔ نو پټه کړه هغه لره هغه شي چې پټه ئې کړه۔ نو په کوم نعمتونو د ربه ستا شک کوې۔ دا

نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿۵۶﴾ اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ

ډرونکی دے د ډرونکو ولنو۔ نزدې دے قیامت۔ نشته هغه لره سوا د الله نه

اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾ اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَ

ښکاره کوونکی۔ آیا او دے خبرې ته تاسو تعجب کوئ۔ او خاندئ او

لَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾ ۩

نه ژاړئ۔ او تاسو غافل یئ۔ نو سجده وکړئ الله ته او د هغه عبادت کوئ۔

سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

آیتونه (۵۵) | شروع په نوم د الله چې ډیر مهربان او رحم لرونکی دے | رکوع ګانې (۳)

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا

نزدې شو قیامت او څیرې شو سپوږمۍ۔ او که ووینې دوی نښه نو مخ اړوي او وائي چې دا

سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿۲﴾ وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَاۗءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳﴾

جادو همیشه۔ او دروغ ئې وګڼل او متابعت ئې وکړو د خپلو خواهشاتو او هر کار مقرر دے په وخت کښې

وَلَقَدْ جَاۗءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَاۗءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ﴿۴﴾ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا

او یقینا راغلي دي دوی ته د قصو نه هغه چې په هغه کښې زورنه ده۔ حکمت پوره دے نو فائده نه

په تړو ولنو ... مخکښې
د سورت ... چې ... خبره
څه حاجت نه وي الله تعالیٰ ته
... وعده
... الله تعالیٰ
چې ... انا كل شيء خلقناه بقدر
یعني ... الله تعالیٰ
ټول حاجات پوره کوونکی هم
الله تعالیٰ دے نه کل ماسوی
الله ... نو ...
... نبي کریم صلی
الله علیه وسلم او ...
... ته ...
... نبي
کریم صلی الله علیه وسلم
... اشاره وکړه او هغه
... دوه ...
... رجحه مایار ...
... او هغه ...
... معجزه ...
... کسان مسلمان
شو ... عذاب
... ګوره ...
... معجزه ...
... ته ...
انشقاق د قمر
د الله تعالیٰ د قدرت او
د وعده ...
... دلیل
قیامت ... دے چې الله
تعالیٰ ... خلق دوباره
پیدا کولے شي او ...
د نبي کریم صلی الله علیه وسلم
د رسالت دلیل دے چې دا

لویه معجزه وه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ... هر کار لره وخت مقرر دے نو د دوی د عذاب د پاره هم وخت
مقرر دے ...

[illegible]

تُغْنِ النُّذُرُ ۝ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝

ویرونکو ویرول - نو مخ وګرځوه له دوی نه په کومه ورځ چی بلونکی به وبلی یو ناآشنا شی ته

خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ

ښکته به وی نظرونه د دوی را او ځی به د قبرونو نه ګویا چه دوی ملخان دی

مُّنتَشِرٌ ۝ مُّهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝

خواره شوی - منډی به وهی بلونکی ته - وایی به کافران چه دا سخته ورځ ده -

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ۝

دروغ ګڼلی وو مخکی له دوی نه قوم د نوح نو دروغجن یی وګڼلو بنده زمونږ او وویل لیونی دی او ورټل شوی

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ ۝ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ

نو هغه خپل رب ته دعا وکړه چه زه عاجز یم نو ته بدله واخله - نو مونږ پرانستل د آسمان دروازی په اوبو

مُّنْهَمِرٍ ۝ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ

بهیدونکی - او وچاودوله مونږ زمکه چینی - نو یو ځای شوی اوبه په هغه کار باندی چی مقرر شوی

قُدِرَ ۝ وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ۝ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً

وه - او سواره مو کړو هغه په تختو او میخونو والا جهاز باندی - چه روان وو زمونږ د سترګو لاندی دا بدله

لِّمَن كَانَ كُفِرَ ۝ وَلَقَد تَّرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ۝ فَكَيْفَ

د هغه چا په بدله چی ناشکری شوی وه - او یقیناً پریښوده مونږ دا نښه نو آیا څوک شته سوچ کوونکی - نو څنګه وه

كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ۝ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن

عذاب زما او ویرول زما - او یقیناً آسان کړی دی قرآن د یادولو دپاره نو آیا څوک شته سوچ

مُّدَّكِرٍ ۝ كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ۝ إِنَّا أَرْسَلْنَا

کوونکی - دروغ وګڼل عادیانو نو څنګه وه عذاب زما او ویرول زما یقیناً مالیږلی وو په

[illegible]

عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ

دوی باندې هوا سخته په یوه ورځ کې چې دایمه (ده). چې راویستله یې خلق

كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَ

ګویا دوی ونې د کجورو دي چې ویستې شوې دي. نو څنګه وه عذاب زما او ویرول زما. او

لَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾

یقیناً ما آسان کړی دی قرآن د پوهې دپاره نو آیا شته سوچ کوونکی. دروغژن کړل ثمود ویروونکي

فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَأُلْقِيَ

نو دوی وویل آیا یو بشر زمونږ نه تابعداري وکړو یقیناً مونږ به هغه وخت کې په غلطۍ او لیونتوب کې یو.

الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ

آیا نازل شوی دی ذکر په ده د مینځ زمونږ نه بلکه دروغژن او متکبر دی. زر به پوهه شي سبا چې څوک دی دروغژن

الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ

متکبر. مونږ رالیږو اوښه دپاره د امتحان د دوی نو انتظار کوه د دوی ته

وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾

او صبر کوه. او خبر کړه دوی چې اوبه وېشل شوې دي په مینځ د دوی کې هر وار ته به حاضریږي مناسب وخت

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾

نو دوی آواز وکړو ملګري خپل ته نو هغه لاس پورې کړو نو ټپي یې کړه نو څنګه وو عذاب زما او ویرول زما.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾

مونږ راولیږله په دوی باندې یو آواز نو شول دوی لکه د خشو ماتو د جاړو کوونکي.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ

او ما آسان کړی دی قرآن د پوهې دپاره نو آیا شته سوچ کوونکی. دروغژن کړل قوم د لوط

بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ ۖ نَجَّيْنَاهُمْ بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾

[illegible]

نِعْمَةً مِنْ عِنْدِنَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ

[illegible]

بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا

[illegible]

أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ

[illegible]

مُسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ

[illegible]

فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَاءَ آلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا

[illegible]

فَأَخَذْنَاهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُمْ

[illegible]

بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ

[illegible]

الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ

[illegible]

وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي

وترخوه - یقینا مجرمان په غلطۍ او لیونتوب کښې دی - کله چه دوی را کشلے شی په

[illegible]

[illegible]

النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ

او وركښل به كيږي په مخونو خپلو [illegible] - ووايه څكئ مزه د اور - يقيناً ما هر شی لره پيدا كړی دی په

بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا

اندازه سره او نه دی حكم زمونږ مګر يو ځل لكه ليدل په سترګو - او يقيناً ما هلاك كړي دي

أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَ

امثال ستاسو نو آيا شته سوچ كوونكی - او هر شی چه دوی كړي دي هغه ليكلی دی په كتابونو كښې - او

كُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾

هر واړه او لوی ليكلي دي - يقيناً متقيان به په جنتونو كښې او په ويالو كښې وي -

فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

په ځای د ښه كښې به نزدې د باچا طاقت والا -

سُورَةُ الرَّحْمَٰنِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَسَبْعُونَ آيَةً وَثَلَاثُ رُكُوعَاتٍ

(ايتونه ٧٨) | خلاصه [illegible] | (ركوعګانې ٣)

الرَّحْمَٰنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿٢﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾

مهربان باچا - ښودلی يې دی قرآن لره - پيدا كړی يې دی انسان لره - ښودلی يې دی بيان لره -

الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَاءَ

لمر او سپوږمۍ روان دي په حساب سره - او بوټي او ونې تابعدار دي - او آسمان لره هغه

رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَأَقِيمُوا

پورته كړی دی او ايښودلې يې ده تله - چه زياتی مه كوئ په تله كښې - او برابر كړئ

الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴿٩﴾ وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾

تول په انصاف سره او مه كموئ تله - او مځكه هغه ايښودلې ده د پاره د خلقو

[illegible]

[illegible]

فِيهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ ۝ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ

چه په هغې کښې میوه ده او کجوره لرو غوړو والا - او دانے وړی والا او

وَالرَّيْحَانُ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ

ګلونو والا هم - نو کوم نعمت د رب خپل تاسو دواړه منکرېږئ - پیدا کړے یې انسان د

صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ۝ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ ۝ فَبِأَيِّ

ګیلو نه په شان د کوزو - او پیدا کړی یې پېریان د اور لمبو نه - نو کوم نعمتونه د

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ۝ فَبِأَيِّ

رب خپل تاسو دواړه منکرېږئ - رب د مشرقینو او رب د مغربینو دے - نو کوم نعمتونو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ۝ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ

د رب خپل تاسو دواړه منکرېږئ - ... دواړه دریابونه - د دواړو په مینځ کښې پرده ده

لَا يَبْغِيَانِ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ

چه یو بل باندې زیاتے نه کوي - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو منکرېږئ - راوځي د هغو دواړو نه ملغلرې او

وَالْمَرْجَانُ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ

مرجان - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دواړه منکرېږئ - د هغه لره جهازونه دی او چت په

فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ۝ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ كُلُّ مَنْ

دریاب کښې په شان د غرونو - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو منکرېږئ - هر څوک چه په زمکه دی

عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۝ فَبِأَيِّ

فنا کیدونکی دی او پاتې به شي ذات د رب ستا چه خاوند د لوئی او د کرم والا دے - نو کوم نعمتونه

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ

د رب خپل تاسو منکرېږئ - سوال کوي د هغه نه هغه څوک چه په آسمانونو او په زمکه کښې دي هره ورځ

ربع

[illegible]

هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ

حقه په تصرف کښې دے۔ نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ زر ده ۔ قصد او کوم تو حساب تاسو

الثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٢﴾ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ

اے دوو ډلو۔ نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ اے ټولګې پیریانو او د انسانانو

إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا

که طاقت وی ستاسو چه اووځئ تاسو د غاړو د آسمانونو او د زمکے نه نو اووځئ۔

لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ

وتلے نشئ بغیر د طاقت نه۔ نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ را به لیږلے شی

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

په تاسو لمبے د اور۔ او ویلے تانبه نو تاسو به مقابله نشئ کولے۔ نو کوم نعمتونه د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾ فَإِذَا انشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾

رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ نو کله چه څیرې شی آسمان نو شی به سور پشان د څرمنے۔

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْأَلُ عَن ذَنبِهِ إِنسٌ

نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ نو په دغه ورځ به سوال نشی کولے د ګناه د هغه د انسان

وَلَا جَانٌّ ﴿٣٩﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ

او د پیری نه۔ نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو دروغ ګڼئ۔ پیژندے به شی مجرمان په

بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

علامو د هغوی سره نو او به نیولے شی د تندو او د قدمونو نه۔ نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو

تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾ يَطُوفُونَ

دروغ ګڼئ۔ دا هغه جهنم دے چه دروغ ګڼلو ورله مجرمانو ۔ ګرځی به په مینځ د

[illegible]

بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ۝٤٤ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٤٥ وَلِمَنْ خَافَ

او په مینځ د اوبو ګرمو او جوشو کې - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ - او د هغه چا د پاره چې ویریږي

مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ۝٤٦ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٤٧ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ۝٤٨

د ودرېدو د رب خپل نه دوه جنتونه دي - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ - چې په هغو کې ډېرې څانګې دي

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٤٩ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ۝٥٠ فَبِأَيِّ آلَاءِ

نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ - په هغو کې دوه چینې روانې دي - نو کوم نعمتونه د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥١ فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ۝٥٢ فَبِأَيِّ آلَاءِ

رب خپل تاسو نه منئ - په هغو کې د هر قسم میوو نه په اقسامو دي - نو کوم نعمتونه د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٣ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ

رب خپل تاسو نه منئ - تکیه وهونکي به وي په فرشونو باندې چې استر به یې د ورېښمو د دبیز وي -

وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ۝٥٤ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٥ فِيهِنَّ

او د دواړو جنتونو میوې به نږدې ښکته وي - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ - په هغو کې به

قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ۝٥٦ فَبِأَيِّ

[illegible] کتونکې ښځې وي چې نه به وي لاس وړی دوی ته له دوی نه مخکې کوم انسان او نه پېري - نو کوم نعمتونه د

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٧ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ۝٥٨ فَبِأَيِّ

رب خپل تاسو نه منئ - ګویا چې هغوی یاقوت او مرجان دي - نو کوم نعمتونه

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٩ هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ۝٦٠ فَبِأَيِّ

د رب خپل تاسو نه منئ - ضرور جزا د احسان احسان دی - نو کوم

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٦١ وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ۝٦٢ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ - او سوا د دوی نه نور دوه قسم باغونه دي - نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو

ع ۱۴

ت دا د متوګو [illegible] په [illegible] زړیسته [illegible] او په [illegible] د دې وسوسو [illegible] ولا [illegible] تخويف [illegible]
ت مثلاً د مالټو په اقسام وي ۱۲
ت په دنیا کې دستور دی چې د استرو به قیمته توکې وي او په جنت کې به د ابرې [illegible] قیمتي توکې وي نو ته په دې [illegible] او بیا به قیمتي کېږي نه
هغوی [illegible] د یاقوتو او د مرجان وي ۱۲
ت هغوی په دنیا کې اخلاص کړی وو شرک او بدعت هغوی نه دی کړی نو ځکه د [illegible] ابرباني ذکر شو ۱۲
ت دا د نیکانو د پاره دي او اول قسم د مقربینو د پاره دی ۱۲
(یا الله د مومنانو نصیب کړې)

له قسم قسم چیرې به یکښې وي . ۲ دغه خو هم به ئې هم بنه وي او شکل به ئې هم بنه وي . ۳ دغه معلومه شوه چې ستر پنه شي وي .

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۳﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾ فِيْهِمَا

نه منئ . تک شنه . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . په هغو دواړو کښې

عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾ فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ

چينې دي جوش وهونکي . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . په هغو کښې ميوې دي

وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ

او کجورې او انار دي . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . په هغو کښې ښې ښائسته

حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِى الْخِيَامِ ﴿۷۲﴾

ښځې دي . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . حورې دي په ستر په خيمو کښې .

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۳﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَ

نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . نه دي لاس وروړی په هغو انسان مخکې د هغو نه او نه

لَا جَآنٌّ ﴿۷۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۵﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى رَفْرَفٍ

پيريان . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ . تکيه به لګولي وي په درو شنو

خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾

او په قالينو ښائسته باندې . نو کوم نعمتونه د رب خپل تاسو نه منئ .

تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِى الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۷۸﴾

برکتي دی نوم د رب ستا چې خاوند د لويئ او د سخا دی .

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورت واقعه مکي دی په دې (۹۶) آيتونه دي او درې رکوع کانې دي .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم د الله په نوم چې ډېر مهربان رحم کوونکی دی (خو له او اداګو)

له تخم عنقري ترجمه يا نو ښار دے ښه شي هغه ته منسوب کيږي . ۲ دغه د دوا به وجه د شنه ډېر تور ښکاري . ۳ بعضې وائي سورت اصلي مقصد دی . ۱۲

لعه بعد طه وقبل الشعراء په ترتيب قرآن کښې (۵۰) وپه نزول کښې (۴۲) دی . مقصد د سورت : برکات خاص په نوم د الله تعالیٰ کښې دي ځکه چې هغه الله ذوالجلال والاکرام دی نو ځکه بيا چې په نوم کښې برکت شته ځکه چې بس هغه ذوالجلال والاکرام دی نو چې حاجتونه غواړئ نو صرف نوم د الله تعالیٰ اخلئ نه نوم د بل چا سوی الله . فسبح باسم ربك العظيم . ۱۲

سلے دا د قیامت بیان دے ۱۲ سلے ځکه چې کوز کوي به یو ډله او پورته کوي به بله ډله ۱۲ سلے د دې ورځې د واقعات بندولو چه هیڅ بیان کوي نه راځي ۱۲ سلے دا قسم اول دے ۱۲ سلے دا قسم ثانی دے ۱۲ سلے دا قسم ثالث

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۝ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝

کله چه پیښه شي پیښیدونکې - نشته په پیښیدو د هغې هیڅ دروغ - ښکته کوونکې ده او پورته کوونکې ده

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ۝ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝ فَكَانَتْ هَبَاءً

کله چه وخوځیږي ځمکه په زلزله سره - او ریزه شي غرونه ریزه ریزه - نو شي به دوی الوزونکي

مُّنۢبَثًّا ۝ وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ۝ فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ

شوي - او شئ به تاسو درې اقسام - نو ښي طرف والا - څه ښه دي ښي

الْمَيْمَنَةِ ۝ وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ۝ وَالسَّابِقُونَ

طرف والا - او کیڼ طرف والا - څه ناکاره دي کیڼ طرف والا - او مخکښې کیدونکي خو

السَّابِقُونَ ۝ أُولَٰئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ۝ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ۝ ثُلَّةٌ مِّنَ

مخکښې دي - دوی مقرب دي - په جنتونو د نعمت کښې به وي - ډیره جماعت به وي

الْأَوَّلِينَ ۝ وَقَلِيلٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ۝ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ۝ مُّتَّكِئِينَ

د اولینو نه - او کم به وي د وروستنو نه - په تختونو جوړ اوبدلي به وي - تکیه به وهي په دې

عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ ۝ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ۝ بِأَكْوَابٍ

باندې مخامخ - گرځي به په دوی باندې هلکان همیشه - پیالې

وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ۝

او کوزې - او کاسې د شرابو - چه نه به خوږیږي سر د هغو نه او نه به لیونی کولی شي

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ۝ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ۝ وَ

او میوه هغه چه دوی غوره کوي - او غوښه د مرغۍ هغه چه دوی ئې زړه غواړي - او دوی

حُورٌ عِينٌ ۝ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ۝ جَزَاءً بِمَا كَانُوا

لره حورې غټو سترگو - په شان د پټو ملغلرو - دا جزاء ده د عمل د دوی

سلے وخت ځکه کیدونکي به کالا تو به علیهم السلام سلے ځکه کیدونکي دي قرب الهی ته ۱۲ سلے دا بیان د هغه دریو قسمونو دے ۱۲ سلے د حضرت پیغمبر نه اول کښې مقربین به زیات وي او په آخر کښې به کم وي ځکه چه په اول د حضرت کښې صحابیات د بې ټوله وو بیا کښې روستو اشر کیدو ۱۲ سلے به زر وبه او د لې شوي وي یعنې د میز دي ۱۲ ځکه به تیله وي د سرور ور ۱۲ سلے چه د هغو بیوي کا بنده نشته لرې ۱۲ سلے د ځو کړ د پیالې نه وي او را غوټه وي ۱۲ سلے د ابریق لاستې او نغوته وي ۱۲ سلے دا پیالې وړه خوندوه وي ۱۲ سلے د سر درد به له ورا ځي د ځو شرابونه د دنیا د شرابونه په سر درد ورځي رفا نکه ؛ ځکه چه دنیا شراب او سکن نو هغه به محروم شي د شرابو د جنت نه ۱۲ اللہ د جنت شراب زمونږ نصیب کړي

سلو دا بیان د حال د جماعت اول دے ... د دنیا به بیو و کښې ... د بیان د حال ... وو چې ... دے ... عملونه به ورته ... ورکړے شی ... صلی الله علیه وسلم ...

يَعْمَلُونَ ۝ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا

- نه به اوری په دغه جنت کښې بې فائده خبرې او نه د ګناه خبرې، مګر خبره د به وی ښه

سَلَامًا ۝ وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ ۝ فِي سِدْرٍ

بیا - او د ښی طرف خلق - څه ښه دی د ښی طرف والا - به بیرو بې ازغو کښې

مَخْضُودٍ ۝ وَطَلْحٍ مَنْضُودٍ ۝ وَظِلٍّ مَمْدُودٍ ۝ وَمَاءٍ مَسْكُوبٍ

به وی - او په کیلو تهٔ په تهٔ لګیدلو کښې به وی - او په سوری اوږد کښې به وی - او په اوبو جاری تویدو

وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ۝ لَا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ۝ وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ

او په میوو ډیرو کښې - چه نه به ختمیږی او نه به منع شوی - او په فرشونو اوچتو کښې به وی

إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً ۝ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ۝ عُرُبًا أَتْرَابًا

ما پیدا کړی دی دغه ښځې عجیب پیدا کول - نو ما ګرځولی دی هغوی پیغلې - محبت والا همزولې

لِأَصْحَابِ الْيَمِينِ ۝ ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ ۝ وَثُلَّةٌ مِنَ الْآخِرِينَ

د ښی طرف والو لره - جماعت ډیر به وی د اولو نه - او جماعت ډیر به وی د وروستو نه -

وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ مَا أَصْحَابُ الشِّمَالِ ۝ فِي سَمُومٍ وَحَمِيمٍ

او د کینړ طرف والا - څه بد دی د کینړ طرف والا - به ګرمی هوا کښې او په اوبو ایشیدلو کښې -

وَظِلٍّ مِنْ يَحْمُومٍ ۝ لَا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ۝ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ

او سوری کښې به وی د لوګی نه - چه نه به یخ وی او نه به د قدر شوی - دوی وو پخوا

ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ۝ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيمِ

عیش ناک - او دوی ضد کاوه په ګناه لویه باندې -

وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا

او دوی ویل - چه کله مونږ مړه شو او شو خاورې او هډوکی، نو مونږ به

چه بڼوی ګوئے به جنت ته نه شی تلے ... سه عمل نامه به ورته په کیڼ لاس ملاو یږی سکے په حدیث شریف کښې دی چه دا ورته یو مره شو چه نه وو رسیدلی حنث ته یعنی شرک ته نو شی به هغه لره عذاب د اور نه یعنی یا و ... شی یا لوے شی خو شکان او به عقیبان ته ... نو هغوی لره به د هغو د مصیبت الله تعالیٰ دا ثوابونه ورکوی چه د ... د ... شی او کړ ... ښکلی ... شو ... ولو د هغو یسم ... کښې خوشحالی دی ... پکښے شیخ ۱۲۰
یا الله صالحا وعاملا ... او شکان اولاد کړے

[illegible]

لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿٤٩﴾

[illegible]

لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا

[illegible]

الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُونَ

[illegible]

مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾ فَشَارِبُونَ

[illegible]

شُرْبَ الْهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنَاكُمْ

[illegible]

فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾ أَفَرَأَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿٥٨﴾ أَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُ

[illegible]

أَمْ نَحْنُ الْخَالِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ

[illegible]

بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِي مَا

[illegible]

لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

[illegible]

أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ ﴿٦٤﴾

[illegible]

[illegible]

سلہ دا دریم دلیل عقلی وحیدانیۃ دی کولے شی خو وخت ئے تاسو ما یاست هم پوره کولے شی نو دحفظ لپارہ نعمتونه خوراک سو ... ۱۳
سلہ دعا دا وہ بیله: الحمد لله الذی سقانا عذبا فراتا برحمته ولم یجعله ملحا اجاجا بذنوبنا ۱۶

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ۝ اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ ۝

که مونږ وغواړو نو ... ګرځوو دا کښت لرمه ... تاسو به ټول ورځ خبرې کولے ... چه مونږ ترجمه ...

بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ۝ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ ۝ ءَاَنْتُمْ

بلکه مونږ محروم شو - آیا وینئ تاسو هغه اوبه چه تاسو ئے څکئ - آیا تاسو هغه

اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ۝ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ

راکوزې کړې دی ورېځو نه او که مونږ یې راکوزوو - که وغواړو مونږ نو وګرځوو هغه

اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ۝ اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ ۝ ءَاَنْتُمْ

ترخې نو ولې احسان نه منئ - آیا وینئ تاسو هغه اور چه تاسو ئې بلوئ - آیا تاسو

اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ۝ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّ

پیدا کړې دی اونه د هغه یا مونږ پیدا کوونکي یو - مونږ ګرځولې ده هغه د یادونې او

مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ۝ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ

سامان د پاره د مسافرو - نو پاکي بیانوه د نوم د لوی رب خپل - نو زه قسم کوم په پرېوتو

النُّجُوْمِ ۝ وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ۝ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ۝

د ستورو - او یقینا دا لوی قسم دی که تاسو پوهېږئ - یقینا دا قرآن د عزت دے -

فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ۝ لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ۝ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ

لیکلے په کتاب محفوظ کښې - لاس نه لګوي په دې مګر پاک خلق - نازل شوے دے د

الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ۝ وَتَجْعَلُوْنَ

العالمین نه - آیا په دې خبره کښې تاسو سستي کوئ - او جوړوئ حصه

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ۝ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ۝ وَاَنْتُمْ

خپله دا چه دروغجن ئې ګڼئ - نو ولې کله چه ورسي روح مرۍ ته - او تاسو ورته

سلہ څلورم دلیل عقلی دے چه اور پیدا کولے شی نو تاسو حاجت نه هم پوره کولے شی سلہ چه د دوزخ د اور نه خلق او وېرېږي (فوائد) د دنیا اور مسیحے او د دوزخ او رګونډے دے الله تعالیٰ دے ترینه مونږ ته امان راکړی د هغه نه بچ ئې کړی دنیا ته راشی نو ټول دنیا به ستی کړی ۱۲ سلہ چه مسافران به دے ځانله پخلے وغیره کوی ۱۲ سلہ دا دعویٰ او مقصود د سورت دے چه د دے مسئلې منونکي درې قسمه د هغه مقربین او اصحاب الیمین - او د دوی حالات بیان او شو او د نه منونکو اصحاب مشئمه دے د هغو حال هم بیان شو - او د دے دعوے دپاره څلور دلیلونه بیان شو ۱۲ سلہ لا زائده ده یعني دے قسم ته ضرورت د سره نشته ځکه چه مسئله صافه ده ۱۲ سلہ چه دوی نه ثواب منونکو او عذاب نه منونکو لوه ورکولے کیږی په قیامت کښې نو ځکه دلالته ثبوت د قیامت پیش کوی چه ځنګه ستورې فنا کیږی او بیا راخیژی دا غیب به تاسو فنا شئ او بیا به را

پورته کړے شئ جواب د قسم: لنحشرن، محذوف دے ۱۲ سلہ دا ورته وه مشرکانو ته چه د ستورو سره لوبے کیږی باران ۱۲ سلہ دا
هم نه دے د دې رکتاسو چا ته حکم کیږی نه نو بیا څه روح راولی د تاسو ورته نه ... فرد روح ولے د ځانه کوئ ۱۲

حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ۝ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ۝

په هغه وخت ګورئ. او زه نږدې يم هغه ته ستاسو نه ليکن تاسو نه وينئ.

فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ۝ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ

نو ولې که چيرې تاسو نه يئ د چا په حکم کښې. نو ولې نه واپس ګرځوئ تاسو هغه روح که چيرې تاسو

صَادِقِينَ ۝ فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ ۝ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ

رښتوني. که وي هغه د مقربينو نه. نو هغه له راحت دے او خوشبوئي

وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ۝ وَأَمَّا إِن كَانَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ ۝ فَسَلَامٌ

او د نعمتونو جنت دے. او که وي هغه د ښي طرف د خلقو نه. نو او به وئيلے شي ورته سلام

لَّكَ مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ ۝ وَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِينَ

دے تا له د ښي طرف د خلقو نه. او که وي هغه د دروغ ګڼونکو او د

الضَّالِّينَ ۝ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ۝ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ۝ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ

ګمراهانو نه. نو مېلمستيا ده د ګرمو اوبو نه. او ننوتل دي په دوزخ کښې. يقيناً دا خبره

حَقُّ الْيَقِينِ ۝ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ۝

حقه او يقيني ده. نو پاکي کړه نوم د لوئي رب خپل.

سُورَةُ الْحَدِيدِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ آيَةً وَأَرْبَعُ رُكُوعَاتٍ

آيتونه ۲۹	شروع په نوم د الله چې بې حده مهربان رحم لرونکے دے ګرځي الحديد	رکوع ګانې ۴

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝ لَهُ مُلْكُ

پاکي د الله بيانوي هر هغه څه چې په آسمانونو او په زمکه کښې دي. او الله زبردست او حکمت والا دے. خاص الله دے بادشاهي

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝ هُوَ

د آسمانونو او د زمکے. ژوندي کوي خلق او مړه کوي. او الله په هر شي باندې قدرت والا دے. الله

له دے واقعه په فرقې د حال بيان دے ۱۲ دوباره
له دا د اولي فرقي د حال بيان دے دوباره ۱۲
له دا د دويمې فرقې د حال بيان دے دوباره ۱۲
له دا بيان د مقصود د سورت دے دوباره ۱۲
له نازل شوي دے پس د نزول د قبيل محمد په مطابق په ترتيب قرآني کښې (۵۷) په نزولي کښې (۹۴) دے مقصد د سورت د توحيد واشاعت د پاره مال خرچ کول او جهاد کول دي په دے سورت کښې درے مضامين دي اول توحيد دويم انفاق دريم جهاد ۱۲
له دا د توحيد درے درجے دي ۱۲
له دا اول درجه ده چې ژوندي کول او مړه کول صرف الله تعالیٰ دے او په هر څه قدرت والا دے ۱۲

ربع

[illegible]

الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ هُوَ

[illegible]

الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى

[illegible]

الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ

[illegible]

مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا

[illegible]

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ

[illegible]

الْأُمُورُ ۝ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ وَهُوَ

[illegible]

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝ آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ

[illegible]

مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَالَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ۝

[illegible]

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۙ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ وَ

[illegible]

قَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ۝ هُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ

[illegible]

[illegible]

عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِؕ وَاِنَّ اللّٰهَ

په بنده خپل باندې آيتونه ښکاره د پاره د دې چې راوباسي تاسو له تيارو نه رڼا ته. او يقيناً الله په

بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝۹ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ

تاسو مهربان او رحم والا دی. او څه دي تاسو ته چې نه لګوئ خيرات ستاسو په لاره د الله کښې او الله

مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِؕ لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ

لره ميراث د آسمانونو او د زمکې. برابر نه دي ستاسو نه هغه څوک چې خيرات ئې کړی دی مخکښې د

الْفَتْحِ وَقٰتَلَؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ

فتحې نه او جنګ ئې کړی دی. دوی لوی دي په مرتبه کښې د هغو نه چې خيرات ئې کړی پس د فتحې نه

وَقٰتَلُوْاؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰىؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۱۰

او جنګ ئې کړی. او هر يو سره وعده کړې ده الله د ثواب. او الله په کار ستاسو خبردار دی.

ع ۱۷

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗٓ

څوک دی هغه چې ورکوي الله له قرض ښه، نو زيات به کړي هغه لره هغه مال او هغه لره

اَجْرٌ كَرِيْمٌ ۝۱۱ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ

ثواب لوی دی. کله چې ته به وينې مؤمنان او مؤمنانې چې منډې به وهي نور د هغوی مخکښې

اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

د هغوی او په ښي طرف د هغوی او به ويلې شي ورته چې زيری دی ستاسو نن باغونه دي چې بهيږي د لاندې د هغو

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۲ يَوْمَ يَقُوْلُ

ولې هميشه به وي تاسو په هغو کښې. دا بری دی لوی دی. کله چې او به وائي

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ

منافقان او منافقانې مؤمنانو ته چې انتظار وکړئ موږ ته چې لګيا شو د نور ستاسو

ك۱ دا د دې وجه ده چې د انفاق د پاره څه ترغيب ده او ولې وجه نه چې د دې نه مال خرچ کړئ په لاره د الله کښې نو تاسو هسې مړه کيږئ نو د خليفه نه ئې خو به هم مړه شئ ۱۲

ك۲ د غلبې د اسلام نه مخکښې انفاق او قتل کښې ثواب زيات دی د دوستو نه ۱۲

ك۳ دا د دې وجه ده د انفاق د پاره ترغيب ده. د مخکښې نه چې مال لره ده نه پاتې کيږي خو ملا قرض ورکړه مال به ورته زيات کړم او ثواب به هم درکړم

منافقان به تاسو ته په قيامت کښې پسخيږي

ك۴ دا متعلق دی په اجر کريم پورې ۱۲

ك۵ دا نور د ايمان دی

ك۶ دا نور د اعمالو دی نو د انفاق به رڼا وي په قيامت کښې ۱۲

قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ

او به ووېلې شي چه واپس لاړ شئ شاته نو طلب کړئ رڼا - نو جوړه به شي په مینځ ددوی کښې دیوال د

بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ؕ

هغه به دروازه وي په دننه طرف کښې به مهرباني وي او به ظاهر طرف کښې به عذاب وي -

يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ

آواز به کوي هغوی ته چه آیا نه وو مونږ تاسو سره - هغوی به وائي اوو ولې لیکن تاسو ګمراه کړل ځانونه خپل

وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَ

او تاسو انتظار کاوه او مونږ ته حوادث او به شک کښې ووئ تاسو او دوکه کړئ تاسو به بیناوه امیدونو تر دې چه راغی حکم د الله

غَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ

او دوکه درکړې وه تاسو ته په الله دوکه کوونکي - نو نن به نشي اخستے ستاسو نه فدیه او نه د

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾

کافرانو نه - ځائے ستاسو اور دے - هغه ستاسو ملګرے دے او ډیر بد ځائے د ورتګ دے -

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ

آیا نه دے راغلے مؤمنانو ته وخت دا چه عاجز شي زړونه ددوی یاد د الله ته او یاد د هغې څيز ته

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ

چه حق نازل کړے شوے دے او نه شي په شان د هغوی چه ورکړے شوې وه ورته کتاب پخوا نو اوږده شوه

عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ

په هغوی باندې نیته نو سخت شو زړونه د هغوی - او زیات د هغوی نافرمان دي - پوهه شئ چه

اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

الله ژوندۍ کوي زمکه پس د مرګ ئې - یقیناً مونږ بیان کړي دي تاسو ته آیتونه چه تاسو

له دنیا ته لاړ شئ او رڼا
موندونه وکړئ دنیا درا وي ئې
د دې سبب د ایمان او د
اتفاق سره او په هغو
پورې تعلق وه ۱۲
۲ـــه وا زور نه وه چه نبي کریم
صلی الله علیه وسلم ئې
دا صحابو خندل نو نبي
کریم صلی الله علیه وسلم
او فرمائیل چه تاسو څو
خاندئ او نه دے راغلے
تاسو ته آسمان د خدائے پاک
نه ۱۲ ۳ـــه وا ورېږي
د هغوی سره تعلق لري
او د تضعیف نو نه دے ۱۲

تَعْقِلُوْنَ ۞ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا

پوهه شئ - يقيناً خيرات كوونكي سړي او ښځې او چه قرض وركوي الله له قرض

حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ۞ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ

حسنه نو زياته به كړے شي هغوی له مال او هغوی له ثواب د عزت او كوم خلق چه يقين كړے دے په الله او

لے بعد الصف و قبل الفتح - په ترتیب قرآن کښے (۶۲) په نزول کښے (۱۱۰) دے - مقصد د سورت ترجیح په ورځ د الاتفاق و لپیز احکام د او ورځ - او د الله تعالیٰ په لاره کښے مال خرچ کول - اے د او د توحید د پاره دلیل عقلی دے - ۲ سلے دا دلیل وحی دے - ۳ سلے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ذکر دا او د چه د الله تعالیٰ د کتاب آیتونه لوستل او خلق پاکول د شرک او د بد عقیده او حسد وغیره امراضو او د قرآن شریف بیانول او احکام د دین خلقو ته ښودل حاصل د علم قرآن او علم تصوف علم تفسیر علم حدیث او فقه خلقو ته ښائی او دا نور علوم مثلا صرف او نحو وغیره تابع دی شے پاکوی نورو لره کتاب د حکمت ۳ سلے د غه علوم مذکوره ۱۲

۲
رکوع
۱۰

[illegible]

مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا

چا ته چې غواړي۔ او د الله فضل لوئ دے۔ مثال د هغو چا [illegible]

التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۭ بِئْسَ

هغو تورات او بیا عمل ئې پرې نه کړو [illegible] لکه د خره چې [illegible] کتابونه [illegible] ناکاره دے

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

مثال د هغه قوم چې دروغ ګڼلي ئې آیتونه د الله۔ او الله هدایت نه کوي داسې قوم

الظّٰلِمِيْنَ ۝ قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَاۗءُ

ظالم ته۔ او ووايه اے یهودو! که ستاسو خیال وي چې تاسو دوستان یئ

لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝

د الله بې د خلقو نه نو او غواړئ مرګ که تاسو رښتیني یئ۔

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

او به نه غواړي دا مرګ [illegible] د هغه چې مخکې ئې لیږلي دي [illegible] او الله ښه عالم دے

بِالظّٰلِمِيْنَ ۝ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ

په ظالمانو۔ او ووایه چې یقیناً هغه مرګ چې تاسو ترې تختئ نو یقیناً [illegible]

ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

تاسو به بیا واپس کړے شئ هغه پوهه ته [illegible] نو خبر به کړي تاسو په هغه عمل

تَعْمَلُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ

ستاسو۔ اے مؤمنانو! کله چې اذان اوشي د مانځه په ورځ د

الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

جمعې نو منډه کړئ یاد د الله ته او پرېږدئ بیع۔ دا غوره ده تاسو لره

ع ۱

[illegible]

[illegible]

ف بعض بهرو تجارت قافله ورسيا المنافقوته خپل سوداګر راوړی او ډهولونه يې وهل ... تيارشي ... ذکر الله باندي او ... ډیره ... دوه ... نبي کريم صلی الله عليه وسلم خطبه وئيله چه تن قافله رغله په مسجد کې اوکړه او د قحط زمانه وه نو اصحاب

إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ⑨ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَوٰةُ فَانتَشِرُوا فِي

که تاسو پوهیږئ ـ نو کله چه ختم شي مونځ نو خوارہ شئ په

الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا

زمکه کښې ـ او طلب کړئ فضل د الله او یاد وئ الله لره ډیر چه

لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ⑩ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا

تاسو کامیاب شئ ـ او کله چه اووینی دوی سوداګري او تماشه نو خوارہ شي طرف ته

وَتَرَكُوكَ قَائِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ

او پریږدي تا ولاړ ـ او وایه ته چه د الله سره دی هغه غوره دی د تماشې او د

التِّجَارَةِ ۚ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ⑪

سوداګرۍ نه او الله غوره رزق ورکوونکی دے ـ

سُورَةُ الْمُنَافِقُونَ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ إِحْدَىٰ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورت منافقون مدنی دی په مدینه کښې نازل شوی اوولس ایتونه دی او دوه رکوع په کښې دی ـ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع په نوم د الله سره چه بے حده مهربان او رحم کوونکی دے (امداد غواړم)

إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ

کله چه راشي تا ته منافقان نو وائي چه مونږ شاهدي کوو چه ته د الله استازے يې ـ او الله

يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ ①

پوهیږي چه ته استازے يې د الله ـ او الله شاهدي کوي چه دا منافقان دروغجن دي ـ

اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَاءَ

جوړ کړيدي دوی قسمونه خپل ډال نو منع کوي د لارے د الله نه ـ يقيناً بد عمل کوي

لا پيدا شو مولس کسه پاتې شو نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم او فرمايل که تاسو ټول تللی وے نو دا ور سيلاب به راغلی وے په تاسو (فائده) اصحاب عادل دي يعني ګناه چه اوکړي نو زر توبه کاري نو راغلی دي په دے قصه کښې اشاره ده شو ۱۲ ف معلومه شوه چه خطبه د جمعې په ولاړه وه او په بل تقرير کښې اختيار دے ځکه چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم تا ولاړ وے په منبر ۲ ف بعد الحجرة وقبل المواهد له په ترتيب قرآن کښې (۶۳) په نزول کښې (۱۰۴) دے مقصد د سورت اے مسلمانانو تاسو په غزا کښې خرچ کوئ او مهاجرين او فقيران منافقانو ته مه ورکوئ چه منافقو وائي چه دا مهاجران د خپل وطن نه راغلي دي او مدينې خرچه مه کوئ چه دوی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه خوارہ شي ۳ ف دا زورونه چه منافقانو لره ... دروغ ... دي په دے کښې چه مونږ د مسلمانانو سره خيره نه ده کړے بلکه د دوی ... دي چه لا تنفقوا على من الخ ۱۲

ع ۱۲

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۞ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى

دوی - دا د دې له کبله چه دوی ایمان راوړی بیا کافر شول نو مهر او وهلی شو په

قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۞ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ

زړونو د دوی نو دوی نه پوهیږی - او کله چه او وینې ته دوی لره نو خوښ به درشی جسمونه د دوی

وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ

او که وائی دوی خبره نو ته آورې خبره د دوی - ګویا دوی لرګی دی تکیه شوی -

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ؕ قٰتَلَهُمُ

ګمان کوی هر آواز د جنګ چه په دوی دی - دوی دی دښمنان ددې نو ځان تری بچ کړی - ختم دې کړی دوی

اللّٰهُ ؗ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۞ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ

لره الله څرنګه واپس کیږی شی؟ او کله چه او ویلی شی دوی ته چه راشئ چه بخښنه او غواړی تاسو لره رسول

اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۞

د الله نو کاږه کړی دوی سرونه خپل ته به وینې دوی چه منع کیږی د حق نه او دوی ځان غټ ګڼونکی -

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ لَنْ يَّغْفِرَ

برابره ده په دوی باندې که بخښنه غواړې دوی لره او که بخښنه نه غواړې دوی لره - هیڅکله بخښنه

اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۞ هُمُ الَّذِيْنَ

نه کوی الله دوی ته - یقیناً الله هدایت نه کوی نافرمان قوم ته - دوی هغه دی چه

يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ؕ

وائی چه خرچ مه کوئ په هغه چا چه په نزد د رسول د الله دی تر دې چه خواره شی تری -

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او خاص الله لره دی خزانې د آسمانونو او د ځمکې لیکن منافقان

لہ پیروی د حقوق یاسته غیرت وی خو بیه په هغې وی د لرګو په شان ۳ ـــــ چه اعلان د جنګ کیږی نو دوی وائی چه موږ په راغلل ۴ ـــــ د تکبیر سر سروونه کاږه کړی ۵ ـــــ قصه په غزاه بنی المصطلق کښې یو مهاجر او انصاری لره او وهلو نو عبد الله بن ابی خپل خلق جمع کړل چه د دوی زمونږ په ډوډۍ مست شوی راځئ چه خپل خرچ ترې بند کړو او چه لاړو نو وطن زمونږ ته نو دا حریبان به ترې او باسو زید بن ارقم دا خبرې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته او کړې مشرانو اصحابو د عبد الله بن ابی سفارش او کړو او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د زید خبره او نه منله شو زید خفه شو او دا سورت راغی نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم زید ته او وې چه حلکه الله تعالی ستا تصدیق او کړو نو چا ورته منافق ته او وې راشه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم درله بخښنه او غواړی نو هغه او وې چه زکات او د ایمان ام او بیه یم در کړه هغه نور ریا یم ماسم او وې چه ستاسو په

۵ ـــــ د بنام مونږ د زکوٰة او ایمان حرفی او کړه او س هغه ته سجده هم او کړم چه تاسو ته پښه دی الله په مونږ په دی نفاق کښې مو شو - الله دې مونږ ته په آسان کړی ۱۲

لَا يَفْقَهُوْنَ ۞ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ

نه پوهیږي - وائي دوي که واپس شو موږ مدینے (منورې) ته نو خامخا به اوباسي

الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ۚ وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ

عزتمند د دینه ذلیلو لره - او خاص الله لره عزت دے او رسول د هغه لره او مومنانو لره او

لٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ

لیکن منافقان نه پوهیږي - اے مومنانو! غافل دې نه کړي تاسو لره

اَمْوَالُكُمْ وَ لَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو د یاد د الله نه - او چا چه اوکړو دا کار

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۞ وَ اَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ

نو دوی تاوانیان دي - او خرچ کړئ د هغه مال نه چه مونږ درکړے دے تاسو ته مخکښ د

اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْ لَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ

هغے نه چه راشي یو ستاسو ته مرګ نو بیا وائي اے ربه ولے دې وروستو نه کړو ما لره نیټه

قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَ اَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۞ وَ لَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

لږ دے ته چه ما خیرات کړے وے او زه شوے وے د نیکانو نه - او هیڅ کله نه وروستو کوي الله

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۚ وَ اللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۞

یو نفس کله چه راشي نیټه د هغه - او الله خبر دار دے په کارونو ستاسو باندے۔

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَّ هِيَ ثَمَانِ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّ فِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورت تغابن مدني دے په دے کښے اتلس آیتونه او دوه رکوع گانے دي۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞

شروع په نوم د الله سره چه ډیر زیات مهربان او رحم کوونکی دے (راسره او شوا په ی)

له دا ترغیب دے
انفاق ته ۱۳، ۱۲
۲له بعد التحریم و قبل
الصف - په ترتیب قرآن
کښے (۶۴) او په نزول کښے
(۱۰۸) دے - مقصد
د سورت نفلي خیرات
ورکړه د توحید د اثبات
د پاره - دریے مسئلے د
په دے سورت کښے (۱)
توحید (۲) امور انتقامیه
چه اتفاق راشي (۳) انفاق

ع ۱۴

ع ۱۵

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ وَ

پاکی وائی الله لره هغه څه چه په آسمانونو کښې او هغه څه چه په زمکه کښې دی خاص الله لره بادشاهی او

لَهُ الْحَمْدُ ۖ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۞ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ

صفت الله لره دی او الله په هر شي باندې قدرت والا دی - الله هغه دی چه پیدا کړی ئی تاسو لره

فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۞

نو ځینې ستاسو نه کافر دی او ځینې ستاسو مؤمنان دی - او الله کارونه ستاسو وینی -

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ

هغه پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه د پاره د حق او صورتونه جوړ کړی ئی ستاسو بیا ئی ښه کړی صورتونه

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۞ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ

ستاسو او الله ته ستاسو واپسی ده - پوهیږی الله په هغو چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی - او پوهیږی

مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۞

په هغو چه پټوی ئی تاسو او په هغو چه ښکاره کوئی ئی تاسو - او الله پوهه دی د زړونو په خبره باندې

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا وَبَالَ

آیا نه دی راغلی تاسو ته واقعات د هغو چه کفر کړی وه هغو مخکښې نو حاصل کړه هغو عذاب د

اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۞ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

کار خپل او هغو لره عذاب دی دردناک - دا عذاب ځکه چه راوړو به ورته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۡ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا

رسولانو د هغوی صاف دلیلونه نو دوی به وئیل آیا یو بشر خو نه کوی موږ ته هدایت - نو انکار ئی وکړو او واپس

وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۗ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۞ زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ

شول او بې پرواه دی الله - او الله بې پرواه او صفتونو والا دی - خیال دی د کافرانو چه

له بیان د توحید دے چه
خلق د اصل مسئلے نه غافل
نه شی ۲ ستـه دا د الله تعالیٰ
د وحدانیت دلیل دے ۱۲
ستـه تر دے ځایه پورے
د الله تعالیٰ د لوئے قدرت
مظاهر دی او س الله تعالیٰ
خپل لوئے علم بیانوی
نو حاصل دا چه د لوئے
قدرت والا او د لوئے علم
والا صرف الله تعالیٰ دے
واخبره صرف بیانوی
په تربیه د تال یا پیدائش د
حال سره نو د دے لوئے
بادشاه نه حاجتونه
غواړئ د دے مسئلے د
اشاعت د پاره مال خرچ
کړئ او په دے میان کښې
اتفاق پیدا کړئ حکم د
دے مسئلے د اشاعت د
پاره ۱۲ ستـه دا د عذاب
د دنیا بیان دے چه د د
توحید مسئله د منلو نه
ده چه دوی نه منو نو الله
تعالیٰ په دنیا کښې هم عذاب
کړے دی ۱۲ ستـه دا د
غیب او شهادة بیع ۵
ترجمه د ۱۲ یا الله په مؤمن
رحم او کړه جنت او
عافیت کړئ خداے ۱۲
زمونږ نصیب کړے ۱۲
ستـه دا د عذاب د آخرت
بیان دے ۱۲ ۱۲ ۱۲

ک هر کله چه معلومه شوه چه په هر څه قادر صرف الله تعالیٰ دے او په هر څه پوهه هم صرف الله تعالیٰ دے او مخالفینو د توحید په دواړه جهانه کښ عذاب دے نو اوس نو تاسو یقین او کړئ په الله تعالیٰ او په رسول د هغه او په قرآن چه منزل کتاب دے او

لَنْ يُّبْعَثُوْا ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ

را ژوندي به نه کړے شو دوي. ته ووايه ولے نه قسم دے په رب زما خامخا به را پاڅولے شئ بيا به خبر کړے شئ

وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ

په عملونو ستاسو. او دا کار په الله باندے آسان دے. نو ايمان راوړئ په الله او په رسول د هغه او په هغه رڼا چه

اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ

رالیږلے ده. او الله په کار د تاسو خبردار دے. کله چه راجمع کړي تاسو لره الله په ورځ د جمع کيدو

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ

دا ورځ د ګټے او د تاوان ده. او چا چه ايمان راوړو په الله او هغه او کړو کار نيک نو معاف به شي

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

هغه ګناهونه د هغه او به يې داخل کړي په باغونو کښ چه بهيږي به د لاندے د هغو نه ويالے

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هميشه به وي په هغو کښ هميشه. دا لويه ده کاميابي. او کوم چه کافران دي

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَبِئْسَ

او دروغ ئې ګڼلي آيتونه زمونږ دوي دي د دوزخ والا دي هميشه به وي په هغې کښے. او ناکاره

الْمَصِيْرُ ۝ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ

ځائے دے. هغه چه رسي څه مصيبت نو په اذن د الله سره رسي. او چا چه

يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ وَاَطِيْعُوا

يقين او کړو په الله نو هغه به ښوونه او کړي زړه د هغه ته. او الله په هر شي پوهه دے. او حکم اومنئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰي رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

د الله او حکم او منئ د رسول. نو که تاسو واپس شوئ نو يقيناً شته دي په رسول زمونږ د ي صاف

رنړا ده او الله تعالیٰ ستاسو په کارونو خبردار دے او تاسو به د حساب د پاره په قيامت کښے جمع کړې شئ نو مونږ د توحيد بيان کړے او نه منونکو بتاوان او کړو. ۲ که دا د منونکو د پاره زيرے دے او د کے بيان دے ۳ که دا د نه منونکو د پاره د عذاب او د تاوان بيان دے. ۴ که کړو کافرانو طرف ته مصيبت راځي نو په دا مه ساتئ دا امتحان دے (فائده) هر مصيبت راځي په حکم د الله سره او سبب غالب ګناه دے. ما يشبه مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ او فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ، نو چه څه تکليف رسي نو خوش قسمت والې چه دے مولا تکليف ستا دے نو فرمائي الحبيب لا يعذب د محبوب بد عمل وکړی وي: که په لاره کښے کنکړ ځي او دے ورته رتا ژوند شي او يا خبره کوي نو دا اخيرے ځائي وي څکه چه دا د دوي بد عمل وے نو تو په دے او ياسي او که د دنيا په خوئي خرئ د د په عمل دے په ع ګټه او بيلله خو خلقو کړي په دنيا کښے خو دله بے ګناه شي په آخرت کښے. بيلته وا ده: اِشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ

بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ؛ بقره ۱۷۵ او دا کافر نو بيلته ده د مسلمانانو کښے داده: اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؛ توبه ۱۱۱ وسے

ع ۱۵

له هغه مسئله وا وره چه مننونکو ته ګټه کیږي او نه مننونکو ته بیلنه او تاوان. د منونکو له فائزون الدارین او نه منونکو له خاسر [illegible] د دنیا او اخرت [illegible] مسئله د امور انتظامیه [illegible] سورت کښې اتفاق [illegible] چه د کافر سره مقابله کولی شئ ګڼ تاسو او [illegible]

الْمُبِينُ ﴿١٢﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٣﴾

واضحه ښودل. الله هغه ذات دی چه بل څوک حاجت پوره کونکی نشته او الله ته دې توکل او سپارل کوي مؤمنان.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ

اې مؤمنانو! یقیناً ځینې ښځې ستاسو نه او اولاد ستاسو نه دښمنان ستاسو دي

فَاحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ

نو ځان ترې بچ کړئ. او که تاسو معافه کوئ او ځان ناګاره کوئ او بخښنه کوئ نو یقیناً الله بخښونکی او

رَحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَاللَّهُ عِنْدَهُ أَجْرٌ

مهربان دی. یقیناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دی او د الله سره لوی ثواب

عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا

دی. نو د الله نه ویرېږئ څومره چه ستاسو طاقت وي او واورئ حکم او منئ او خیرات اوکړئ

خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ ۗ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾

بهتر ستاسو له. او څوک چه بچ شو د بخل د نفس خپل نه نو دوی کامیاب دي.

إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ

او که ورکوئ تاسو الله له قرض حسنه نو زیات به کړي ستاسو مالونه او معاف به کړي تاسو. او الله

شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

قدردان او صابر دی. پوهیږي په هر غیب د مخلوق او په حاضر او زبردست او حکمت والا دی.

ع ٢ / ١٦

سُورَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَا عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(آیتونه ١٢)	شروع په نوم د الله سره چه بې حده مهربان او رحم نې خورا ډېر دی او اعلی او غوره	(رکوعګانې ٢)

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا

اې نبي! کله چه طلاق ورکوئ تاسو زنانه نو طلاق ورکوئ هغه ته په اوده د شمار د عدت او شمار کوئ

څوک سخت ظهور اوکړي [illegible] نو معاف کول او انتقام نه اخلئ. او اولاد ستاسو په سبب د دښمنۍ [illegible]

ته د توحید د اشاعت د پاره مال خرچ کړئ او بخښنه کوئ حال به الله تعالی ستاسو زیات کړي او بخښنه به تاسو اوکړي. [illegible] سورت شروع وه په دې چه د لوی طاقت او لوی علم والا صرف الله تعالی دی نو په آخر کښې هم د هغه مسئله ذکر کړي حلته تفصیل وه دلته اجمال چه عزیز او حکیم صرف الله تعالی دی نو عزیز معنی د لوی قدرت والا او حکیم د لوی علم د تعبیر دی.

٥ په عدالرحمان د قبیل البینة. په ترتیب قرآن کښې (٦٥) او په نزول کښې (٩٩) دی. مقصد د سورت الذي خرچ اوکړئ په عدت کښې مطلقې ته او موضوع د چه انتظام برابر شي چه تاسو اشاعت د توحید کولی شئ. په سورت کښې درې مسئلې دي (١) امور انتظامیه (٢) تخویف دنیوي (٣) مسئله د توحید. او [illegible] د امور انتظامیه دي د دې په عمل سره په مسلمانانو کښې اتفاق راځي نو بیا هغوی د توحید اشاعت په ښه او په قوت د

بنا کولی شي. او [illegible] یعنی په داسې طریقه به ښځه طلاق ورکوئ چه عدت شمار لې کیدې شي. یعنی په حیض کښې ښځه د حیض نه پاکه شي او تعلق ورسره نه وي شوی. نو که د سره طلاق ورته ضرورت وي نو دا ښځه په پاکه وخت کښې طلاق ورکړي په عدت کښې معلوم شي که حامله

الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ ۖ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا

عدت لره - او ووېرېږئ د الله نه چه رب ستاسو دے او مه باسئ هغوى لره د كورونو د دوئ نه او نه دے

يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ

چه هغوى ووځى مګر كه كوى ښكاره ګناه - او دا احكام د

اللَّهِ ۚ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ لَا تَدْرِي

الله دى - او څوك چه وا وړېږى د پولو د الله نو هغه زياتے او كړو د ځان سره - نه پوهېږې ته هغه به

لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ① فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ

شايد الله به پيدا كړى پس د طلاق د بله خبره - نو كله چه نژدې شو عدت د دوى

فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ

نو حصار وئ هغوى لره په ښه طريقې يا جدا كړئ هغوى په ښه طريقه او شاهدان كړئ دوه

عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ

عادلان خپله او ادا كړئ شاهدى الله لره - په دې سره وعظ كولے شى هغه چا ته چه

يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ

يقين كوى په الله او په ورځ د قيامت - او څوك چه ووېرېږى د الله نه نو مقرر به كړى هغه

مَخْرَجًا ② وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ

بچاؤ - او هغه لره به رزق وركړى د هغه طرف چه خيال به نه وى - او چا چه ګمان او سپارل

عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ

الله ته نو هغه ورلره پوره دے - يقيناً الله پوره كوونكے د خپل كار - مقرر كړے دے الله هر شى

شَيْءٍ قَدْرًا ③ وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ

لره اندازه - هغه چه نا اميده شى د حيض نه د زنانو ستاسو نه كه

ل د دوارو دے وتلو د كور نه
[illegible] د عدت نه وفقه [illegible]
[illegible] واضح كړے دے
[illegible] وعيت د عدت يعنى
[illegible] شو نو
په عدت كښې به ورته رجوع وى
كه طلاق صريح وى نو رجوع
په قول سره وه او كه كنايه وى
نو رجوع په نوى نكاح سره
وه او كه عدت د خلع وه
نو رجوع په نوى نكاح سره
كه عدت نژدې شو منقضيه
نو د خاوند اختيار دے
يا به رجوع كوى خو په انصاف
سره چه ورسره انصاف
كوى يا به هغه وفقه ختم
پريږدى نو د هغې عدت به
ختم شى خو شاهدان به جوړ
يا به ختمه وى د عدت به
[illegible] چه يو
وى او د هغې حيض ختم
شى يا [illegible] د هغې حيض
[illegible] د عدت د طلاق
د هغې درې مياشتې دے
(فائده) معلومه شوه
چه اصل عدت په حيض
سره دے او كه حيض نه
كيږى نو بيا به درې
مياشتې عدت وى ١٢

ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ وَّالّٰٓـِٔيْ لَمْ يَحِضْنَ ۭ وَاُولَاتُ

نو عدت د هغوی درې میاشتې دي او هغه زنانه چه د هغوی حیض نه کیږي - او د حاملو

الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۭ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ

زنانو عدت د هغوی دا دی چه بچی پیدا کیږي - او هغه څوک چه ویریږي د الله نو پیدا

لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝۴ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ۭ وَمَنْ يَّتَّقِ

کړي به ورله د هغه په کار کښې آسانی - دا حکم د الله دی چه رالیږلی یې دی تاسو ته - او څوک چه اوویریږي

اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ۝۵ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ

د الله نو معاف به کړي هغه ته ګناهونه د هغه او لوی به کړي ثواب د هغه - او ساتئ دوی ته او لره چیرته

حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَاۗرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا

چه تاسو اوسئ په طاقت خپل سره او ضرر مه رسوئ هغوی ته چه تنګی را ولئ

عَلَيْهِنَّ ۭ وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

په هغوی باندې - او که وی حاملې نو خرچ کوئ په هغوی باندې تر هغې چه

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا

پیدا شی بچی د دوی - نو که دوی پئ لره ورکوی ستاسو بچی ته نو ورکوئ دوی ته مزدورۍ د دوی - او مشوره کوئ

بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗٓ اُخْرٰى ۝۶

کوئ په خپل منځ کښې په ښه سلوک - او که سختی کوئ تاسو نو پئ به ورکړي بچی لره بله ښځه -

لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ۭ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ

خرچ دې کوي مالدار د خپلې مالدارۍ نه - او څوک چه کم وي رزق د هغه

فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ۭ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا ۭ

نو خرچ دې کوي د هغه نه چه ورکړی دی ورله الله - تکلیف نه ورکوي الله هیچا ته مګر د هغه په اندازه چه ورکړي یې دي هغه لره

له د قرآن قانون دا دی چه د اطلاق نه روستو د تقوی اطلاق اوری نکه چه په هغه احکامو لښتي تغییر او نه کړی شي

سله چه عدت کښې مطلقه لره د کور او د خرچ نفقه کوی مطلق خاوند د کی په طلاق رجعي سره وی او که په طلاق بائن سره او که په طلاق مغلظ سره وی (فائده) خلع هم طلاق بائن وی (فائده) په الفاظ صریح سره طلاق رجعي واقع کیږی او په الفاظ کنائی سره طلاق بائن واقع کیږی چه نیت او کړی شی د طلاق کنائی لکه چه: اوزه د کور نه: ځکه په دې کښې دوه احتمالات دی او په درې طلاقو سره طلاق مغلظ واقع کیږی بیا تحلیل ته ضرورت شی د تفصیل په فقه کښې او ګورئ

سله سری ښځه طلاق کړه او د عدت نه روستو هغې بچی د خاوند لره پئ خپل ورکول شو پلار د بچی به مزدوری ورکوی دی لره او که طلاق نه وه بیا چه خپل بچی لره پئ ورکوی نو هغه دوری نه شی اخستی

سله د دنیا د عذاب بیان دے ۱۲ سله دا د عذاب د اخرت بیان دے ۱۲ سله دا زمونږ دے ۱۲ سله دا ذکر بیان دے نو د ذکر نه مراد ذاکر دے (فائده) څلور سورتونه د انفاق متعلق دی چه ذکر شو په جمعه کښې فرمان دے چه د جمیع په

سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ۝ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ

پیدا به کړی الله پس د سختئ نه آرام لره . او ډیر دی کلي نافرمانی او کړه

عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا

د امر د رب خپل نه او د رسولانو د خپلو نو حساب اوکړو د هغوی سره حساب سخت او عذاب ورکړو

عَذَابًا نُّكْرًا ۝ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا

هغوی له ناآشنا . نو څکلو دغو خلقو عذاب د کار خپل او شو آخر د کار د هغوی

خُسْرًا ۝ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي

تاوان . تیار کړے دے الله هغوی له عذاب سخت . نو او ویریږئ د الله نه اے

الْأَلْبَابِ ۚ الَّذِينَ آمَنُوا ۚ قَدْ أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝ رَّسُولًا

عاقلانو . کوم چه یقین والا دی یقینا رالیږلے دے الله تعالیٰ تاسو ته نصیحت کوونکے . چه رسول دے

يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

چه لولی تاسو ته آیتونه د الله صاف چه راوباسی هغه کسان او چه کوی

الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ

نیکی د تیرو (د شرک) نه رڼا (د توحید) ته . او هغه چه یقین اوکړی په الله او کوی

صَالِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

نیکی نو ننه به ئے باسی هغوی له الله باغونو نه چه بهیږی به د لاندے د هغوی نه ولے همیشه به وی په هغوی

أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا ۝ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَ

هم تل ښه کړے دے الله هغه له رزق . الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی اوه آسمانونه او

مِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ

زمکے هم دومره . نازلیږی حکم د الله په هغوی کښې چه تاسو پوهه شئ په یقینا الله په

ع ١٧

ورځ د انفاق مسئلے داوږ
نو په منافقون کښې فرمائي
چه په غریبانو او مجاهدینو
باندې خرچ کوئ او د منافقانو
نه مه چرې تې نو په تغابن
کښې اعلان دے چه نفلي
خیرات او کړه نو په دے
سورت طلاق کښې ارشاد
دے چه لازمی انفاق او کړه
چه انتظام ئے سو برابر شی
نو په اختتام د سورت تحریم
کښې دواړه مسئلے یعنی
د انفاق مسئله او د جهاد
مسئله مکمل کوړی نو
د حدید نه تر تحریم پورې
لس سورتونه دی چه
بیکښې په دوو مسئلو زور
دے انفاق او قتال د
اشاعت د توحید د پاره
نو په دے لسو سورتونو
کښې دریے مسئلے شوے (۱)
قتال (۲) انفاق (۳) توحید
او مقصود خو توحید دے
چه حسن الله تعالیٰ په انفاق
او قتال کښې حسن د توحید
په وجه راغلے دے ۱۲
شیخ وکیل د توحید چه اصل
مسئله همیشه فرشی چه د غه
د دنیا عذاب یا د غا مونتلفا
نو دے مسئلے د پاره دی ۱۲
سله په شان د آسمانونو
یعنی زمکه د آسمان په شان
غونډ پیدا دی د طبقو د زمکے
او د و حصو دی او د آسمانونو

لا نه ے پاتے دی . د زمکے اوه حصے دا دی (۱) ایشیا (۲) یورپ (۳) افریقه (۴) جنوبی امریکه (۵) شمالی امریکه (۶) نیوزی لینډ (۷) ...
بهتر دا ده چه او د زمکے دی خو پوره تفصیل ئے صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے مونږ ته ئے تفصیل معلوم نه دے نو ... دی ۱۲

ـه په ما السموات وقبل التغابن ـ په ترتيب کښې قرآن کښې (٦٦) په نزول کښې (١٠٧) دے ـ مقصد د سورت ... او دوه مسئلې د
طلاق او العلاق ـ ٢ ـه نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د زينب رضی الله عنها کره د کبين شربت ... نو وخت به په ... (؟)

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۙ وَّأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ۝١٢

هر شي باندې قدرت والا دے او يقيناً الله په علم کښې راګير کړي دي هر شے ـ

سُورَةُ التَّحْرِيمِ مَدَنِيَّةٌ
بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
اثْنَتَا عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة (٦٦) | شامل په نوم د الله سره چه ... (؟) | رکوعاتها (٢)

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ ۖ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ ۚ

اے نبی ولې حراموې هغه شے چه حلال کړے دے الله تا له طلب کوې رضا د بيبيانو خپلو ـ

وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝١ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ ۚ

او الله بخښونکے مهربان دے ـ مقرر کړے دے الله تاسو له ماتول د قسمونو ستاسو

وَاللَّهُ مَوْلَاكُمْ ۖ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ۝٢ وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ

او الله مالک ستاسو دے ـ او هغه پوهه او حکمت والا دے ـ او کله چه پټه اوکړه نبی خپلو

بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ

بعضې بيبيانو ته يوه خبره ـ نو کله چه هغې خبر ورکړو د دغه ... او ښکاره کړه هغه ته الله

عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ ۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ

نو اوښودله هغه ... او اړولے ئې ... ـ نو کله چه خبر ورکړو هغې ته ... هغې ووئيل

مَنْ أَنْبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ۝٣ إِنْ تَتُوبَا إِلَى

چا خبر کړې ته په دې ـ وې ويل خبر کړم ما له پوهه خبردار ... ـ که تاسو دواړه توبه اوباسئ

اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ

الله ته نو يقيناً کاږه شوی دی زړونه ستاسو ـ او که تاسو دواړه يو بل امداد کوئ په هغه ... نو يقيناً الله هغه

مَوْلَاهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ

يقيناً الله دے ... او جبرئيل او نيکان مومنان ـ او ملائک سوا د دے نه

(حاشيه) ... او کوبيبيانو سره ... خبره ... شو ـ چه هغوی حلته ... شربت مسکل (؟) ... حفصه ... شربت ... منع کړو او ... چه زينب ... نو الله تعالى ... حلال وی ... حرام ... ماريه قبطيه ... حفصه ... حرام کړے ... مطلب ... منع کړو چه الله تعالى ... قسم ... کفاره د قسم ... ماريه ... ١٢ ـ حفصه ... خبره ... نبی کريم صلى الله عليه وسلم ... الله تعالى ... عائشه ...

... خبره اوکړه ... نبی کريم صلى الله عليه وسلم ... او کړه ... خوشحاله ... زړونه ... ١٢ ـ ... بعضې خبرې حفصې ... او بعضې ئې پاتے کړې ١٢ ... الله تعالى ...

[illegible] ریاضت ... رفاقت او د ... اتباع او د ... حلال ... (رفا کنده) ... د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم [illegible]

ظَهِيرٌ ۝ عَسَىٰ رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا

مدد گار دے. امید دے چه رب د هغه که طلاق درکړی تاسو لره چه ورته بدل کړی ښځې غوره

مِّنكُنَّ مُسْلِمَاتٍ مُّؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ

تاسو نه مسلمانانې مؤمنانې تابعدارانې توبه ویستونکې عبادت کوونکې روژه دارې

ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا ۝ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ

کونډې او پیغلې [illegible] اے مؤمنانو! بچ کړئ ځان خپل او خاندان خپل

نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ

د اور نه چه خشاک د هغه خلق دی او کانړی دی په هغه مقرر دی ملائک سخت [illegible]

لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝ يَا أَيُّهَا

خلاف نه کوی د الله په هغه چه حکم او کړی هغوی ته او کوی هغه کار چه هغوی ته حکم اوکړے شی. اے

الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

کافرانو عذر مه کوئ نن. یقیناً بدله درکولے شی تاسو ته د عمل ستاسو.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ

اے مؤمنانو! توبه کار شئ الله ته په صفا زړه سره. امید دے چه رب ستاسو

أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

معاف کړی تاسو ته گناهونه ستاسو او بوځی تاسو لره باغونو ته چه بهیږی به لاندې د هغو

الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ ۖ نُورُهُمْ

ویالې. کله چه نه شرموی الله نبی او هغو لره چه ایمان راوړے دے د هغه سره. نور د هغو

يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا

به روان وی مخکښې د هغوی او په ښی طرف د هغوی. وائی به اے ربه پوره کړه موږ لره رڼا زموږ

[illegible] ضرورت ... حصه دوه قسمه ... الله تعالی فرمائی ثیبات و ابکارا ... او ... خاندان ... ایمان او ... نفاق ... د ... حدیث اشاره ... یعنی د دنیا اور ... ملائک ... زبردست ... الله تعالی د خلاق ... بدل ... بشارت ... نصوحا ... قرآن مطلب ... (رفا کنده) توبه د الله تعالی ... عمل ... نادم ... چه بیا ... گناه ... {لکک من تدخل النار فقد اخزیته} (آل عمران ۱۹۲) ... د مسلمانانو ... دوه پاره ... شرمولو ... نور د ایمان ... نور د نیک عمل او د اخلاق ... د حدیث ... اشاره ... یا الله موږ ته معافی اوکړے ۱۲

ئے حرمته کولے شے نو مونږ ته معافی هم کولے شے یا الله مونږ معافی کړے ... د مضمون د جهاد ویان ...

وَاغْفِرْ لَنَا ۚ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۞ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ

مونږ ته وبخه - یقیناً ته په هر شی باندے قادر ئے - اے نبی جهاد کوه

الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ

د کافرانو او منافقانو سره او سختی کوه په هغوی - او ځائے د هغوی دوزخ دے - او ناکاره

الْمَصِيرُ ۞ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَتَ نُوحٍ وَ

ځائے دے - بیان کړے دے الله مثال د پاره د کافرانو ښځه د نوح او

امْرَأَتَ لُوطٍ ۖ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ

ښځه د لوط - وے دواړه په کور د دوو بندګانو کښے ځمونږ د نیکو بندګانو نه

فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ

خیانت ئے اوکړو د هغوی سره نو الله ... دواړه د هغوی ... هیڅ شی او اووئیلے شو

مَعَ الدَّاخِلِينَ ۞ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ

چه داخل شئ اور ته سره د داخلیدونکو - او بیان کړے دے الله مثال مؤمنانو ته د ښځه د

فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي

فرعون - کله چه هغے اووئیل اے ربه جوړ کړه ما له په نزد ستا کور په جنت کښے او ما بچ کړه

مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ۞ وَمَرْيَمَ

د فرعون او د هغه کاره هغه نه او ما بچ کړه د قوم ظالم نه - او د مریمے

ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا

لور د عمران ده کومه چه هغے پاکی اوساتله د ځان خپل نو ما پو کړو په هغے کښے روح د خپل طرف نه

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ ۞

او هغے تصدیق کړے وه د خبرو د رب خپل او د کتابونو د هغه او وه هغه د تابعدارانو نه -

---

سکه د موکز منافقانو سره جهاد په ژبه باندے وے او د بهر منافقانو سره جهاد په توره وے ١٢

سکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم نرم وو نو الله تعالیٰ فرمائی چه د کافرانو سره سختی کوه ځکه چه دوی دوزخیان دی ١٢

شه یعنی خپل خلقت کار وے د نبی علیه السلام رشته نجات ورکولو نکے نه ده نو ځکه جهاد کوئی او انفاق فی سبیل الله کوئی ١٢

شه د کافر نسب مضر نه وے چه سړے پخپله ښه وی چه جهاد او انفاق کوی ١٢

سکه کمال د زنانه ځکه په خاوند موقوف نه وے کله چه هغه د خپل عمل ښه (صالح) کوی

شه روح د خپل طرف نه الله تعالیٰ پیدا کړو نو کښے سبب ته محتاج نه دے اګرچه دا دنیا عالم اسباب دے ١٢

له بعد الطور وقبل الحاقة - په ترتیب قرآن کښې (۶۷) او په نزول کښې (۷۷) دے مطلب د سورت: چه جهاد او انفاق د پاره مسئله د باره ده چه برکت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے نه کل ما سوی الله (رفاعه) دا مسئله په قرآن کښې ذکر ده بلکه دا خیره

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورت ملک مکي دے په دې کښې دېرش آیتونه او دوه رکوع نازل شوي دي۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم د الله سره چه بے حده مهربان رحم کوونکے دے (اعداد غواړي)

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۡ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۨ ۱

برکت دے د هغه چه په قدرت د هغه کښې بادشاهي ده۔ او هغه په هر څه باندې قدرت والا دے۔

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ

کوم چه هغه پیدا کړي دي مرګ او ژوند چه امتحان اوکړي ستاسو چه کوم یو ستاسو ښه دے په لحاظ د عمل

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۙ ۲ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ

او هغه زبردست او بخښونکے دے۔ کوم چه هغه پیدا کړي اووه آسمانونه لاندې باندې۔

مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ

نه به نه وینې ته په پیدا کولو د مهربان بادشاه کښې څه فرق۔ واپس کړه نظر آیا وینې

تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۳ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ

ته څه نقصان - بیا واپس کړه نظر بیا بیا واپس به شي تا ته نظر

الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۴ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ

ستا عاجز او هغه به ستړے وي۔ او یقیناً ما ښائسته کړي دي آسمان نزدې په ستورو سره

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ۵

او ما ګرځولي دي هغه ویشتونکي شیطانانو لره او ما تیار کړي دي د هغوی دپاره عذاب د اور -

وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۶

او د پاره د هغوی چه انکار کوي د رب خپل نه عذاب د دوزخ دے۔ او بد ځاے د واپس کیدو دے -

دو چه د الله تعالیٰ په نوم کښې لوئے خیر دے دا مسئله د سورت رحمان ده د پیل چا په نوم ا فستو کښې خیر نشته دا مسئله د سورت واقعه ده - نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي دا سورت یو کوم قاري خپل د قیامت نه او ژغوري د عزت آرمان کوم چه دا سورت په زړه د هر انسان کښې وي خامت څانه او نیسي چه دا سورت بخښه غواړي د خپل قاري دپاره تر بخښے پورې ۱۲ (دا اقدس) مجموعه په لحاظ د لیله عقلیه وي په دے چه برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے حکم چه د لوئے علم او د لوئے طاقت والا دے چه کل ما سوی الله نه دے ۱۲ ۱۲ علم د اول دلیل عقلي د دے د پاره چه برکت او خیر صرف د الله تعالیٰ دے حکم چه بادشاه صرف هغه دے ۱۲ سے دا دویم دے سے دا دریم د دے سے دا څلورم دے ۱۲ سے دا پنځم دے ۱۲ سے دا شپږم دے د دے قول او دلیل حاصل دا دے چه بادشاه صرف الله تعالیٰ دے او قادر په عرش او پیدا کوونکے د مرګ او ژوند صرف هغه دے او دوه آسمانونه لاندې باندې هغه پیدا کړي دي ستوري هغه شیطانانو ویشتونکي

د ا ذکر د بیان دے چه دا اوبه خیر دے چه منکر دے دوزخي دے ۱۲

ستورو هغه شیطانانو ویشتونکي کړي دي ما کړي دي قول و تعرفها تو ذمعلومید او خصوصیت کوونکے صرف الله تعالیٰ دے ۱۲ سے دا د عذاب د ا ذکر د بیان دے چه دا اوبه خیر دے چه منکر دے دوزخي دے ۱۲

إِذَآ أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَّهِيَ تَفُورُ ۝۷ تَكَادُ تَمَيَّزُ

کله چه دوی غورځولے شي په هغے کښے نو اوري به د هغے زور آواز او هغه به جوش وهي - نزدې ده چه ټوټے ټوټے شي

مِنَ الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

د قهر نه - هر کله چه اوغورځولے شي په هغے کښے یوه ډله نو سوال به اوکړي د هغوی نه ساتونکي د دوزخ آیا

نَذِيرٌ ۝۸ قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ

نه وو راغلے تاسو ته ویروونکے؟ اووائي به هو راغلے وو مونږ ته ویروونکے - خو مونږ هغه دروغژن اوګڼلو او مونږ اووئیل چه

اللَّهُ مِن شَيْءٍ ۚ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ كَبِيرٍ ۝۹ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا

نه دے نازل کړے الله څه شے - نه یئ تاسو مګر په لوئي ګمراهۍ کښے - او دوی به اووائي که مونږ به

نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصْحَٰبِ السَّعِيرِ ۝۱۰ فَاعْتَرَفُوا بِذَنۢبِهِمْ ۚ

اوریدے یا پوهیدے نو مونږ به نه وو د دوزخیانو - نو دوی به اقرار اوکړي د ګناه خپلے نو

فَسُحْقًا لِّأَصْحَٰبِ السَّعِيرِ ۝۱۱ إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ

لعنت دے په دوزخیانو باندے - یقیناً هغوی چه ویریږي د رب خپل نه په غیب کښے شته

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ۝۱۲ وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِۦٓ ۖ إِنَّهُۥ

دوی له بخښنه او لوئي ثواب - او پټه کړئ خبره خپله یا په ښکاره اوکړئ هغه - یقیناً الله

عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝۱۳ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ

پوهه دے د زړونو په خبرو - آیا نه پوهیږي هغه چه پیدا کړي یې دي - او الله باریک بین او

الْخَبِيرُ ۝۱۴ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا

خبردار دے - الله هغه ذات دے چه جوړه کړه دپاره ستاسو زمکه آسانه نو ګرځئ په اطرافو د هغے کښے

وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ۝۱۵ ءَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَآءِ أَن

او خورئ د رزق د هغه - او طرف د الله ته به پورته کیده وئ - آیا په خوف نه یئ تاسو د هغه ذات نه چه په آسمان کښے دے

ع ۱

۱ یعنی یا مونږ به قبلولے آوریدے یا په عقل پوهیدلي
۲ واز یعنی ... دے ۱۲
۳ واشره ده الله تعالی ته
چه هغه لوئي قدرت والا
دے او برکت والا دے
نو ما یعنی حرف د هغه
نه غوراږي نو هغه آواز
کوي او کړي سوال کوي
نو دوا په الله آوري حکم
چه الله تعالی غوږ نیولے
په خبر چه پوهیږي ځکه چه
خالق دے نو عالم به
ضرور دے ۱۲ ۱۲
۴ دا او دوم دلیل عقل
دے ۱۲ ۱۲
۵ دا کله اول دوئم
بیان دے ۱۲

يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ

که چه ننوځوی تاسو لره په زمکه کښې نو ناڅاپه به هغه رپیږي. آیا بې غمه شوي یئ تاسو له هغه چا نه چه په آسمان کښې

أَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ

دے چه راولیږي په تاسو باندې کاڼي. نو معلوم به کړئ چه څنګه وو ویرول زما. او یقیناً

كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ

دروغژن ګڼلي وو (رسولان) هغو چه مخکښې وو د دوي نه نو څنګه شو انکار زما. آیا نه ګوري دوي مارغانو ته

فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

د پاسه په دوي باندې بڼرې خورونکي او راغونډونکي د وزرو. نه نیسي دوي لره څوک بې د رحمان. یقیناً الله هر شي

بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُنْدٌ لَكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِنْ دُونِ

وینی. څوک دے هغه چه لښکر شي ستاسو چه امداد او کړي ستاسو سوي د

الرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ

رحمان نه. نه دي کافران مګر په دوکه کښې دي. څوک دے چه رزق ورکړي تاسو لره

إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ ۚ بَلْ لَجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَنْ يَمْشِي مُكِبًّا

که بند کړي الله رزق خپل. بلکه زیات شوي دي دوي په سرکشۍ او نفرت کښې. آیا هغه څوک چه ځي سکور

عَلَىٰ وَجْهِهِ أَهْدَىٰ أَمَّنْ يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾

په مخ خپل باندې ښه برابر دے یا هغه څوک چه ځي برابر په لار برابر باندې.

قُلْ هُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۖ

او وایه چه الله هغه دے چه پیدا کړي یئ دے تاسو لره او ورکړي ئې دي تاسو لره غوږونه او سترګي او زړونه.

قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَ

کم احسان منئ تاسو. او وایه الله هغه دے چه پیدا کړي یئ تاسو لره په زمکه کښې او

سلو د اتم دلیل دے چه مرغانو ته د الله تعالیٰ خپور سیوری دے ۱۲ ستلو د اود دنیا د عذاب بیان دے ۱۲ ۱۲ سٹلو د اتفریع دے په عذاب د دنیا چه امداد د کوونکي او روزي ورسان صرف الله تعالیٰ دے نو د هغه نه خلاف کوونکي تکور روان دي چه د غیر الله نه په طمع دي او چه د الله تعالیٰ د دعا چټونه غواړي نو هغه سر روان دي او وار لګي به هغه مشرک به قیامت کښې هم تکور روان وي او موحد به سم روان وي ۱۲ ۱۲ ستلو نهم دلیل دے چه غوږونه او سترګې او زړونه غومره لوی برکت الله تعالیٰ تاسو لره درکړے دے ۱۲ ۱۲ ستلو د السم دلیل دے چه ستاسو وجود غومره لوی برکت دے دا هم صرف د الله تعالیٰ دے ۱۲

[illegible]

... او الله ته به ورټول کړی شئ.

إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾

او دوی وايي چې کله به وي دا وعده که تاسو رښتوني يئ -

قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ

ووايه يقينًا علم د الله سره دے او يقينًا زه ويروونکے يم ښکاره - نو هر کله چې ويني دوی

زُلْفَةً سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَقِيلَ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم

دغه عذاب نژدې نو به تور شي مخونه د کافرانو او به وويلے شي چې دا هغه عذاب دے چې تاسو

بِهِ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ

ورته غوښتو - او ووايه چې آيا ګورئ که هلاک کړي ما لره الله او هغه څوک چې زما سره دي يا

رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ الْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ

مهربان او کړي په مونږ نو څوک به امن ورکړي کافرانو له د عذاب سخت نه - او ووايه هغه

الرَّحْمَٰنُ آمَنَّا بِهِ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِي

به ډېر مهربان دے مونږ ايمان راوړے دے په هغه او په هغه مونږ توکل کړے دے نو تاسو به پوهه شئ چې څوک دے

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن

په ښکاره غلطۍ کښے - او ووايه چې آيا ګورئ که شي اوبه ستاسو اوچې نو څوک به

يَأْتِيكُم بِمَاءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾

راوړي تاسو ته اوبه جاري -

سُورَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثِنْتَانِ وَخَمْسُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(آيتونه ٥٢)	شروع په نوم د الله سره چې ډېر مهربان رحم کوونکے دے (اول د غوايم)	(رکوع ګانې ٢)

ن ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴿١﴾ مَا أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ﴿٢﴾

قسم دے په قلم او په هغه چې دوی ليکي - چې ته نه يې په سبب د مهربانۍ د رب ستا ليونے -

[Marginal notes:]

ف٢٤ ... هغه جواب دے چې وړاندې د قيامت د راتلو نه خبر يم چې کله به وي ... علم د الله سره دے زه خو صرف ويروونکے يم ... ف٢٥ د دوی تبليغ او لوظ يقيده ... ف٢٦ نو تاسو پکښے ... نيشتے ١٢ ف٢٧ د تبليغ دويمه طريقه ده چې د دوی يو لسم دليل عقلي دے چې که الله تعالى او به ختم کړي نو دا برکت به بيا څوک تاسو له راوړي - يو کافر او وے چې به کښو او ډيليو به او به را اوباسو نو د هغه د سترګو او به اوچې شوې او ړوند شو ١٢

ف٢٨ بعد العلق و قبل المزمل په ترتيب قرآن کښے (٦٨) او په نزول کښے (٢) دے - مقصد د سورت: دا دے مسئله چې برکات ورکوونکے صرف الله تعالى دے په دې سورت کښے بيا ... نه کوے بلکه صاف اعلان به کوے چې بل څوک برکت ورکوونکے نيشتے ١٢ ف٢٩ د مخالفين د زړه زور نه او د دعوى حق د پيغمبر تسلي ده ١٢ ف٣٠ تاريخ ګواه دے چې ستا شانخ صفا تو والا ليونے نه وي بلکه تا لره خو ډېر ثواب دے او ستا خو ډېر لوئے خوئ دے او دو چه به پته او لګي چې ليونے څوک دے (زمانه د) کافرانو به طعن لګاوه چې دے ليونے دے چې دا سے غلطے خبرے کوي او دے به خو يو دے نو الله تعالى هغوى ته جواب ورکړو ١٢

ف١: شاهد - قلم او هغه شے چې دوی ليکي ...

لے لوئے خوئے وا وصحبہ تعلق صرف د خپل مولا سره وی په ظاهر کښے خو د خلقو سره وی. خو باطن د هغه مرفوع تعلق وی او په خوئے وه طمع د مخلوق مدافع نه دښمنۍ وا د سورت مقصود وی له ګړے دا شخه وری خو عزت کوی خو چښتۀ نرمی

وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ۟ وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۟

او یقیناً تا لره ثواب دے چه نه ختمیږی — او یقیناً ته په خوئے لوئے یے.

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ۟ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۟ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ

نو اوس به ووینې ته او دوی به وینی دوی — چه څوک له تاسو کښے لیونے دے — یقیناً رب ستا ښه پوهه دے په

بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۪ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۟ فَلَا تُطِعِ

هغه چا چه غلط شو له لارے د الله نه — او هغه ښه پوهه دے په هدایت موندونکو باندے — نو خبره مه منه د

الْمُكَذِّبِيْنَ ۟ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ۟ وَلَا تُطِعْ كُلَّ

دروغجنو ګڼونکو — دوی غواړی چه ته نرمے وکړې نو دوی به هم نرم وی — او خبره مه منه د هر قسم

حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ۟ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيْمٍ ۟ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ

ګنو قسم کوونکي بے عزته — چه طعن کوونکے دے د چغلۍ په لاره — منع کوونکي د ښیګړے ظالم دے

اَثِيْمٍ ۟ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ ۟ اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ۟ؕ

ګناهګار دے — بد خویه سخت زړے دے سره د دے نه بد اصل دے — د دے وجه نه چه هغه مالدار او د ځامنو والا دے.

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۟ سَنَسِمُهٗ عَلَى

کله چه اولوستلے شی هغه ته آیتونه زمونږ نو وائی چه دا قیصے د مخکنو دی — زر به داغ اولګوو مونږ د هغه په

الْخُرْطُوْمِ ۟ اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ اِذْ اَقْسَمُوْا

پوزه باندے — زمونږ امتحان کړے دے د دوی لکه چه مو امتحان کړے وو د خاوندانو د باغ — کله چه هغوی قسم اوکړو

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ ۟ۙ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ۟ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآىِٕفٌ

چه میوه به د دے خامخا اوشکوو په صبا کښے — او دوی ان شاء الله نه وئیلو — نو راغے په دغه باغ باندے راتلونکے د

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآىِٕمُوْنَ ۟ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ۟ۙ فَتَنَادَوْا

رب ستا نه او دوی اوده وو — نو هغه شو لکه لو شوے — نو دوی آوازونه اوکړو یو بل ته

او نه کړے بلکه صاف املا اوکړه چه برکت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے — حسن بصریؒ فرمائی چه څوک زنده د بل خیر د رسول نو یقین اوکړه چه ستا په شان بلا رسول دے. مصعب ابن زبیر فرمائی چه د چغلو کوونکے نه د چغلی او ریدونکے ګناه ګار دے. ښکے کافر نو ځکه چه ایمان را وړل ګران شرم ورته وی نو الله تعالیٰ جواب کوی چه زر به کافر قران د شرم وو مونږ د ولید بن مغیره پوزه په بدر کښے زخمی شوے وه او لګوو هغه باقی وه ۞ شے د اوقعذاب د دنیا نو نه وه چه څوک د الله تعالیٰ حکم نه منی نو په دنیا کښے به هم په عذاب شی (قصه) نو نیک سرے وه د هغه یو باغ وه چه په وخت به شو نو د بے حقے به برخه کړه یو د غریبانو او یوه د مزدورانو او یوه به کور ته راوړه نو چه هغه مړ شو نو ځامن ئے بات شو نو اتفاق ئے اوکړو چه د باغ میوه مونږ به ټوله کور ته راوړو نو د شپے په باغ باندے آفت راغے او دوی محروم شو نو د لیسے په څوک د مولا نه خلاف کوی نو هغه به

محروم شی ۞ ښکے یعنی مشرکان د الله تعالیٰ نه په حاجت پوره کولو کښے پوره خو نه بنلو — د دے ترجمه تا لیفا د دستور الهٰی چه لُولا تسمعون: (بس ما نا ښکلیفن — د یسرا قرآن لِلْاَوَّلِيْنَ) یعنی ا وس مونږ شرک په بے حده و و مونږ ته ترجمه هم شي ۞

مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴿٢٢﴾

د سحر په وخت ۔ چې وختي لاړ شئ خپل فصل خپل ته که تاسو شوکوئ میوه ۔

فَانطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُم

نو لاړل دوی او دوی به پټ سره خبرې کولې ۔ چې را نه شي دې باغ ته نن تاسو ته هیڅ

مِّسْكِينٌ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا

غریب ۔ او وختي لاړل د بخل سره په طاقت کښې ۔ نو چې کله یې ولید دوی نو وئیل یې

لَضَالُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل

موږ لار ورکه شوي ۔ بلکه موږ محروم شوي (له باغه) او وې وئیل غوره د دوی آیا ما نه وو وئیلي

لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُوا سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٢٩﴾

تاسو ته چې تاسو ولې استغفار نه کوئ ۔ او وې وئیل پاک دی رب زموږ په رښتیا موږ وو ظالمان ۔

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَلَاوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا

